راتلونکی

# اسلامي نظام به څنګه وي؟

# مشر به ئې څوك وي؟

# څنګه به غوره کېږي؟

حکمتيار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټولونکی

# اسلامي نظام به څنګه وي؟

## مشر به ئې څوک وي؟

## څنګه به غوره کېږي؟

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

**عنوان** **صفحه**


سریزه ---------------------------------------------- ۱
اسلامي خلیفه به څنګه؟ او د چا له لوري غوره کېږي؟-------------- ۱۱
لومړی بنسټ: ---------------------------------------۱۲
دوهم بنسټ: -----------------------------------------۱۳
درېیم بنسټ:-----------------------------------------۱۵
اهل الحل و العقد -------------------------------------۱۹
آیا د مشر لپاره موده ټاکل جائز دي؟----------------------۲۵
د مشر لپاره القاب ------------------------------------۲۹
د مشر مواصفات -------------------------------------۳۰
اسلامي شوری ---------------------------------------۳۷
آیا امیر یا خلیفه د شوری د پرېکړو په مراعات مکلف دئ؟---------- ۴۰
آیا قرآن کافي او بشپړ نه دئ؟----------------------------۵۵
آیا د امیر تر څنګ د صدراعظم ټاکل صحیح دي؟ ----------------- ۷۷
موږ څنګه نظام غواړو؟---------------------------------۸۵
اسلامي نظام که غربي جمهوریت؟ ------------------------۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library
ناسم تعبير د غلطي ادعاء بنسټ ------------------------------- ۱۰۱
د اسلامي خليفه او امير اطاعت------------------------------- ۱۰۶
په يوه وخت کې له دوو خلفاوو سره بيعت ------------------- ۱۰۸
د خليفه او امير عزلول ------------------------------------- ۱۱۳
متغلب څوک دئ؟ ------------------------------------------- ۱۱۹
د مسلمانانو وژل په کومو حالتونو کې روا دي؟----------------- ۱۲۴
دا پوښتنه چې پرون رباني متغلب وو؟------------------------ ۱۲۶
په قرآن کي د مشر او قائد مواصفات------------------------- ۱۲۹
۱ـ امانت------------------------------------------------ ۱۳۰
۲ ـ کفائت---------------------------------------------- ۱۳۲
۳ ـ علم ----------------------------------------------- ۱۳۵
۴ ـ قائد بايد د ولس لپاره قدوه او بېلگه وي ------------------ ۱۳۷
۵ ـ يوازي له الله تعالى د اجر او بدلې طمعه ------------------- ۱۳۹
۶ ـ توکل ---------------------------------------------- ۱۴۶
۷ ـ شجاعت -------------------------------------------- ۱۴۹
۸ ـ د الله تعالى په لار کي د اذيتونو گالل ---------------------- ۱۵۲
۹ ـ د خلکو د هدايت تلوسه او د ملگرو په اړه زړه سوی: --------- ۱۵۴
۱۰ـ حساس ضمير ---------------------------------------- ۱۵۶
۱۱ـ فصاحت -------------------------------------------- ۱۵۹
تتمه ------------------------------------------------- ۱۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

د اسلامي نظام په اړه څو ابتدايي پوښتني چي له هر مسلمان او غیر مسلمان سره شته؛ دا دي:

مشر به ئې څوک وي؟ مواصفات به ئې څه وي؟ د چا له لوري او د څومره مودې لپاره به غوره کېږي؟ صلاحیتونه ئې کوم، مسئولیتونه ئې کوم او امتیازات ئې کوم دي؟

د عزل موجبات ئې کوم دي؟ د عزلولو صلاحیت ئې چا ته سپارل شوی؟ که خلک هغه د مشرۍ وړ ونه مومي او عزلول ئې وغواړي څنګه به ئې عزلوي، څوک به ئې د عزلولو پرېکړه کوي؟

آیا په دې نظام کي شوری شته که نه؟ شوری به څنګه جوړېږي؟ غړي به ئې د چا له لوري غوره کېږي؟ دا شوری د ولس استازیتوب کوي که غړي ئې د مشر مشاورین دي چي په خپله خوښه ئې غوره کوي؟ آیا د شوری پرېکړي ملزمي دي او مشر د هغوی په وړاندي مکلف دئ او مخالفت ئې نشي کولی؟ که ئې پرېکړي غیرملزمي دي او د مشر توافق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښي ته پرېښودل شوې؟

آیا په اسلامي نظام کي انتخابات شته؟ آیا انتخابات د بیعت بدیل ګڼلی شو؟ آیا مشر د عام بیعت له لاري ټاکل کېږي که هغه د خواصو له لوري او له نورو لارو غوره کېږي او عام ولس له هغه سره په بیعت کولو مکلف دئ؟

آیا د زور او ځواک په کارولو سره قدرت ترلاسه کول جائز دي؟ آیا په زور قدرت ته رسېدلی واکمن شرعي امیر ګڼلی شو؟ آیا د ده اطاعت واجب دئ او مخالفت ئې ناروا؟

دا پوښتني باید ځواب شي، ټول هغه خلک باید دې پوښتنو ته واحد ځواب ولري چي په افغانستان کي د یوه واقعي اسلامي نظام قائمول ئې د ژوند او جهاد ستره موخه او هدف دئ. دغو پوښتنو ته د ځواب په موخه د حزب اسلامي له لوري د اسلامي دولت اساسي قانون خپور شو او په هغه کي دغو پوښتنو ته په ایجاز او اختصار سره ځواب وویل شو، د اساسي قانون ترڅنګ د (کوم اساسي قانون د منلو وړ دئ؛ د طالبانو که د اوسني حکومت؟) په نامه یوه وړه رساله هم خپره شوه؛ د دې لپاره چي د دغو قوانینو هغو برخو ته د افغان خدای پال ولس توجه معطوف کړو چي هم له اسلام سره مغایرت لري او هم د روان بحران د ختمولو په ځای مزید ستونزي راولاړوي. انتظار دا وو چي طالبان او د کابل چارواکي به عکس العمل ښیي او د دې رسالې مضبوطو او پر قرآن او سنت ولاړو دلایلو ته به د ځواب موندلو هڅه کوي، د کابل چارواکو او د دوی بهرنیو حامیانو خو وویل چي له مخالفینو سره په دې شرط خبري کېدی شي چي د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي قانون ومني، وسله تسليم کړي او له جګړې لاس واخلي او د طالبانو له لوري نږدې يو کال وروسته يوه رساله خپره شوه چې د ښاغلي ليکوال مستعار نوم ئې محمدايوب همدرد دئ، ويل کېږي چې د طالبانو د اساسي قانون مسوده هم د ده له لوري ليکل شوې، نو ځکه له هغه نه د دفاع لپاره ئې د دې رسالې د ليکلو زحمت هم قبول کړی. ما په شوق سره پرانيسته، په دې موخه چې وګورم طالبان د خپل اساسي قانون له هغو برخو څنګه دفاع کوي چې نيوکي پرې کېږي او د قرآن او سنت خلاف ګڼل کېږي. که څه هم ځينو خلکو ته په دې موضوع بحث له وخته مخکي بريښي او ځيني ئې د اختلاف باعث ګڼي خو حقيقت دا دئ چې دا بحث د اوس مهال تر ټولو ضروري او مهم بحث دئ، ترڅو چې د هېواد د راتلونکي اسلامي نظام د څرنګوالي په اړه د ټولو مؤثرو اړخونو او لږ تر لږه د مجاهدينو توافق نه وي راغلی نه يووالی او وحدت راتلی شي او نه د احتمالي نښتو او منازعاتو مخه نيول کېدی شي. په داسي حال کي چې د کابل د امريکايي حکومت چارواکي او د دوی بهرني حاميان وايي چې د دولت له مخالفينو سره په هغه صورت کي خبري کېدی شي چې اساسي قانون ومني او طالبان هم له خلکو غواړي چې د دوی اساسي قانون ومني او د دوی مشر د شرعي او دائم العمر امير په توګه قبول کړي؛ څنګه کولی شو پر دې موضوع بحث غيرضروري وګڼو او پر دغو اساسي مسائلو سترګي پټي کړو او ترې تېر شو؟!! دا ډېر مناسب او د وخت له غوښتنو سره مطابق کار وو چې د حزب اسلامي له لوري د اسلامي دولت اساسي قانون ولس ته وړاندي شو، افغان ولس ته په عامه توګه او مجاهدينو ته په خاصه توګه ضروري دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په دې اړه واضح موقف غوره کړي، دا ځکه چي نه يوازي د روان جنگ پايلي په دې موضوع پوري تړلې دي بلکه د دوی او د هېواد راتلونکې او برخليک ورپوري تړلی دئ. د همدې لپاره د اسلامي دولت د اساسي قانون او د طالبانو او اوسني حکومت د قوانينو تر منځ د مقايسې په توگه هغه رساله خپره شوه، په کار وه چي موافق او مخالف لوري پر دې موضوع داسي ژوري څېړني کړې وی چي په ترڅ کي ئې د يوه واقعي، جامع او پر قرآن او سنت مبتني اساسي قانون رامنځته کېدو او پر هغه د ټولو مخلصو اسلام غوښتونکو لوريو د توافق لپاره لار آواره شي.

که څه هم ښاغلي محمد ايوب همدرد په خپلي رسالې کي يوازي دا هڅه کړې چي د امارت اسلامي پر اساسي قانون هغو اعتراضونو ته ځواب ووايي چي د حزب اسلامي له لوري خپرې شوې رسالې کي ورته گوته نيول شوې، خو موږ ئې د دې هڅي قدر کوو؛ له نورو درنو ليکوالانو، علماوو او د نظر له خاوندانو نه دا هيله کوو چي دې لوري ته پام واړوي او د غيرضروري بحثونو پر ځای دا موضوع وڅېړي؛ خو نه د اختلاف راولاړولو او تشديد لپاره، نه د ړوند تعصب په حکم او نه د کينې او رخې په وجه، بلکي د ډاډمن وحدت په طمعه، د ټولو هغو جگړو او نښتو د مخنيوي په هيله چي پر دغي اساسي مسئلې د اختلاف په سبب راولاړې شوې او راولاړېږي.

د همدرد صاحب په رسالې کي څو د پام او بحث وړ خبري مومو چي ليکوال پرې تر کيز کړی:

- امير د اهل حل و عقد له لوري ټاکل کېږي نه د عام ولس په خوښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د امارت لپاره موده ټاکل جائز نه دي!!
- امیر د شورئ په وړاندي دا مکلفیت نه لري چي د اکثریت رأیي ته به درناوئ کوي او هغه به وروستۍ پرېکړه گڼي بلکي د شورئ د غړو آراء به اوري او پرېکړه به دی په خپله کوي!!
- د امیر ترڅنگ صدراعظم درلودل نه یوازي جائز دي بلکي د خلافت عامه په دور کي دا کار شوئ او ځینو خلفاوو دا کار کړئ!!
- د قرآن الفاظ محدود دي او قضایا بې حده ډېر، نو ځکه مجبورېږو چي د نویو نویو قضایاوو په اړه نوې نوې پرېکړي وکړو!!
- د نظام د څرنگوالي په اړه پرېکړه او خاص نوم ورته غوره کول؛ مسلمانانو ته پرېښودل شوي چي د خپلو شرایطو مطابق به په دې اړه مناسب تصمیم نیسي!!

لیکوال د خپلي رسالې په سریزه کي لیکلي چي له یوې مودې ئې غوښتل د اسلامي نظام د څرنگوالي او په دې پوري اړوند پورتنیو مسایلو څه ولیکي، دا ځکه چي مخکنیو علماوو او محققینو په دې اړه تفصیلي بحث نه دئ کړی، خو ناڅاپي د حکمتیار صاحب هغه وړه رساله په لاس راغله چي عنوان ئې دا دئ: کوم اساسي قانون د منلو وړ دئ؛ د طالبانو که د کابل د اوسني حکومت؟، د دې رسالې په لوستلو سره ئې پرېکړه کړې چي همدا اوس په دې اړه خپل مخکنی تصمیم عملي کړي او څه ولیکي. له دې نه معلومېږي چي دا لیکنه ئې د اسلامي امارت په امر او دستور نه ده لیکلې، حال دا چي د رسالې له عنوانه هر لوستونکی دا انتباه اخلي چي دا کار ئې د اسلامي امارت په امر کړی. دا ځکه چي محترم لیکوال د خپلي رسالې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نوم غوره کړی:

د افغانستان اسلامي امارت په دستور:

د حکمتیار د نیوکو

علمي څېړنه

د دې عنوان په لیدو سره هر لوستونکی دا گمان کوي چي ښایي لیکوال به دا رساله د افغانستان د اسلامي امارت په دستور (امر) لیکلې وي؟! خو کله چي رساله ولولي نو پوهېږي چي خبره داسي نه ده بلکي هغه د افغانستان اسلامي امارت پر دستور (قانون) د حکمتیار نیوکي څېړلې دي؟! (په دستور) یوه معنی لري او (پر دستور) بله معنی لري، لیکوال غوښتي چي د خپلي رسالې لپاره داسي نوم غوره کړي چي وښیي د اسلامي امارت پر اساسي قانون ئې د حکمتیار نیوکي په علمي توگه څېړلې دي خو اشتباهاً ئې داسي الفاظ غوره کړي چي دا معنی نه افاده کوي. همداراز هغه په عنوان کي له دستور نه وروسته دا (:) علامه راوړې؟ دا علامه په هغه ځای کي کارول کېږي چي د مخکني مطلب شرحه ورپسې وي! نه پوهېږو چي دلته ئې له راوړو نه د لیکوال مقصد څه دئ!!

که څه هم داسي ټکیو ته گوته نیول ضروري نه وو خو د دې لپاره مو اشاره ورته وکړه چي لوستونکي متوجه کړو چي که د یوې رسالې په عنوان کي دومره ستونزي وي نو په متن کي به ئې څومره وي؟!!

حقیقت دا دئ چي ځیني خلک هم د خپل مطلب په افادې او بیانولو کي ستونزي لري او هم د بل د وینا په مطلب پوهېدو کي، نه د خپل زړه خبره په داسي الفاظو کولی شي چي بل پرې سم او ژر پوه کړي او نه د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره سم تعبیرولی شي، څوک چي د خپل زړه ترجماني په دقیقه توګه نشي کولی نو د بل خبره مخصوصاً د الله تعالی او د هغه د پیغمبر وینا به څنګه په دقیقه توګه تعبیر او تفسیر کړی شي؟!!

د دې لپاره چي زموږ په ټولني کي ځیني خلک د دغو قضایاوو په اړه د همدرد صاحب په څېر انګېرني لري، ځینو ته خو خپل تصورات داسي بربښي چي ښایي سل په سلو کي به د اسلامي شریعت مطابق وي او ځیني خو لا داسي دي چي د خپلو دغو تصوراتو خلاف د هیڅ خبري اورېدو ته هم چمتو نه دي، هغه څوک ورته په څلورو کتابونو له اسلامه وتلی بربښي چي په دې اړه د دوی په څېر فکر نه کوي، وجه ئې له علمي پلوه کمزوري او له قرآن او سنت نه د دوی بې خبري ده، دغو ترخو حقایقو ته په پام سره پر دغو مهمو قضایاوو بحث ضروري دئ، د علم او قلم خاوندان باید راوړاندي شي او دا تشه ډکه کړي، په ځانګړې توګه په دې حساس پړاو کي چي موږ د حاکم امریکایي نظام د نړولو او پر ځای ئې د یوه واقعي اسلامي نظام د قائمولو لپاره ملا تړلې او هغه ورځې رانږدې شوې چي إن شاء الله بهرني ځواکونه به وځي او مجاهدین به د اسلامي نظام د جوړولو موقع ترلاسه کوي.

زه د نوموړې رسالې عنوانو او موضوعاتو ته په پام سره د دوی او د ټولو هغو افغانانو پوښتنو او تشویشونو ته د ځواب موندلو هڅه کوم چي د اسلامي نظام په اړه ئې انګېرني دغه محترم لیکوال ته ورته دي، هدف او هیله مي دا ده چي ټول مجاهدین د اسلامي نظام د څرنګوالي په اړه خپل اختلافات حل کړي، په یوه داسي واحد او متفق علیه نظر توافق وکړي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library
د قرآن او سنت له غوښتنو او لارښوونو سره په بشپړه توګه مطابقت ولري، نه له شخصي سليقو راولاړ شوی وی او نه پر مذهبي، قومي او حزبي تعصباتو ولاړ وي. ليکوال او لوستونکو ته ډاډ ورکوم چي د مسلمانانو له يووالي او د حقيقي اسلامي نظام په څرنګوالي د مجاهدينو له فکري او عملي وحدت نه پرته بله موخه او غرض نه لرم. زه له هغو ورونو سره په بشپړه توګه متفق يم چي اوس بايد ټوله توجه اصلي دښمن ته واړوو، په فرعي قضاياوو کي خپل وخت او فرصتونه او امکانات ضايع نه کړو، له هغو بحثونو ډډه وکړو چي د مجاهدينو په ليکو کي اختلافات زېږوي، خو د ليکوال له دې خبري سره موافق نه يم چي ليکلي ئې دي: په دغو قضاياوو بحث داسي دئ لکه چي "د بخت نصر د حملې په مهال د يهودو دا بحث چي ويل ئې د حضرت عيسی (عليه السلام) .... پاک وو که ناپاک؟ او يا د تاتاريانو د يرغل په وخت کي د بغداد په لارو او کوڅو کي د مسلمانانو دا بحثونه چي حضرت علی غوره دی که حضرت معاويه؟"، دا مقايسه په هغه صورت کي صحيح ګڼل کېدی شوی چي بحث د تېري زمانې په داسي فرعي قضاياوو باندي وی چي د يهودو او د عراق په کوڅو کي د عراقيانو بحثونو ته ورته وی، حال دا چي موږ په داسي مهمي قضيې بحث کوو چي زموږ يووالی او زموږ د جهاد برخليک ورپوري تړلی دئ، ښايي لږ افغانان به داسي وي چي خبر نه دي د حزب اسلامي له لوري د يووالي او يوې داسي متحدي اسلامي جبهې د جوړولو لپاره چي ټول مجاهد، خدای پال او وطنپال افغانان په کي راغونډ شي، د دښمن په ضد او د راتلونکي افغانستان په اړه ئې دريځ يو وي، څومره هلي ځلي شوې، خو د دې لپاره ئې نتيجه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلوده چې ځينو لوريو ته خپلي حزبي تګلاري، ګټي، پرېکړي، بيعت، امارت، دستور او ... ارزښت درلود، يوازي داسي يووالى مني چې نور د دوى په ډلي کي شامل شي، دې ته چمتو نه وو چې د راتلونکي اسلامي نظام د څرنګوالي او د هغه د اساسي قانون او سياستونو په اړه دي يوه معتبره، متحده او لويه اسلامي شورى تصميم ونيسي. تاسو ووايئ: په هغه صورت کي به يووالى او وحدت څنګه راځي چې يو لورى وايي: د خواصو له لوري د امير ټاکنه صحيح نه ده او هيڅ شرعي مبناء نه لري، خو بل ورته د واجب په سترګه ګوري او ادعاء کوي چې د دوى امير د اهل حل و عقد له لوري ټاکل شوى؛ پر ټولو واجبه ده چې له دې امير سره به بيعت کوي!! يو وايي چې د امير لپاره موده ټاکل ضروري او مفيد ده او د هغو فتنو د تکرار مخه نيسي چې د عثمان او علي رضى الله عنهما په شهادت منتج شوې، خو بل وايي چې امير بايد دائم العمر امير وي او موده ورته ټاکل حرام دي!! يو وايي د شورى رأيه ملزِمه ده او په دې عقيده دئ چې امير د ولس له معتمدو استازو سره په شورى مکلف دئ او د اکثريت پرېکړي ته به هرومرو غاړه ږدي او خپله رأيه به پر نورو نه تحميلوي، خو بل وايي چې امير کولى شي ځان ته د خپلي خوښي شورى جوړه کړي، د هغوى رأيه ځان ته معلومه کړي خو پر دې مکلف نه دئ چې د اکثريت رأيه به مني؛ بلکي په خپله خوښه به وروستى پرېکړه کوي، که يو په دې عقيده وي چې امير کولى شي خپل ځاى ناستى وټاکى او بل په دې باور وي چې د وصيت په اړه د دې دوست انتباه غلطه ده، نه پيغمبر عليه السلام ځاى ناستى ټاکلى او نه راشدينو خلفاوو، ابوبکر رضى الله عنه او عمر رضى الله عنه خپل ځاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناستي نه دي ټاکلي بلکي د امارت لپاره ئې مناسب شخصيتونه نومولي، د دوی په اړه وروستۍ پرېکړه په جومات کي او د مسلمانانو په اتفاق شوې، له بيعت نه وروسته اميران شوي، نه فقط د دوی له لوري په نومولو سره، يو وايي چي بيعت د امارت لپاره شرط دئ، يوازي د بيعت په نتيجه کي څوک امير کېدی شي، نه دا چي يو څوک به له نورو لارو امير کېږي او بيا به خلک د بيعت مراسم ترسره کوي!! خو بل وايي چي لومړی امير ټاکل کېږي او بيا د بيعت مراسم ترسره کېږي، بيعت د امارت لپاره د شرط په توګه نه بلکي د خلکو د واجب په توګه ئې وړاندي کوي .... آيا له داسي ژور اختلاف سره سره به د يووالي هيله څنګه ترسره کېږي؟! آيا له دې پرته بله چاره لرو چي لومړی دا اختلاف پای ته ورسوو، يو بل ته د وروری لاس ورکړو او بيا په ګډه مخکي ولاړ شو؟!!

زه د ليکوال د رسالې د عنوانونو ترتيب ته له پامه پرته؛ هر عنوان په بېله توګه څېړم، هغه تر نورو رامخکي کوم چي ليکوال ته تر ټولو علمي بحث بر ښنسېدلی او له کوم آيت او حديث نه ئې هم د هغه په ګټه د خپلي خوښي تعبير او تفسير وړاندي کړی.

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي خليفه به څنګه؟ او د چا له لوري غوره کېږي؟

ليکوال تر پورتني عنوان لاندي له يوې خوا داسي ليکي: په دې باب د اسلامي امت د وړاندينو اسلافو او مجتهدينو کړې هڅي بس دي، هغوی په لوړ علمي ديانت او ايمانداری سره اسلامي شريعت د تعبير او تشريح ډګر بشپړ کړی. کومي نوې تشريح ته او تعبير ته اړتيا نشته!! او له بلي خوا بيا د شاه ولي الله رحمه الله په رأيي استناد کوي او ليکي چي هغه د اسلامي خليفه د ټاکلو څلور طريقې په ګوته کړې دي!! مخکي له دې چي دا طرحي وڅېړو جناب ته څو عرايض لرو:

- تا خو د خپلي رسالې په مقدمه کي ليکلي دي چي د مخکنيو علماوو هڅي کافي نه دي، تشريح ته ضرورت لري نو ځکه تا د دغي رسالې د ليکلو زحمت ايستلی!! اوس څنګه ليکې چي د دوی هڅي بس دي او تشريح او تعبير ته ضرورت نشته؟! مخکنۍ خبره دي هېره کړې او که دا چي غواړې ووايي: تا او ستا په څېر کسانو ته دا کار جائز دي او نورو ته نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستا استادانو خو د اجتهاد لړۍ د شاه ولي الله رحمه الله تر دورانه ړېر د مخه ختمه ګڼلې، ته څنګه شاه ولي الله د داسي مجتهدينو په لړ کي نيسې چي رأيه ئې بشپړه ده، شريعت ئې بشپړ کړی او تر ده وروسته هيڅا ته د دې حق نشته چي د ده د آراوو په اړه څه ووايي؟!
- راشه چي ستا هغه څلور (بنسټونه) واقعاً په علمي توګه وڅېړو چي د اسلامي خليفه انتخاب دي په هغوی کي منحصر کړی!

## لومړی بنسټ:

د اهل الحل و العقد له لوري د خليفه ټاکنه:

دا خبره کاملاً بې بنسټه او بې دليله ادعاء ده چي ابوبکر رضی الله عنه د اهل حل و عقد لخوا غوره شوی، دا ادعاء يوازي په هغه صورت کي د منلو وړ وه چي د صحابه څو محدود مشران، په داسي ځای کي راغونډ شوي وی چي عامو خلکو ته د ورتلو او څه ويلو اجازه نه وه او د دوی له لوري ابوبکر رضی الله عنه انتخاب شوی وی!! حال دا چي خبره کاملاً د دې عکس ده، د سقيفه بني ساعده په داسي عامي غونډې کي د خليفه د انتخاب په اړه بحث شوی چي هر چا په کي برخه اخيستی شوه، ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم ډېر وروسته ورغلي، علي رضی الله عنه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د غسل او تکفين په چارو مصروف وو، د غونډي اکثريت برخه وال انصار او په ځانګړې توګه خزرجيان ول، لږو مهاجرينو په کي برخه اخيستې وه، په هغي غونډي کي د خليفه د تعيين په اړه بېل بېل نظريات وړاندي شوي، په پای کي د غونډي برخه والو د ابوبکر رضی الله عنه په خلافت توافق کړی، خو هغه د دې غونډې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

توافق له مخي د خليفه په توګه نه دئ ټاکل شوی، بلکي هغه مهال د خليفه په توګه غوره شو چي خلکو په جومات کي له ده سره بيعت وکړ، نه په سقيفه بني ساعده کي خاص مشران د اهل حل و عقد په نامه راغونډ شوي او نه په جومات کي، څوک چي د ابوبکر رضی الله عنه انتخاب د اهل حل و عقد له لوري ګڼي بې بنسټه، غيرعلمي او د حقايقو خلاف ادعاء کوي، ډېره عجيبه ده چي څوک په جومات کي د يوه چا انتخاب ته د اهل حل و عقد له لوري د انتخاب نوم ورکوي!! مونږ خو د ابوبکر رضی الله عنه د انتخاب څرنګوالي ته په پام سره وايو چي د امير انتخاب بايد په جومات کي وي نه د تړلو دروازو تر شا، بايد د ټولو هغو مسلمانانو په خوښه وي چي جومات ته تلی شي نه د څو کسانو له لوري، د معلن او غير مکره بيعت په نتيجه کي به امير کېږي نه له بيعت نه مخکي يا له بيعت نه پرته.

دا جنابان دي هغه روايت هم په پام کي ولري چي وايي: ابوبکر رضی الله عنه تر هغه ځان خليفه ونه ګڼلو چي د يمن خلکو هم خپل بيعت ورته راولېږو.

### دوهم بنسټ:

دا چي موجود خليفه راتلونکی خليفه ونوموي:

په دې کي شک نشته چي ابوبکر رضی الله عنه له ډېرو جليل القدره صحابه وو سره له مشورو وروسته او د دوی د تشويشونو له رفعه کولو او قناعت ترلاسه کولو وروسته مسلمانانو ته وصيت او سپارښتنه وکړه چي عمر رضی الله عنه د خليفه په توګه غوره کړي، خو پوښتنه دا ده چي عمر رضی الله عنه له همدې سپارښتني نه وروسته د خليفه په توګه غوره شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library
که په جومات کې د ټولو حاضرو مسلمانانو له بیعت نه وروسته؟! حقیقت دا دئ چي د ابوبکر رضی الله عنه سپارښتنه او وصیت ملزمه او واجبي سپارښتنه نه وه، عمر رضی الله عنه د دې سپارښتني په اساس نه دئ خلیفه شوی بلکي له هغه وروسته امیر شو چي د خلکو بیعت ئې ترلاسه کړ، د ابوبکر رضي الله عنه لخوا څخه د ده انتخاب یوازي یو وړاندیز وو، هغه ولس ته د عمر رضي الله عنه د غوره کولو وړاندیز وکړ، خلکو دا وړاندیز قبول کړ، عمر رضی الله عنه ئې د خلافت لپاره تر ټولو غوره وګڼلو او په خپله خوښه ئې له هغه سره بیعت وکړ او له همدې بیعت نه وروسته هغه د مسلمانانو خلیفه شو. څوک چي له دې نه پرته بل تعبیر وړاندي کوي څو پوښتني ترې لرو: که بالفرض محال ابوبکر رضی الله عنه خپل زوی ځای ناستی ټاکلی وی او مسلمانانو له هغه سره بیعت نه وی کړی او تر هغه ئې عمر رضی الله عنه غوره ګڼلی وی او له ده سره ئې بیعت کړی وی نو کوم یو به شرعي او قانوني خلیفه وو؟ که احیاناً عمر رضی الله عنه په جومات کي داسي څه ویلي وی چي مسلمانان ترې ناراضه شوي وی او له ده سره ئې بیعت نه وی کړی موږ ته ووایئ چي له دې سره سره به عمر رضی الله عنه قانوني او شرعي خلیفه وو؟ که ستاسو دا ادعاء ومنو نو بیا خو به یزید ته هم د قانوني او شرعي خلیفه په سترګه ګورو ځکه چي د موجود امیر لخوا انتصاب شوی وو!! بیا به د هغو صحابه وو دا موقف څنګه توجیه کوو چي له یزید سره ئې بیعت ونه کړ؟! آیا دوی د بیعت نه کولو حق درلود؟ که دا منې بیا خو بیعت کول د خلکو حق دئ، دوی حق لري چي د نومول شوي کس اهلیت ته په پام سره پرېکړه وکړي، عمر رضی الله عنه ئې اهل

(c) ketabton.com: The Digital Library
ګڼلی بیعت ئې ورسره وکړ او چا چي یزید نااهله ګڼلی له بیعت نه ئې ډډه کړې، په دې کار سره ئې ګناه نه بلکي د ثواب کار کړی!! که داسي نه وي نو بیا به د حسین رضی الله عنه په اړه څه وایو چي له بیعت نه ئې ډډه وکړه، شهادت ئې قبول کړ خو د یزید په لاس بیعت ته تیار نشو؟!! د دې معنی خو دا ده چي یو کس هغه مهال د موجود امیر له لوري د سپارښتني په نتیجه کي شرعي امیر کېدی شي چي: ۱-د خلافت اهل وي او ۲- خلک ورسره بیعت وکړي.

**دریم بنسټ:**

موجود خلیفه یوه داسي ډله غوره کړي چي د دوی له منځه به یو کس د امیر په توګه غوره کېږي.

په دې اړه لاندي وضاحت ضروري ګڼو:

د عمر رضي الله عنه له ټپي کېدو وروسته او له شهادت نه مخکي ځینو صحابه وو ترې وغوښتل چي د مسلمانانو لپاره خلیفه وټاکي، هغه په ځواب کي ورته وویل: که زه څوک ونه ټاکم او لاړ شم نو د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چي تر ما غوره وو (یعني رسول الله صلی الله علیه و سلم) او که ئې وټاکم د هغه چا په سنت به مي عمل کړی وي چي هغه هم تر ما غوره وو (یعني ابوبکر رضی الله عنه)، إراده ئې دا وه چي څوک ونه نوموي، خو د نورو د اصرار په وجه ئې هغه شپږ کسان ونومول چي د خلافت لپاره تر نورو غوره او هر یوه ډېر پلویان درلودل، خپل زوی ته ئې هم وویل چي په دې ډلي کي برخه واخلي خو د امیر کېدو حق به نه لري، دوی ته ئې وویل چي له خپل منځ نه په یوه کس توافق وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا دغه کس د بیعت لپاره ولس ته معرفي کړي. له دغو شپږو کسانو نه درې د دریو نورو په گټه تېر شول، په پاته دریو کې عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه په دې شرط تنازل وکړ چې د پاته دوو په اړه به ده ته د پرېکړې صلاحیت ورکول کېږي، ده د عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه په هکله د مدینې له خلکو نه؛ د ښځو په شمول؛ تر درېو ورځو مسلسل پوښتني وکړې، د دوی رأیه ئې ځان ته معلومه کړه، په جومات کې ئې دا خبره اعلان کړه چې د مدینې ډېری خلک د عثمان رضي الله عنه په امارت راضي دي، زه له دوی دواړو نه تاسو ته عثمان رضي الله عنه غوره کوم، خلکو توافق وکړ، بیعت ترسره شو او له دې وروسته عثمان رضي الله عنه خلیفه شو.

له دې بهیر نه چې کومې نتیجې ترلاسه کېدی شي نو هغه دا دي:

- که د امارت لپاره تر یوه نه زیات مستحق کسان موجود ول او هر یوه ئې یو شمېر پلویان درلودل او هغه ئې د امارت لپاره تر نورو غوره گڼلو، د دوی له منځ نه د یوه انتخاب به داسې ترسره کېږي لکه د عثمان رضی الله عنه انتخاب، یا به د کاندیدانو تر منځ د توافق او په یوه کس د اتفاق کولو له لارې ستونزه حل کوو او یا به له خلکو پوښتنه کوو او هغه څوک به راوړاندې کوو چې د مسلمانانو ډېری ئې تر نورو غوره گڼي.
- خو نه د کاندیدانو خپلمنځي توافق کافي دئ او نه د هیئت له لوري د اکثریت رأیه معلومول او د یوه کس نومول، بلکې وروستۍ پرېکړه به په جومات کې او د عامو مسلمانانو په خوښه او توافق کېږي.
- له دې نه معلومېږي چې د (نومولو) او (ټاکلو) تر منځ فرق دئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومول شوي کېدی شي تر یوه زیات وي خو د دوی له منځه د یوه ټاکل به د مسلمانانو په خوښه، په معلني غونډي کي او له بیعت نه وروسته ترسره کېږي.

د عثمان رضی الله عنه له شهادت نه وروسته ځیني خلک علي رضی الله عنه ته ورغلل چي بیعت ورسره وکړي؛ هغه په ځواب کي ورته وویل: دا د ټولو مسلمانانو په توافق او خوښي پوري مربوط دئ او پرېکړه ئې باید په جومات کي وشي. همداسي وشول، علي رضي الله عنه په جومات کي او له بیعت نه وروسته خلیفه شو.

دا بهیر مونږ ته ښیي چي بیعت د امارت لپاره شرط دئ، یوازي له بیعت نه وروسته څوک امیر کېدی شي نه له بیعت نه مخکي. له دې بهیر نه دا هم معلومېږي چي بیعت ښرگند کار دئ نه پټ، د عامو خلکو کار دئ نه د خاصو، په جومات کي تر سره شوی نه په کوم قصر کي، ټول هغه خلک په کي برخه اخیستی شي چي جومات ته ئې په راتلو بندیز نشته.

## څلورم بنسټ: استیلاء:

لیکوال تر دې عنوان لاندي لیکي: یو داسي تن چي هغه د خلافت د شرایطو درلودونکی (جامع) وي هغه پر خلکو غلبه ومومي او پر واک قبضه ټینگه کړي، نو په دې توگه هم خلافت جوړېږي، د راشدینو خلفاوو څخه وروسته د ټولو خلفاوو خلافتونه په دې توگه منعقد شوي!!

د محترم لیکوال په ځواب کي باید ووایو:

- دا ډېره د حیرانتیا خبره ده چي تاسو هغه چا ته د (خلیفه) نوم ورکوئ چي پیغمبر علیه السلام د (ملک) نوم ورکړی، هغه چي په زور

(c) ketabton.com: The Digital Library
مسلط شوي، امارت ئې په میراث ترلاسه کړی، په جومات کې نه بلکې په قصرونو کې امیران شوي.

- له کومو لارو چې دا امراء واک ته رسېدلي یوه ئې هم شرعي لار نه وه.
- د امیرالمؤمنین علي رضی الله عنه په ضد قیام او د هغه شهادت ته جائز او شرعي بڼه ورکول لوی جسارت دئ.
- که استیلاء جائز وګڼو بیا خو به د داسې فتنو لپاره لار پرانېزو چې د عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه په شهادت منتج شوې.
- د نېک او صالح انسان هغه کار د تقلید او تأیید وړ دئ چې د شریعت مطابق وي، د صحابه وو رضی الله عنهم په خپلمنځیو جګړو او د یزید په څېر امراوو ټاکنې باندې استناد کول او دې ته ورته کارونه جائز ګڼل ستره اشتباه ده، هیڅ عالم او فقیه داسې غلطه خبره نه کوي.

عجیبه دا ده چې لیکوال تر همدې عنوان لاندې او څو سطره وروسته د مولانا محمد تقي عثماني دا اقوال رانقلوي: ... **خلافت** میراث نه دئ لکه څنګه چې په امپراطوریو کې دود دئ، او نه **خلافت** د عسکري ځواک په مټ ولاړو دیکتاتوریو په څېر بڼه لري... نه پوهېږو چې دا خبري او مخکنۍ څنګه سره تلفیقوي؟!! تقي عثماني صاحب خو نه میراثي **خلافت** مني او دې ته د **خلافت** په ځای د امپراطوري نوم ورکوي او نه په عسکري ځواک ترلاسه شوی **خلافت** مني!! خو لیکوال څو سطره مخکې دا دواړه امارتونه جائز او شرعي ګڼلي او د **خلافت** نوم ئې ورکړی!! نه پوهېږو چې آیا دې ته نه دئ متوجه شوی چې د (استیلاء) معنی همغه ده چې تقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثماني ئي (د عسکري ځواک په مټ ولاړه واکمني) بولي او که کومه بله وجه لري؟!!

## اهل الحل و العقد

لیکوال د اهل الحل و العقد تر عنوان لاندي لیکي:

"د خلیفه او امیر د ټاکلو لپاره په شریعت کي څلور لاري شتون لري:

لومړی لاره دا ده چي خلیفه د اهل الحل و العقد د څښتنانو، یعني د علماوو، قبایلي مشرانو، د نظامي او پوځي چارواکو له لوري په بیعت کولو سره تعین او غوره کېږي، څنګه چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه شو"

د دې ادعاء په ځواب کي وایو:

- په اسلام کي خو د امیر د ټاکلو یوازي یوه لار ده، او هغه څرګند او له اکراه او جبر نه پرته د مسلمانانو بیعت دئ، نه بل څه.
- دا یوه مغالطه او د حقیقت خلاف ادعاء ده چي ابوبکر رضی الله عنه د علماوو، قبایلي مشرانو او فوځي چارواکو له لوري غوره شوی!! حقیقت دا دئ چي ابوبکر رضی الله عنه د سقیفه بني ساعده په یوې عامي او آزادي غونډي کي د امارت لپاره نومول شوی او په جومات کي د امیر په توګه ټاکل شوی. له ده وروسته خلفاء هم په جومات کي او د بیعت له لاري غوره شوي، د دوی د انتخاب ترمنځ یوازي د نومولو په طریقه کي څه توپیر وو؛ نه د ټاکلو په څرنګوالي کي، د ټاکلو لار یوه ده او هغه د مسلمانانو عام او بلااکراه بیعت دئ نه بل څه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که تاسو په قرآن، حدیث او د صحابه وو د دور په روایاتو او لیکنو کې چیري هم د اهل الحل و العقد اصطلاح او د محدودو مشخصو اشخاصو له لوري په کوم خاص ځای او د ترېلو دروازو تر شا د کوم امیر د انتخاب بېلگه وښوده؛ نو ادعاء مو د منلو وړ ده، او که دا اصطلاح د امویانو او عباسیانو د دور زېږنده وي، هغه مهال رامنځته شوې وي چې امارت موروثي شو، اموي او عباسي شو، که داسي وي چې د محدودو اشخاصو له لوري د امیر انتخاب د دې دور بدعت وي، دا اصطلاح سرکاري مفتیانو د موروثي قیادت د توجیه لپاره کارولې وي، بیا خو حقیقتاً چې ټگمارانو یوې عربي اصطلاح ته داسي رنگ ورکړی چې گواکي دا د کوم آیت یا حدیث برخه ده.
- پوښتنه دا ده چې د اسلامي شریعت له مخي ولس د امیر په ټاکلو کي څه حق او څه وجیبه لري؟ د امارت دنده د چا له لوري چا ته سپارل کېږي؟ د امارت د اهل تشخیص د چا کار دئ؟ آیا د ولس له بیعت او رضایت نه پرته د چا امارت شرعي مجوز لري؟ آیا د زور او جبر امارت جائز دئ؟ امیر په جومات کي او د عوامو په خوښه ټاکل کېږي که په قصرونو کي او د ترېلو دروازو تر شا د خواصو لخوا؟ ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم په جومات کي د ټولو لمونځ کوونکو له بیعت نه وروسته د امیرالمؤمنین په توگه غوره شول که د خاصو اشخاصو له لوري؟
- آیا د عمر رضي الله عنه هغه وینا مو اورېدلې چې د سقیفه بنی ساعده په غونډي کي ئې وکړه: "فمن بایع أمیرا عن غیر مشورة المسلمین فلا بیعة له ولا بیعة للذي بایعه تغرة أن یقتلا: که څوک د مسلمانانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشورې پرته له کوم امیر سره بیعت وکړي نه د ده بیعت ارزښت لري او نه د هغه چا چي بیعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چي دواړه ووژل شي" !! د عمر رضي الله عنه دا وینا ډېر پرېکنده او قاطع حجت دئ د هغه چا په ضد چي د ټولو مسلمانانو له موافقې او مشورې پرته د څو کسانو بیعت د امارت لپاره کافي ګڼي، دا یوازي د درباري مفتیانو رأیه کېدی شي نه په دین د یوه پوه انسان رأیه. دا رأیه د سلاطینو په خدمت کي بوختو مفتیانو هغه مهال ورکړه چي د امیر انتخاب له جومات نه قصرونو ته او له عوامو نه درباري خواصو ته انتقال شو او په نتیجه کي ئې امارت موروثي او خانداني شو او یزید امیرالمؤمنین!! شو.

په دې اړه روایت داسي دئ:

عن ابن عباس قال : انقلب عبدالرحمن بن عوف إلى منزله بمنى في آخر حجة حجها عمر بن الخطاب فقال : إن فلانا يقول : لو قد مات عمر بايعت فلانا .... قال عمر : إني قائم العشية في الناس وأحذرهم هؤلاء الذين يريدون أن يغصبوهم أمرهم قال عبدالرحمن : فقلت : لا تفعل يا أمير المؤمنين فإن الموسم يجمع رعاع الناس وغوغاءهم وإن أولئک الذين يغلبون على مجلسک إذا أقمت في الناس فيطيروا بمقالتک ولا يضعوها مواضعها أمهل حتى تقدم المدينة فإنها دار الهجرة فتخلص بعلماء الناس وأشرافهم وتقول ما قلت متمكنا ويعون مقالتک ويضعونها مواضعها

فقال عمر : لئن قدمت المدينة سالما إن شاء الله لأتكلمن في أول مقام أقومه ....

له ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دئ چي عبدالرحمن بن عوف د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر رضی الله عنه په وروستي حج کي؛ په منی کي خپل ځای ته راګرځېدو وروسته عمر رضی الله عنه ته وويل: فلانی وايي چي که عمر مړ شو نو له فلاني سره به بيعت کوو، ... عمر رضی الله عنه وويل: زه ماخستن خلکو ته وينا کوم او خبرداری ورکوم چي ځيني خلک غواړي په دوی پوري اړوند کار (د دوی حق) ترې غصب کړي، عبدالرحمن وايي ما ورته وويل: اې امير المؤمنينه! دا کار دلته مه کوه، دلته عام خلک راغونډ شوي، ستا د خبري په مطلب به سم پوه نشي، په ناسمه توګه به ئې تعبير او نورو ته انتقال کړي، صبر وکړه او په مدينه کي دا کار وکړه هلته علماوو او مخورو ته خپله خبره وکړه، ستا د خبري په مطلب به پوه شي او .... عمر رضی الله عنه وويل: که مدينې ته روغ ستون شوم نو په لومړی وينا کي به دا خبره کوم... همداسي وشول، هغه په مدينه منوره کي د لومړی جمعې په خطبه کي د نورو خبرو په ضمن کي وويل:

إنه بلغني أن فلانا منكم يقول : والله لو قد مات عمر لقد بايعت فلانا فلا يغرن امرءا أن يقول : إن بيعة أبي بكر كانت فلتة فتمت فإنها قد كانت كذلک إلا أن الله وقى شرها وليس فيكم من تقطع إليه الأعناق مثل أبي بكر وإنه كان من خيرنا حين توفي رسول الله صلى الله عليه و سلم ....

ما ته دا خبره رسېدلې چي فلانی وايي: قسم په خدای که عمر مړ شو نو له فلاني سره به بيعت کوو، هيڅوک دي په دې نه غولېږي چي ووايي: د ابوبکر بيعت همداسي ناڅاپي او غيرمترقبه وو، هو همداسي وو، خو الله ئې له شره وژغورلو، خو اوس د ابوبکر په څير داسي څوک نشته چي ټول پرې قانع وي، ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چي دلته عمر رضی الله عنه د ځینو کسانو دا وینا غندي چي غواړي د سقیفۀ بني ساعده په څېر څوک راولړاندي کړي او بیعت ورسره وکړي، دا خطرناکه لوبه ګڼي، غواړي خلکو ته ووایي چي مه پرېږدئ ستاسو حق د ځینو کسانو له لوري غصب شي، د سقیفۀ بني ساعده غونډه هم یوه ناڅاپي، غیر مترقبه او عجولانه غونډه بولي، وایي چي الله تعالی په خپل فضل سره د هغې له شره وژغورلو، دا خبره هم کوي چي د ابوبکر په څېر داسي شخصیت نه مومو چي ټول خلک پرې قانع او راضي وي، او په پای کي وایي: که څوک د مسلمانانو له مشورې پرته له کوم امیر سره بیعت وکړي نه د ده بیعت ارزښت لري او نه د هغه چا چي بیعت ئې ورسره کړی، د دې وېره شته چي دواړه ووژل شي" !!

- ځیني خلک وایي: عوام د امیر په ټاکلو کي د څه ویلو حق نه لري، په دوی کي ځیني دومره غلو کوي چي عوامو ته د جاهلانو او احمقانو خطاب کوي او وایي چي د امیر د انتخاب حق جاهلانو او احمقانو ته نه دئ سپارل شوی!! ځیني خو دا خبره په ښه نیت کوي خو په دې نه پوهېږي چي د ښه نیت خبره باید په ښو الفاظو وکړي او داسي څه ونه وایي چي الله او د هغه پیغمبر ته وي ویلي او له اسلام نه د عوامو زړه تور کړي!! دې دوستانو ته وایو:

- موږ خو ټول قرآن په ډېر دقت سره لوستلی، ستا دا وینا مو نه صراحتاً او نه اشارتاً په کي موندلې، صحاح سته مو لوستلي؛ داسي حدیث مو نه دئ لیدلی چي ستا دغه وینا تأیید کړي، قرآن خو وایي چي الله تعالی د یوه (امي) قوم له منځه یو (امي) پیغمبر غوره کړ، د دې لپاره چي د ټولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ غوره امت ترې جوړ شي، او همداسي وشول، همدا امي او په ليک لوست نه پوهېدونکی قوم د ټول عالم لارښود شو، قرآن خو د اهل کتابو هغه علماء او مشايخ په سختو الفاظو رټي، چي ځان ئې تر نورو غوره ګڼلو او ويل به ئې: زموږ سيني له علومو ډکي دي، حتی له هغو خرو سره ئې تشبيه کوي چي کتابونه پرې بار وي!! قرآن خو ايمان او عمل د فضيلت لامل ګڼي نه بل څه، څلور راشد خلفاء خو په جومات کي د هغو خلکو لخوا غوره شوي چي د اهل کتابو احبارو به عوام کالانعام ورته ويل، همغه اصطلاح چي نن ئې د دوی ملګري کاروي!!

- دا دوستان دې ته متوجه نه دي چي احتياط بايد په دې کي وشي چي نومول شوي اشخاص اهل او د امارت وړ وي، نه دا چي څوک رأيه ورکوي. که له دوو داسي اهل شخصيتونو څخه چي د امارت لپاره وړ او مناسب وي، ټول ضروري مواصفات ولري، د علم، تقوی، امانت او اهليت په ګاڼې سمبال وي، يو ئې د عوامو په خوښه او د اکثريت په رأيه غوره شي، څه تاوان مو کړی؟ اشکال خو هغه مهال راولاړېږي چي اهليت په پام کي ونه نيول شي او يوازي د رأيو اکثريت ته اعتبار ورکړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا د مشر لپاره موده ټاکل جائز دي؟

د لیکوال د دې ادعاء په اړه چي د امارت لپاره موده ټاکل جائز نه دي!! باید ووایو:

- لومړی باید په دې پوه شو چي د شریعت له مخي حرام او ناجائز څه ته وایي؟ ټول فقهاء او علماء په دې متفق دي چي یوازي هغه څه ته حرام او ناجائز ویلی شو چي الله تعالی او د هغه پیغمبر علیه السلام حرام کړي وي او د هغه پر حرام والي صریح او واضح نص دلالت کوي.
- څوک چي د امارت لپاره توقیت ناجائز ګڼي باید د تحریم نص ئې وړاندي کړي، په داسي حال کي چي په ټول قرآن او د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کي هیڅ ځای نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي نص موندلی شو چي توقیت حرام وګڼي، نو دا ښاغلي ولي له خپله ځانه هغه څه حرام بولي چي نه الله تعالی ورته حرام ویلي او نه د هغه پیغمبر علیه السلام؟! آیا دې ته متوجه نه دي چي جائز ته ناجائز ویل همدومره لویه ګناه ده لکه حرام ته حلال ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ځوک چي وايي په دې دليل دا کار ناجائز دئ چي صحابه وو نه دئ کړی!! دوی ته بايد ووايو چي هيڅ په دين پوه عالم او فقيه دا خبره نه کوي چي کوم څه صحابه وو نه وي کړي هغه حرام دي!! ټول پر دې متفق دي چي پرته له هغه څه چي الله تعالی او د هغه پيغمبر حرام کړي هر څه حلال دي، په حل او حرمت کي اصل دا دئ چي يوازي هغه څه حرام دي چي الله تعالی او د هغه پيغمبر حرام کړي. اصل دا نه دئ چي څه صحابه وو نه وي کړي هغه حرام دي، په سلګونو داسي کارونه شته چي صحابه وو نه دي کړي؛ لکه دا چي: دوی د پيغمبر عليه السلام احاديث د کتابونو په بڼې کي نه وو راغونډ کړي، دوی د فقهي کتابونه نه وو ليکلي، دوی په لوډسپيکر کي آذان نه دئ کړی، په موټر، الوتکو او بېړيو کي حج ته نه دي تللي، زمور په څېر جامې، کميس او پرتوګ ئې نه دي اغوستي، ټوپک، بمونه، باروت ئې نه دي کارولي، داسي شهادت طلبانه عمليات ئې نه دي کړي چي له باروتو ډک واسکټ واغوندي او د دښمن خوا ته چاودنه وکړي، که محترم ليکوال په ټولو فقهاوو کي داسي ځوک په ګوته کړ چي ويلي ئې وي: څه چي صحابه وو نه دي کړي حرام دي؛ نو بيا دی ملامت نه دئ، خو که دا خبره ئې له ځانه کړې وه نو بايد تجديد نظر وکړي. که دی په دغه عقيده وي نو بيا خو ترې پوښتنه کوو چي تا د خپلي رسالې په ۲۹صفحه کي ليکلي: "د شرعي سياست هغه احکام چي په قرآن او سنت کي راغلي هغه دا دي: چي اسلام د حکومت کوم ځانګړی شکل نه دئ مخصوص کړی او نه ئې کوم خاص منهج د ټولو تفصيلاتو او جزياتو سره تعيين کړی. بلکي اسلام د حکومت کولو لپاره مبادي، اصول، او عامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکام په ګوته کړي، چي خامخا د هغو رعايتول په هر ښار او هره زمانه کي لازم دي، او د حکومت د نظام جوړولو جزيات او تفصيلات تعينول د امت خوښې ته پرېښودل شوي، خو په دې شرط چي په دې ټولو کي به د هغو اصولو، مباديو، او احکامو تابعداري کولای شي کوم چي د قرآن او سنت په نصوصو او د راشدينو خلفاوو په سنتو کي مشروع ګرځول شوي نو د حکومت نظام په اسلام کي د اسلامي مباديو او احکامو تابع دی، نه د کوم ځانګړي شکل، او معين منهج، چي لنډييز يې په دې ډول دی: ..."

ليکوال د پورتني استدلال له مخي ځان ته او د خپل مسلک ليکوالانو ته دا حق ورکوي چي د اسلامي نظام په اړه داسي څه وليکي چي د پيغمبر عليه السلام او صحابه وو رضی الله عنهم په دوران کي ئې مثال او بېلګه نه مومو، استدلال ئې دا دئ چي "د حکومت د نظام جوړولو جزيات او تفصيلات تعينول د امت خوښې ته پرېښودل شوي،.."

عجيبه دا ده چي د همدې خبري ترڅنګ وايي چي د امارت لپاره موده ټاکل په دې دليل جائز نه دي چي صحابه وو دا کار نه دئ کړی!! د دې معنی خو دا شوه چي تا ته داسي خبره کول جائز دي چي صحابه وو او مخکنيو نه ده کړې خو بل ته ناجائز!! ته د اسلامي نظام په اړه داسي څه ويلی شې چي تر تا مخکي هيچا نه دي ويلي او دليل دي هم دا دئ چي " د حکومت د نظام جوړولو جزيات او تفصيلات تعينول د امت خوښې ته پرېښودل شوي"

خو که بل څوک دا خبره کوي چي دا مسلمانانو ته پرېښودل شوې چي څوک د امارت لپاره غوره کوي، کوم واکونه او صلاحيتونه ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره حقوق او امتیازات ورته ټاکي، د ځومره مودې لپاره ئې د امیر په توګه مني، څه شرایط ورته وضعه کوي، او وایي چې امارت د خلکو امانت دئ، دا د خلکو حق دئ چې چا ته ئې سپاري، تر کله ئې سپاري او کله ئې بېرته ترې اخلي... نو دا خبره په څلورو کتابونو ورته ناروا او ناجائز برېښي!!

ځوک چې د اسلام په حقیقت پوه وي هغه په دې عقیده دي چې د مسلمانانو مشر د دوی له لوري غوره کېږي، ده ته چې کوم صلاحیتونه او امکانات سپارل کېږي، که زکات او عشر دئ، که غنیمت یا فی دئ، که له کورنیو او بهرنیو لوریو سره کومه معامله وي، د جنګ یا د سولې، دا د ټول ولس (امانتونه) دئ، په دې امانتونو کې هر راز تصرف به د ولس په مشوره کوي، هر هغه تصرف چې د ولس د مشورې خلاف ئې کوي خیانت دئ، دا د ولس حق دئ چې ده ته ځومره واک ورکوي او تر کله ئې ورکوي او کله ئې بېرته ترې اخلي. دي د ولس خادم، وکیل او کفیل دئ نه آقا او بادار.

که موږ د راشدو خلفاوو ابوبکر صدیق، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم په څېر امین او متقي شخصیتونه پیدا کړل نو موږ به ئې هم د صحابه وو په څېر دائم العمر خلفاء ټاکو، او چې دا ممکنه نه ده، نو بیا خو د احتیاط تقاضاء دا ده چې د امیر لپاره موده وټاکو، که په خپل کار کې موفق وو بیا ئې غوره کړو او که نه د ده په ځای بل ځوک راوړاندي کړو او په دې توګه دې ته مجال پرې نږدو چې که ځیني خلک د موجود امیر عزلول ضروري ګڼي، په هغه کې د امارت د دوام کفایت او صلاحیت نه مومي او تر ده بل کس ورته اهل برېښي نو د مسلحانه پاڅون لار غوره نه کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library
هغسي پېښي رامنځته نشي چي د عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه په شهادت منتج شوې.

### د مشر لپاره القاب

ليکوال له مقدماتي خبرو وروسته بحث له دې پيل کړی چي د مسلمانانو د مشر لپاره اسلامي القاب او اوصاف کوم دي؟ درې نومونه ئې اسلامي القاب ګڼلي: خليفه، اميرالمؤمنين او امام، په قرآن کي د خليفه او امام ذکر راغلی، ابراهيم عليه السلام ته د امام او داؤد عليه السلام ته د خليفه نومونه راغلي، د اميرالمؤمنين ذکر نه په قرآن کي شته او نه د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي، البته صحابه وو دا نوم د عمر رضی الله عنه لپاره غوره کړ، په قرآن کي د مسلمانانو مشران د اولي الامر (چارواکو) په نامه ياد شوي. د صحابه وو له لوري د يوه نوم غوره کول ښيي چي مسلمانان کولی شي خپل مشران په بل هر نېک نوم ياد کړي، په دې کي هيڅ مانع او حرج نشته. د قرآن او حديث له مخي معلومېږي چي د (ملک: پاچا)، (ملک الملوک: شاهنشاه)، او داسي نومونه چي يوازي له الله تعالی سره ښايي او د مشر د واک او ستايني په اړه غلو په کي شوې وي؛ ناجائز دي. لکه اعليحضرت، والاحضرت، خو نور نومونه لکه مشر، ولس مشر، قائد، رئيس، سالار او دې ته ورته نومونه غوره کول هيڅ مانع نه لري. دې ته بايد متوجه وو چي د صحابه وو په دور کي د نومونو او القابو په اړه ډېره سادګي ليدل کېده، تاسو که روايات وګورئ نو د هيچا لپاره به له غلو او ستايني ډک القاب ونه مومئ، هر څوک ئې په خپل ساده نوم او کله

(c) ketabton.com: The Digital Library
هم په خپلي كنيه ياد كړی، دا هم د وروستيو زمانو بدعت وو چي اوږده اوږده القاب رايج شول، لكه علامة الدهر، قطب الاقطاب، شيخ القرآن والحديث، شمس المفسرين، آيت الله العظمی، حجة الاسلام والمسلمين، ... د كتاب په جلدونو باندي به وگورې چي د ليكونكي لپاره ئې څو سطره القاب كارول شوي.

## د مشر مواصفات

ورپسې د خليفه او امير د صفاتو په لړ كي د شاه ولي الله رحمه الله د حجة الله البالغه په استناد ليكي چي د امير صفات دا دي: ۱- هغه به عاقل او بالغ وي، ۲- هغه به آزاد وي غلام به نه وي، ۳- خليفه به نارينه وي او ښځينه به نه وي، ۴- خليفه به زړه ور وي بزدل به نه وي، ۵- خليفه به ليدل، كتل، اورېدل كولی شي، ۶- خليفه بايد له هغو خلكو څخه غوره شي چي د هغوی شرافت او برتري په خلكو كي منلې وي د هغه د فرمانونو په منلو كي عار او نفرت محسوس نه كړي. ۷- په خليفه به خلك دا باور لري، چي هغه د حكومت په چارو كي د حق پلوي او پيروي كوي، ۸- خليفه به مسلمان، د علم څښتن او متقي وي، او په پای كي ليكي چي ۹- د پيغمبر عليه السلام هغه وينا (حديث) ته په پام چي "أئمه به د قريشو څخه وي" ضروري ده چي راشد خليفه قريشي وي.

دلته څو خبري ضروري گڼو:

- څوک چي نن د شاه ولي الله رحمه الله په نظرياتو استناد كوي د دوی استادانو پرون هغه په دې دليل تكفير كړی وو چي ولي ئې پر مخكنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقهي اکتفاء ونه کړه، ولي ئې نوي نظريات وړاندي کړل، ولي ئې د قرآن د ترجمې او تفسير جسارت وکړ؟

- موږ په داسي حال کي چي د شاه ولي الله دروند او علمي شخصيت ته درناوی لرو، هغه ته د استاد په سترګه ګورو ځکه چي د قرآن له هغي فارسي ترجمې مو ډېره استفاده کړې چي ده ليکلې، له الله تعالی نه د هغو زحماتو اجر ورته غواړو چي اسلام ته د دعوت په لار کي ئې ايستلي او د هغو اذيتونو هم چي د جاهلانو له لوري ورسره مخامخ شوی. دلته بايد ووايو چي په ځلورو لومړنيو مواصفاتو کي ورسره موافق يو، د پنځم په اړه دومره وايو چي که څه هم د امارت لپاره (صحت او قوت) ضروري شرطونه دئ، قرآن فرمايي: "إن خير من استأجرت القوي الامين: تر ټولو غوره کس چي استخداموې ئې هغه دئ چي قوي او امين وي"، خو دا چي ځيني تر هغه چا چي په يوه لاس، پښه، غوږ او سترګي معيوب وي؛ روغ او سالم کس او يا د جذابي څېرې خاوند تر بل غوره ګڼي، موږ ئې د لازمي شرط په توګه وړاندي کول بې ځايه تکلف او له ځانه جوړ شوي شرايط ګڼو. د شپږم او اوم په اړه وايو چي له دې معلومېږي چي شاه ولي الله رحمه الله د امير په اړه د خلکو باور او اعتماد او دا چي هغه به په خلکو کي منلی او مخور وي ضروري ګڼي، له دې نه دا پوښتنه راولاړېږي چي که د خلکو باور او اعتماد شرط وي او له دې پرته څوک د امارت وړ نه دئ نو څنګه به پوهېږو چي خلک د فلان کس په اړه دا باور لري چي منلی او مخور دئ او د حق پلوي او متابعت کوي؟ آيا له خلکو نه له پوښتني پرته دا حقيقت معلومېدی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د نهم شرط په اړه څو خبري کول ضروري ګڼو:

د دې روایت په اړه ټول محققین موافق نه دي، ځیني ئې نه متن صحیح بولي او نه اسناد، او ځیني ئې د هغه مهال له شرایطو څخه ګڼي؛ نه په هره زمانه او هر ځای کي او د هر ملک په کچه ضروري شرط، له دې کبله چي د مدینې د انصارو اوس او خزرج تر منځ اوږدې جګړې تېري شوې وې؛ ګرانه وه چي د سعد بن معاذ رضی الله عنه له وفاته وروسته له دوی نه داسي امیر غوره شوی وی چي ټولو له زړه نه منلی وی، د حل یوازنۍ لار دا وه چي امیر له مهاجرینو څخه وی، دا محققین وایي که پیغمبر علیه السلام قریشیت د امارت لپاره ضروري شرط ګڼلی نو ولي ئې د انصارو د دروند او نومیالي مشر سعد بن معاذ رضی الله عنه په اړه فرمایلي چي که هغه ژوندی وی نو د مسلمانانو د مشر په توګه به مي ټاکلی وو.

څوک چي وایي امیر باید قریشي وي او قریشیت د امارت لپاره شرط ګڼي هغه ته وایو:

- دا رأیه د قرآن له صریح نص سره تصادم کوي، قرآن ټول خلک د یوه نسب خاوندان ګڼي، مکرر وایي چي ټول انسانان له یوه مور او پلار نه پیدا شوي، له یوه نسل څخه دي، بېل بېل قبایل او عشایر ئې د تعارف لپاره دي نه د تفاخر او تفاضل لپاره، هیڅ قبیله پر بلې هیڅ فضیلت نه لري مګر په تقوی سره، په اسلام کي نَسَبي فضیلت او یو تر بل په نَسَبي بنسټ ځان غوره ګڼل مردود دي.
- که دا رأیه ومنو بیا خو باید یهودانو ته هم دا حق ورکړو چي ځان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو قومونو په دې دليل غوره وګڼي چي د ابراهيم عليه السلام اولاد دي او ډېر پيغمبران په دوی کي مبعوث شوي!! خو قرآن هغه مهال دوی تر ټولو قومونو غوره ګڼي چي ايمان ئې راوړی او د الله تعالی په لار کي ئې هجرت او جهاد کړی او هغه مهال ئې د نړۍ تر ټولو ذليل قوم ګڼلی چي بغاوت ئې کړی او د شرک او نفاق لار ئې غوره کړې، له دې نه خو په ځرګنده توګه معلومېږي چي د فضيلت لاملونه نسبي نه بلکي فکري او اعتقادي دي، يوازي په نېک عمل سره يو کس يا قوم پر بل فضيلت تر لاسه کولی شي.

- که داسي وی نو پيغمبر عليه السلام به څنګه فرمايل چي که سعد بن معاذ (د انصارو دروند مشر) ژوندی وی نو هغه به مي د مسلمانانو د خليفه په توګه ټاکلی وو. څوک چي سعد رضی الله عنه پېژني او له هغو بې نظيره خدمتونو خبر وي چي ده او د ده ترمشرۍ لاندي د اوس قبيلې د اسلام او مسلمانانو لپاره کړي، پيغمبر عليه السلام او مهاجرينو ته ئې پناه ورکړه، دی او قوم ئې د الله تعالی په لار کي قربانۍ ته چمتو شول، نو يقيناً چي تر سعد بن معاذ نه به هيڅوک د خلافت لپاره زيات مستحق ونه ګڼي او که هغه ژوندی وی نو له شکه پرته به ټولو مسلمانانو د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په شمول هغه ته د بيعت لاس اوږدولو، خزرجيانو به هم د پيغمبر عليه السلام له پرېکړي سره توافق کاوو. د نړۍ ټول مؤمنان تر قيامته پوري د سعد رضی الله عنه او د ده د توريالي او مؤمن قوم د ستر احسان، همت، مېړاني او قربانيو پوروړي دي.

د سعد رضی الله عنه عظمت او مقام له لاندي رواياتو درک کولی شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عن جابر بن عبدالله قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اهتز عرش الرحمن لموت سعد بن معاذ

له جابر بن عبدالله نه روایت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: د رحمن خدای عرش د سعد بن معاذ په مړیني ولړزېدو.

کله چي هغه ټپي شو نو پيغمبر عليه السلام په جومات کي د هغه لپاره ځای جوړ کړ چي ورته نږدې وي او په خپله ئې پالنه او عیادت وکړي.

عن عائشة قالت لما أصيب سعد بن معاذ يوم الخندق رماه رجل في الأكحل ( عرق وسط الذراع ) فضرب عليه رسول الله صلى الله عليه وسلم خيمة في المسجد ليعوده من قريب .

عن البراء بن عازب قال: أهدي لرسول الله صلى الله عليه وسلم سرقة من حرير فجعل القوم يتداولونها بينهم . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ( أتعجبون من هذا ؟ ) فقالوا نعم . يا رسول الله، فقال ( والذي نفسي بيده لمناديل سعد بن معاذ في الجنة خير من هذا) رواه البخاری

له براء بن عازب نه روایت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته له وريښمو اوبدلې يوه ټوټه هديه ورکړی شوه، خلکو په خپل منځ کي لاس په لاس کوله، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: آیا دې ته حیران یئ؟ وئې ویل: هو! یا رسول الله! نو هغه وفرمایل: په هغه ذات چي زما سا ئې په واک کي ده په جنت کي د سعد بن معاذ د لاس پاکولو تولیاوي تر دې ډېري غوره دي.

دا همغه سعد دئ چي ابوجهل ته ئې په مکه کي داسي غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی وو چي چا ئې تصور هم نشو کولی، مکې ته د عمرې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللی وو، د أمیه بن خلف په کور کي ئې واړول، هغه ورته وویل: صبر وکړه، کله چي غرمه شي او خلک غافل شي ولاړ به شې او طواف به وکړې، کله چي سعد طواف کولو ناڅاپه ابوجهل راڅرګند شو او وئې ویل: دا څوک دئ چي د کعبې طواف کوي؟ سعد وویل: زه سعد یم، نو ابوجهل ورته وویل: داسي په ډاډ او امان سره د کعبې طواف کوې په داسي حال کي چي محمد او د ده ملګرو ته مو پناه ورکړې؟! خبره ئې سره کښته پورته کړه، امیه سعد ته وویل: غږ دي تر ابوالحکم مه لوړه وه، هغه د دې وادي مشر دئ، بیا سعد وویل: په الله قسم چي که مي د کعبې له طوافه منعه کړې د شام د تجارت لار به دي قطعه کړم.

انطلق سعد بن معاذ معتمرا قال فنزل على أمية بن خلف أبي صفوان وكان أمية إذا انطلق إلى الشأم فمر بالمدينة نزل على سعد فقال أمية لسعد انتظر حتى إذا انتصف النهار وغفل الناس انطلقت فطفت فبينا سعد يطوف إذا أبو جهل فقال من هذا الذي يطوف بالكعبة ؟ فقال سعد أنا سعد فقال أبو جهل تطوف بالكعبة آمنا وقد آويتم محمد وأصحابه ؟ فقال نعم فتلاحيا بينهما فقال أمية لسعد لا ترفع صوتک على أبي الحكم فإنه سيد أهل الوادي ثم قال سعد والله لئن منعني أن أطوف بالبيت لأقطعن متجرک بالشام .

دا همغه سعد دئ چي له بني قریظه سره معامله د ده پرېکړې ته پرېشودی شوه، کله چي هغه پر خپلي سپرلۍ راورسېد پیغمبر علیه السلام صحابه وو ته مخ کړ او وئې فرمایل: د خپل سالار په وړاندي ودرېږئ، هغه ته ئې وفرمایل: دې خلکو تا ته د پرېکړې واک درکړی، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: جنگيالي دې ووژل شي او ماشومان دې د مسلمانانو تر منځ وويشل شي. پيغمبر عليه السلام وفرمايل: د الله تعالى د حکم مطابق پريکړه دې وکړه.

أن أناسا نزلوا على حكم سعد بن معاذ فأرسل إليه فجاء على حمار فلما بلغ قريبا من المسجد قال النبي صلى الله عليه وسلم ( قوموا إلى خيركم أو سيدكم ) . فقال ( يا سعد إن هؤلاء نزلوا على حكمک) . قال فإني أحكم فيهم أن تقاتل مقاتلتهم وتسبى ذراريهم قال ( حكمت بحكم الله أو بحكم الملک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي شورى

ليكوال تر دې عنوان لاندې ليكي چې: "په رينښتيا هم په اسلامي نظام كې د دولت د تقنيني چارو د تنظيم او ښه سمون لپاره اړتيا ده چې اسلامي شورى د يوې ځانګړې قوې په توګه شتون ولري، له دې پرته هيڅ نظام او قانون مشروعيت نشي درلودلاى... " بيا ئې د اسلامي امارت د دستور دا مادې رانقل كړې دي:

"۴۶ماده:- اسلامي شورى هغه مقننه قوه ده چې غړي ئې حد اكثر د لومړۍ درجې ولايتونو څخه درې، د دوه يمې درجې ولايتونو څخه دوه، او د دريمې درجې ولايتونو څخه يو تن تشكيلوي، چې د امير المؤمنين له خوا انتصابيږي.

۴۷ماده:- د اسلامي شورى غړي به د اهل الحل و العقد صفتونه لري.

كه چيري اميرالمؤمنين د استعفاء اراده وكړي، د خپلي استعفاء په باب به د قاضي القضات، د وزيرانو د شورى د رئيس، او د اسلامي شورى د رئيس په ګډون مجلس ته خبر وركوي، وروسته به له څنډه پرته د قاضي القضات، وزيرانو د شورى رئيس او اسلامي شورى د رئيس په ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډه کوي او تصميم نيسي (۸-۹ مخ)"

د دې په ځواب کي بايد ووايو: اعتراض دا نه دئ چي د امارت په اساسي قانون کي د شورى يادونه شوې که نه، اعتراض دا دئ چي د شورى غړي د چا له لوري غوره کېږي؟ د ولس استازي دي که د اميرالمؤمنين د خوښي استازي؟ د نړۍ تر بدو نه په بد استبدادي نظامونو کي هم شورى شته، خو د مطلق العنانو واکمنانو د خوښي داسي انتصابى شورى گانى چي د واکمنانو په خدمت کي وي او د هغوى اوامرو ته قانونى بڼه ورکوي، نه داسي شورى چي د ولس له باصلاحيته استازو څخه جوړه شوې وي. اعتراض دا دئ چي نه پيغمبر عليه السلام د خپلي خوښي انتصابي شورى درلوده او نه راشدينو خلفاوو، د انتصابي شورى گانو لړۍ هغه مهال پيل شوې چي خلافت په سلطنت بدل شو، پرېکړي له جومات نه قصر ته انتقاتل شوې او د شورى غړي د سلاطينو له خوا انتصاب شوي.

د پيغمبر عليه السلام او د راشدينو خلفاوو د شورى ځاى خو مسجد وو، کله چي د مسلمانانو شمېر زيات شو؛ نو پيغمبر عليه السلام له دوى نه د عرفاء او نقباء په نامه د دوى داسي استازي وغوښتل چي د خپل خپل قوم له لوري به معرفي کېدل، ټول هغه کسان د شورى غړي وو چي د بدر په جگړي کي ئې برخه اخيستې وه، څوک چي له دې حقيقت سره توافق نه لري نو مهرباني دي وکړئ او موږ ته دي د دې دور يوه داسي انتصابي شورى راوښيئ چي غړي ئې د پيغمبر عليه السلام او يا راشدينو خلفاوو په خپله خوښه ټاکل شوي وي! دا د اسلام په اړه ډېر کرکجن تور دئ چي وايي: اسلام يوه شخص ته دا حق ورکوي چي د مطلق العنان واکمن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توگه د خپلي خوښي داسي انتصابي شوری جوړه کړي چي پرېکړو ته به ئې هم التزام نه لري او يوازي هغه پرېکړې به ئې مني چي د ده خوښي وي!! اسلام خو دا د مسلمانانو يو اجتماعي صفت گڼي چي کارونه ئې په مشوره ترسره کېږي: (و امرهم شوری بينهم)، کوم عاقل يا کم عقله انسان به په دې نه پوهېږي چي هغه شوری هيڅ ارزښت نه لري چي غړي ئې د ولس معتمد استازي نه وي، ولس پرې اعتماد ونه لري او ولس د هغوی پرېکړې معتبره ونه گڼي، فقط د يوه شخص له لوري غوره شوي وي؟!

که څوک په قرآن ايمان لري نو د شوری په اړه دغه يو آيت هم ورته کفايت کوي، دا آيت شوری او مشوره د ټولو مؤمنانو او د دوی د ټولني يوه ځانگړتيا گڼي، د دې آيت له مخي هيڅوک دا حق نه لري چي کوم مسلمان په داسي چارو کي له مشورې محروم کړي چي په ټولو مسلمانانو پوري مربوط وي، يا به په خپله مخامخ پوښتل کېږي او يا د خپل معتمد استازي له لاري، پيغمبر عليه السلام د بدر د جگړي پرېکړه هغه مهال وکړه چي ټولو بلااستثناء پرې توافق وکړ، د احد په جگړي کي له خپلي رأيي تېر شو او د هغو ځوانانو رأيه ئې قبوله کړه چي غوښتل ئې له دښمن سره له مدينې نه بهر مخامخ شي، که څوک د پيغمبر عليه السلام امتي وي او د هغه مبارک په سنت عمل کول غواړي نو بايد مشورې ته همدومره اهميت ورکړي، که هغه پيغمبر عليه السلام چي الله تعالی د ټولو انسانانو د معلم او لارښود په توگه غوره کړی او په هر گام کي ئې ورته وحي کوله شوری ته دومره اهميت ورکوي چي له خپلي رأيي د څو ځوانانو د غوښتني په وړاندي تېرېږي نو د بل چا به څه حيثيت وي چي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان عقل کل وګڼي او د شورى پرېکړو ته تابع نه وي؟!! په دې کي هيڅ شک نشته چي يوه کس ته مطلق العنان واک سپارل په اسلامي شريعت کي هيڅ مجال نلري، دا د سرکاري او درباري مفتيانو فتوى کېدى شي نه له قرآن او سنت نه راولاړه شوې فتوى. دې ته مو بايد پام وي چي کله د مسلمانانو شمېر زيات شو نو پيغمبر عليه السلام لدوى نه وغوښتل چي خپل استازي ورمعرفي کړي، دا استازي د نقباء په نامه يادېدل او دا پيغمبر عليه السلام په خپله نه غوره کول؛ بلکي ولس ته ئې ويل چي تاسو ئې رامعرفي کړئ، دا په حقيقت کي د ولس منتخب استازي ول.

بخاري ليکي: ( النقباء ) جمع نقيب وهو عريف القوم وناظرهم والمراد الذين اختارهم الأوس والخزرج نقباء عليهم بطلب من النبي صلى الله عليه وسلم

نقباء د نقيب جمع دئ چي د قوم پېژندوى او ناظر ته وايي او دلته مراد ترې هغه خلک دي چي د اوس او خزرج له لوري د رسول الله صلى الله عليه وسلم په غوښتنه غوره شول.

## آيا امير يا خليفه د شورى د پرېکړو په مراعات مکلف دئ؟

دا د همدرد صاحب د رسالې بل عنوان دئ چي موږ کټ مټ رانقل کړى.

تر دې عنوان لاندي هغه ادعاء کوي چي "جمهور متقدمين علماء وايي: ځان ته د شورى د غړو د رأيو په معلومولو وروسته به امير پر هغه څه باندي عمل کوي کومي ته چي د هغه پوهه او بصيرت رسي، اګر که

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د شورى د غړو د رايي سره توپير او اختلاف ولري د هغوى په اند : د مشاورت كولو معنى دا نده چي امير دي د شورى د غړو تابع وي!! هغوى د الله جل شأنه په دې قول استناد كوي ( و شاورهم فى الامر فاذا عزمت فتوكل على الله) هغوى وايي: دا آيت په دې دلالت كوي چي له مشاورت وروسته د عزم څخه مراد د امير عزم دئ او كه په امام باندي د شورى د غړو اتباع كول واجب واى، نو بيا به د (عزمت) په ځاى عزمتم ويل پكار و، نو هر كله چي د عزم اختيار امام ته وركړل شو، جوته شوه چي د مشاورت كولو څخه وروسته د روستۍ پرېكړې حق هم يوازي امام لري.

كه څه هم ليكوال د هغو كسانو رأيه هم رانقل كړې چي پر امام باندي د شورى د پرېكړو اتباع واجبه ګڼي او له علي رضى الله عنه نه روايت شوي هغه حديث باندي استناد كوي چي فرمايي:

له پيغمبر عليه السلام نه د دغه آيت د (عزمت) د لفظ په اړه پوښتنه وشوه چي د عزم معنى څه ده؟ او هغه وفرمايل: د رأى له خاوندانو سره مشوره او بيا د دوى د رأيي متابعت، يعني له مشورې نه چي كومه پرېكړه راوځي هغه منل او په هغې پسي تلل.

د حديث الفاظ دا دي:

روى ابن مردويه عن علي بن أبي طالب قال : [ سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن العزم ؟ فقال مشاورة أهل الرأي ثم اتباعهم ]

د ليكوال په ځواب كي څو خبري ضروري ګڼو:

- عجيبه ده چي څوك د پيغمبر عليه السلام حديث نه مني او هغه چا ته د عالم او علامه لقب وركوي او رأيه ئې مني او عمل پرې كوي چي رأيه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې هم سل په سلو کي د حديث **خلاف** ده او هم د قرآن **خلاف**!!! که ته په دې حديث باور لرې نو بيا خو بله هره رأيه بايد لري وغورځوې او مدعي ته ئې نه د عالم په سترګه وګورې او نه د **علامه** لقب ورکړې!!

- ډېر خلک داسي دي چي د دليل په ځای د اکثريت په زور خپله خبره په نورو منل يا تپل غواړي، کله چي د کومي رأيي په اړه نه دليل ولري او نه د کوم منلي شخصيت نوم واخيستی شي نو وايي: دا د جمهور علماوو رأيه ده!! خو که ترې پوښتنه وشي چي له دغو علماوو نه د څو کسانو نومونه واخله نو د ګوتو په شمېر نومونه هم نشي اخيستلی. د يوې رأيي د سموالي لپاره خو دليل دا نه دئ چي څومره کسان ئې مني، د مسلمان لپاره خو دليل دا دئ چي له قرآن او سنت سره مطابقت ولري، که احياناً د نړۍ ټول خلک پر يوې غلطي خبري ټينګار وکړي او هغه سمه وګڼي دا د هغې د سموالي دليل نه شي کېدی.

راشئ وګورو چي د دغه آيت په اړه دا تعبير څومره وزن لري چي ليکوال جمهور متقدمينو ته منسوب کړئ. د آيت الفاظ دا دي:

(qÒÿRw É ù)$á ‹Îî $âù MŸä qr Ng9 MZ« $`B pJôm‘ $Jôù

#Œfù ÍÐF$’Î Nèdö$©r Nç, öÿøGóM$r Nåã B#ãš 7Ïqm ôÌB

آل عمران: ١٥٩ ÇÎÈ û,#Ï.qGßJ$=ï ©$b) «!$’?ã @©qGù MB•ã

نو د خپل رب د رحمت په وجه ورته نرم شوې او که ته بدخولی او سخت زړی وی، نو ستا له شا و خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه، نو چې عزم دې وکړ بیا خو په الله توکل وکړه، یقیناً چې الله توکل کوونکي خوښوي.

د دې مبارک آیت لارښووني دا دي:

د قائد لپاره په خپلو ملګرو نرمي کول د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، ته د دغې الهي پېرزوینې په سبب په خپل امت زړه سوانده او مهربان یې، د بدخولو او سخت زړو مشرانو په څېر نه یې، د داسې مشرانو په څنګ کې یوازې ذلیل انسانان راغونډېږي، که په تا کې دا نیمګړتیاوې وی نو دا ستا په شا او خوا کې راغونډ شوي مسلمانان به ټول درنه خواره شوي وو، د دوی اشتباهات نباید د دې باعث شي چې د نرمي په ځای سختي وکړې، د خوږو خبرو په ځای ئې په ترخو او توندو خبرو استقبال کړې او د لطف او مهربانۍ په ځای ئې په خپلو غلطیو سخت ونیسې، د دوی پر غلطیو سترګې پټې کړه، له الله نه ورته مغفرت وغواړه. داسې نه چې د دوی اشتباهاتو ته په پام سره دا فیصله وکړې چې له دې نه وروسته به له دوی سره مشوره نه کوم، نه؛ په کارونو کې مشوره ستا واجب او د دوی حق دئ، ته مکلف یې چې له دوی سره به مشوره کوې، حتی له هغو سره هم چې مشورې ئې کمزوري دي او د مخکنیو کمزورو مشورو په سبب ئې څه ستونزې هم راولاړې کړې دي. د مشورې په نتیجه کې چې کومه پرېکړه په لاس درغله، د پلې کولو لپاره ئې ملا وتړه او پر الله توکل وکړه، داسې متوکلین د الله خوښ وي.

که په دې آیت کې لږ غور وکړئ نو د اسلام له نظره به د شورى په

(c) ketabton.com: The Digital Library
ځرنګوالي او اهمیت ښه پوه شئ، په دې مبارک آیت کې ځو اساسي ټکي زمونږ مخې ته راځي:

پیغمبر علیه السلام ته امر شوی چې مشوره به کوې، که الله تعالی خپل پیغمبر په مشوره مکلف کوي او دا د ده واجب ګڼي، نو د عادي مشر په اړه به د دې حکم تقاضاء څه وي، هغه چا ته چې الله ورته وحي کوي او د ټولې نړۍ لپاره ئې لارښود لیږلی، امت ورباندې ایمان لري او د ده په اطاعت مکلف شوی، که ده ته د مشورې کولو امر کوي؛ نو بل څوک به څه حیثیت لري چې له مشورې ځان مستثنی کړي.

دا د مشورې حکم د هغو کسانو په اړه راغلی چې ځیني اشتباهات ترې شوي، د دوی له اشتباهاتو سره سره الله تعالی پیغمبر ته امر کوي چې له همدغو سره به هم مشوره کوې.

پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې تصمیم به له مشورې وروسته نیسې، داسې نه چې مخکې له مشورې کومه فیصله له ځان سره وکړې او بیا نور هسې د خوشحالولو لپاره راوغواړې او د خپلې رأیې په ګټه تأیید ترې ترلاسه کړې.

له مشورې نه چې کومه فیصله راوځي، که څه هم ستا د رأیې خلاف وي او ته په هغې کې مصلحت نه ګورې، له څه تزلزل او وېرې پرته ئې د عملي کولو لپاره ملا وتړه او پرالله توکل وکړه.

د الله محبوب متوکل هغه دئ چې مشوره کوي، له مشورې نه د راوتلې فیصلې د عملي کولو لپاره ملا تړي او پر خپل رب توکل کوي.

متأسفانه ځینې کسان د مشورې داسې تفسیر او تعبیر وړاندې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د ديکتاتورانو او مستبدو واکمنانو ډېر خوښېږي، هغوی وايي چي د عزم په صيغه کي خطاب مفرد ته متوجه دئ او له دې نه معلومېږي چي د پرېکړي واک زعيم ته ورکړی شوی!! حال دا چي دا ډېر غلط او کمزوری تعبير دی، په څو دلايلو:

دې ته ئې پام نه دئ کړی چي (عزم) له (شوری) نه وروسته ذکر شوی او د دې خبري معنی دا ده چي عزم او پرېکړه به د مشورې نتيجه وي، شوری به د فيصلو مرجع وي او د مشر تصميم به هم د شوری له منځ نه راوتلی وي.

دا ډېر ډېر کمزوری او بې بنسټه دليل دئ چي وايي دلته د (عزمت) صيغه د مفرد صيغه ده، نه د جمعي صيغه نو ځکه تصميم د مشر کار دئ نه د شوری د ټولو غړو!! دا جنابان متوجه نه دي چي د مفرد صيغه د دې لپاره راغلې چي د آيت په لومړي سر کي خطاب يوازي پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ، په دې خطاب کي ټولي صيغې مفردي دي: لکه: (لنت)، (کنت)، (حولک)، (فاعف)، (استغفر)، (شاورهم)، طبيعي ده چي وروستۍ صيغه به هم (عزمت) راتله نه عزمتم.

دې ته ئې پام نه دئ کړی چي (فإذا عزمت) ويل شوي، په عربي پوه انسان پوهېږي چي د (فا) توری ښيي چي (عزم) به د (مشاورې) نتيجه وي، يعني د مشورې په نتيجه کي چي کوم تصميم نيسې نو پر الله توکل وکړه.

د (توکل) يادونه هم تلويحاً دا مطلب په ګوته کوي چي که احياناً پرېکړه ستا د رأيي خلاف راووته، پر الله توکل وکړه او له تشويش او تزلزل نه پرته د پرېکړي عملي کولو ته ملا وتړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ته ئې هم پام نه دئ کړی چې په دې آيت کې د مشورې امر په حقيقت کې د هغو خلکو په اړه شوی چې د احد په جګړې کې څه اشتباهات ترې شوي، د دې احتمال وو چې پيغمبر عليه السلام د دغو اشتباهاتو په سبب له هغوی سره تند چلند وکړي او له دې وروسته له هغوی سره له مشورې ډډه وکړي، الله تعالی ورته لارښوونه وکړه چې نرمي ورسره کوه، عفوه ورته وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کې مشوره ورسره کوه.

څوک چې ادعاء کوي چې په دې آيت سره د پرېکړې اختيار پيغمبر عليه السلام ته ورکړی شوی؛ هغه دي د پيغمبر عليه السلام له قول او عمل نه داسې کوم دليل راوړاندې کړي چې وښيي پيغمبر عليه السلام له دې آيت نه همدا مطلب اخيستی، مشوره ئې کړې خو پرېکړه ئې د خپلې خوښې کړې!! د پيغمبر عليه السلام په ټول مبارک ژوند کې هيڅوک داسې مورد نشي په ګوته کولی، داسې حديث نشي موندلی چې دا رأيه تأييد کړي، متأسفانه نه د آيت الفاظو او صراحتونو ته توجه کوي، نه له دې آيت نه د پيغمبر عليه السلام تعبير ته، له پيغمبر عليه السلام نه د دغه آيت د (عزمت) د لفظ په اړه پوښتنه وشوه چې د عزم معنی څه ده؟ او هغه وفرمايل: د رأی له خاوندانو سره مشوره او بيا د دوی د رأيي متابعت، يعني له مشورې نه چې کومه پرېکړه راوځي هغه منل او په هغې پسې تلل.

آيا د دغه صريح حديث په شته والي کې د بل چا داسې قول ته اعتناء کول چې هم د صريح آيت له الفاظو سره ټکر کوي او هم له څرګند او واضح حديث سره، لويه بې باکي او بې ځايه جسارت نه دئ؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې آيت شرحه او تفصيل بايد لومړی په خپله په قرآن کي ولټوو او وګورو چي آيا د شورى تر څنګ دا هم ويل شوي چي پرېکړه به يو کس کوي او که په مشورې کي د شاملو خواوو په رضايت او توافق سره؟ که مو په قرآن کي په دې اړه واضح لارښوونه وموندله نو پر قرآن د ايمان تقاضاء دا ده چي بله هره رأيه به لري غورځوو، که څه هم چا جمهور علماوو ته منسوب کړې وي. قرآن په ډېر صراحت سره فرمايي چي پرېکړه به په مشورې کي د شاملو خواوو په رضايت کېږي، د البقرې د سورې په ۲۳۳ آيت کي داسي راغلي:

$JÏõã y$Yã_ Ÿxù 9ã$±?r $Kåj$B ‹Ú #•? `ã w$Áìi #Š#‘& bÎù

او که دواړو (په خپله خوښه او رضايت) او په خپلو کي په (مشوره) له تي نه بېلول وغوښتل نو څه ګناه پرې نشته...

دا مبارک آيت له تي نه د ماشوم د بېلولو په اړه ښځي او مېړه ته وايي: په خپلو کي د (مشورې او رضايت) په نتيجه کي چي د خپل ماشوم د بېلولو په اړه کومه فيصله وکړئ نو څه الزام درباندي نشته او له مشورې پرته يا د يوه طرف د عدم رضايت په صورت کي هره پرېکړه د ګناه پرېکړه ده . يعني که مور پلار وغواړي چي د کوم ضرورت يا مصلحت له مخي ماشوم ته د تي ورکولو موده رالنډه کړي نو په دوه شرطه دا کار کولی شي: دواړه به په دې کار راضي وي او په خپلو کي به ئې مشوره کړې وي. (مشوره) او د (دواړو رضايت) او موافقه ئې شرط کړي. له دې آيت نه د اسلام له نظره د مشورې حقيقت څرګندېږي، له مشورې نه به هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېکړه راوځي چي په مشورې کي برخه وال پرې راضي او متفق وي، په کومي مشورې کي چي د طرفينو رضايت شرط نه وي، يو طرف يوازي خپله رأيه څرګندوي او د وروستي تصميم په نيولو کي څه حق نه لري او بل طرف يوازي د بل رأيه اوري او فيصله په خپل سر کوي، د مشاور له رضايت نه پرته، دا د استبدادي نظامونو شورى ده نه اسلامي شورى، مشوره دا نه ده چي يو طرف به له بل نه فقط نظر او رأيه غواړي او ورستۍ پرېکړه به دى په خپله کوي، مشوره د بل د رأيي معلومولو لپاره نه وي، داسي مشوره هيڅ ارزښت نه لري چي يو کس دي د نورو رأيه واوري خو پرېکړه دي په خپله او د نورو د موافقې او رضايت نه پرته وکړي، مشوره دې ته ويل کېږي چي د تفاهم او بحث په نتيجه کي د طرفينو د خوښي هغه پرېکړه ترې راووځي چي دواړه ورباندي راضي او متفق وي. چي پلار خپل اولاد ته د تي ورکولو په اړه په دې مکلف وي چي له خپلي مېرمني سره به مشوره کوي، په خپل سر به فيصله نه کوي، هره پرېکړه به د دواړو په مشوره او رضايت وي، نو امير څنګه دا حق لري چي د عام ولس د شتمنيو او په دوى پورې اړوند قضاياوو کي په خپل سر او د نورو له مشورې او رضايت نه پرته فيصله وکړي، په ټولنې کي د ده حيثيت او مقام په هيڅ صورت کي هومره نه دى لکه د پلار او مېرمې حيثيت او مقام په خپلې کورنۍ کې، اسلام خو پلار ته په کورنۍ کي د (قوام يا قيم) نوم ورکړى، خو د ټولني مشر يا امير ته ئې د (قيم) په ځاى د (خليفه او امين) نوم ورکړى، دى خو د عام ولس د امانتونو امين دى، په هيڅ امانت کي په خپله خوښه د تصرف کولو حق نه دى ورکړى شوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې وايي امير يوازي په مشورې مکلف دئ، پرېکړه به دی په خپله خوښه کوي!! دا جنابان دي له قرآن او سنت نه کوم دليل وړاندي کړي، قرآن خو وايي چې د شورى پرېکړه بايد داسي وي چې په شورى کي د برخه والو رضايت تأمين شي؛ ستا نظر خو د قرآن د دې حکم خلاف دئ!! د پيغمبرعليه السلام له فعل او قول نه کومه بېلګه وړاندي کړه چې ستا دا نظر تأييد کړي، پيغمبرعليه السلام خو هيڅکله د مشوره کوونکو د اکثريت له رأيي سره مخالفت نه دئ کړی او د خپلي خوښي فيصله ئې نه ده کړې. ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته وايي: تاسو دواړه چې په هرڅه توافق وکړئ زه ورسره مخالفت نه کوم:

عن عبد الرحمن بن غنم [ أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لأبي بكر وعمر لو اجتمعتما في مشورة ما خالفتكما ]

د خندق په جنګ کي ئې غوښتل د مدينې يهودان په دې قانع کړي چې د قريشو له ملګرتيا لاس واخلي چې په بدل کي به ئې د مديني د کجورو د يوه کال حاصل دوی ته ورکړي، په ځينو رواياتو کي راځي چې په دې اړه ئې څه ليکلي هم وو، خو د اوس او خزرج له دوو مشرانو سره ئې پرې مشوره وکړه، هغوی ورته وويل: يا رسول الله! که دا پرېکړه د وحي له مخي کوې نو موږ پرې اعتراض نه لرو، خو که ستا خپله رأيه وي نو په خدای قسم چې موږ د شرک په زمانه کي دوی ته باج نه دئ ورکړی اوس چې په ايمان سره الله تعالی موږ ته عزت راکړ څنګه به دوی ته جزيه ورکوو، پيغمبر عليه السلام له خپلي رأيي تېر شو او هغه پاڼه ئې وشکوله.

هيڅوک داسي مثال نشي وړاندي کولی چې پيغمبر عليه السلام دي

(c) ketabton.com: The Digital Library
له چا سره مشوره کړې وي خو پرېکړه دې د نورو له موافقې پرته په خپله خوښه کړې وي.

ځيني خلک د حديبيې په صلحې په غلطه توګه استناد کوي او وايي: پيغمبر عليه السلام دلته له مشورې پرته هغه معاهده امضاء کړه، نو دا ښيي چې امير په شورى او د شورى د پرېکړو په متابعت مکلف نه دئ!! دې جنابانو ته وايو:

- آيا دې ته متوجه يئ که نه چې دا معاهده چېرې او په کومو شرايطو کې امضاء شوې؟ آيا پوهېږئ چې حديبيه د مکې جزء ده او قريشو پرې حکومت کولو؟ مسلمانان هلته د جګړې لپاره نه بلکې د عمرې لپاره تللي وو، د جګړې لپاره ئې تيارى نه درلود، دښمن هڅه کوله چې ښبته رامنځته شي، ډېر شرارتونه ئې وکړل خو د پيغمبر عليه السلام د حکيمانه قيادت په وجه د دوى شرارتونه شنډ شول او د ښبتې مخنيوى وشو.
- د جنګ په ميدان او حالت کې مشر ته فوق العاده صلاحيت ورکول دا طبيعي او ټولو خلکو ته د منلو وړ کار دئ، په ټولو هېوادو کې ګورئ چې د جنګ په حالت کې حتى منتخب پارلمانونه منحل شي او زعيم ته د قانون له مخې فوق العاده صلاحيتونه ورکړى شي، د استثنائي حالت په مقرراتو د عام او عادي حالت قوانين قياسول اشتباه ده.
- دا هم په پام کې ولرئ چې دا يوازنى مورد دئ، په دې کې هم ډېرى صحابه، حتى چې د عمر رضى الله عنه په څېر شخصيتونه هم له هغې معاهدې سره موافق نه ول، خو نه چا اعتراض کړى او نه مخالفت، که پيغمبر عليه السلام مشوره کړې وي او بيا ئې د اکثريت له رأيې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت کړی وی؛ یا صحابه وو خپل مخالفت څرګند کړی او پیغمبر علیه السلام د هغوی څرګند مخالفت ته هیڅ اعتناء نه وی کړې، نو ستاسو وینا او استدلال په ځای او وارد وو، خو داسي نه دي شوي او په دې پېښې باندي استناد سره هیڅوک د دې ادعاء حق نه لري چي امیر د شوری د غړو رأیي په متابعت مکلف نه دئ، دا ناسم تعبیر او غلط قیاس دئ.

• راتلونکو پېښو وښوده چي د پیغمبر علیه السلام پرېکړه ډېره حکیمانه او پر ځای وه، الله تعالی د همدې پرېکړې په تأیید کي د الفتح مکمله او جامع سوره نازله کړه او د غي معاهدې ته ئې د فتحي او بریا نوم ورکړ.

قرآن د غیر اسلامي نظامونو د معرفي په لړ کي د هغوی یوه ځانګړتیا همدا ښیي چي د پرېکړي وروستۍ مرجع واکمن وي، درباریان د مشورو په دوران کي هغوی ته همدا وایي چي موږ خپله عاجزانه رأیه ستا حضور کي وړاندي کوو خو پرېکړه ستا کار دئ، واکمن هم ځان ټولواک ګڼي او خپلو مشاورینو ته وایي: سمه خبره همغه ده چي زه ئې درته وایم! قرآن دا دواړه خبري د فرعون او د سبا د ملکې په اړه راوړې دي، د سبا د ملکې درباري مشاورینو او سرکاري مفتیانو ورته وویل: موږ جګړي ته چمتو یو خو پرېکړه ستا کار دئ، وګوره چي خوښه دي څه ده او څه مناسب ګڼې، د قرآن الفاظ دا دي:

Ó4®n #¶þ& þèÜÛ$% àMZà2 $B “ÌB& þÎ ’Îq©ù (à=J$$ $k$Š»/ ðM9$%

Å ø)Ï ãÞF$ $ %ƒ‰© <¨ Ü (q$ré ,$è (q$réß¾ (q$% ÇÌÈ Er%hô@

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملکې) وويل: اې درباريانو! په دې کار کې مې مشوره راکړئ، زه خو تر هغه د کوم کار پرېکړه نه کوم چې تاسو حاضر وې!

هغوی وويل: موږ ځواکمن يو او کلک جنګيالي، او کار تا ته محول دئ، نو وګوره چې څه امر کوې!!

په دې مبارکو آيتونو کې په يوه غير اسلامي نظام کې د شورى څرنګوالی په ډېره دقيقه توګه ښودل شوی، چې څو خبرې ئې ډېرې جالبې دي:

- ملکه وايي: زما د دې کار په اړه څه مشوره راکوئ؟ داسې نه وايي چې د دغه کار چې په ټول ولس او هېواد پورې تړلی دئ؛ څه رأيه لرئ؟ له دې الفاظو معلومېږي چې ملکې په ضمني توګه خپله پرېکړه دوی ته اعلان کړې.
- ورته وايي چې زه خو ستاسو په غياب کې پرېکړه نه کوم، تل تاسو راغواړم او ستاسو په وړاندې فيصله کوم!!
- درباريان ورته وايي: موږ ځواکمن يو، توريالي يو او جګړې ته چمتو، خو پرېکړه ستا کار دئ، څه چې ستا خوښه وي هغه به کوو!!

دا قصه د دې لپاره راغلې چې مسلمانان د دغو غوړه مالو او ذليلو درباريانو په څېر نشي او شورى ئې د پاچايانو شورى ته ورته نه وي.

فرعون ته هم يوه داسې درباري چې په پټه ئې ايمان راوړی وو، غوښتل ئې له موسى عليه السلام نه دفاع وکړي او فرعون د هغه له وژلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منعه کړي، څو نېکي مشورې ورکړې، خو فرعون په ځواب کي ورته وويل: زه همغه څه تاسو ته وايم چي ښه پرې پوه شوی يم او زه چي تاسو ته کومه لارښوونه کوم هغه د ترقي او کمال په لوري لارښوونه ده!! د قرآن الفاظ دا دي:

Ä Ù . `Ï $RŽÇ Zƒ `Jù ÇÚ ö(F$’Î `ƒÌg» ß Pö x8$Š 7 ùKŠ$Ñ Éö) »ƒ

žwÎ) öä3ƒÏ‰÷d& $Br 3“ ‘& $B žwÎ) Nä3ƒÍ‘é& $B šcöqãã öÏù A$% $Rä!` bÎ) « $

ÇËÒÈ Ï$©§9$# Ÿ@‹Î6™

(هغه (مؤمن درباري) وويل: نن خو پاچايي ستاسو ده؛ په داسي حال کي چي په دې سيمي برلاسي او غالب يئ، خو که د الله عذاب راشي څوک به مو مرسته وکړی شي؟ فرعون وويل: زه همغه څه تاسو ته وايم چي پرې پوه شوی يم او يوازي د رشد او هدايت لار درښيم!!

آيا دغه آيتونه کفايت نه کوي چي ووايو: غيرملزمه شوری د غيراسلامي نظامونو ځانګړتيا ده، فرعونان داسي شوراګاني خوښوي؟!!

قرآن د فرعون او د سبا د ملکې دا قصې د دې لپاره رااخيستي چي موږ ته ووايي: په غيراسلامي نظامونو کي واکمن ټولواک وي، وروستۍ پرېکړه د ده له لوري کېږي، هغه ځان عقل کل ګڼي، خپله رأيه تر ټولو غوره او لوړه ګڼي، شوری ئې ملزمه نه وي، ټولواک د شوری پرېکړو ته په التزام مکلف نه وي. او د دې لپاره چي موږ ته ووايي: په کوم نظام کي چي دا خصوصيات وي، هغه اسلامي نظام نه بلکي فرعوني نظام وي، خلافت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکي ملوکيت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا قرآن کافي او بشپړ نه دئ؟

د لیکوال د دې خبرې په ځواب کې چې وایي: د قرآن الفاظ محدود دي او قضایا بې حده ډېر، نو ځکه مجبوریږو چې د نویو نویو قضایاوو په اړه نوې نوې پرېکړې وکړو!! څو وضاحتونه ضروري ګڼو:

- موږ له هغو خلکو سره قطعاً موافق نه یو چې د داسي الفاظو په کارولو سره غواړي وښیي د قرآن لاربښووني د ژوند د ټولو قضایاوو په اړه کافي او بشپړې نه دي، یوازې مبادي او کلیات ئې ذکر کړي، تفصیلات او جزئیات ئې خلکو ته پرېښي!! په داسي حال کې چې الله تعالی قرآن داسي معرفي کوي چې د هر څه لپاره تفصیل دئ:

$Zï‰n b‰. $B É»6Ø{$ 'írÏ[ x¤ã bîÃ Á‰ 'î šc ‰. 6)9

ãó« Èà2 Ÿ‹Ãÿ?r ïƒ‰ƒ ûü/ "Ï‰$ ,ƒÏ‰Á ? `Å6 »9r 2" žlÿã

ÇÈ bqãB‰šãÕö)) ã‰q 'r " ‰ër

یقیناً چې د دوی په قصو کې د عقل خاوندانو ته ځانګړی پند او عبرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پروت)دئ، دا هسي له ځانه جوړه شوې وينا نه ده، بلکي تر ځان د مخکنيو تصديق او تأييد دئ او د هر څه تفصيل او د ايمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

او قرآن د تورات په اړه فرمايي:

èäj w‹Ãy?r `¡ ô‹ ü” ‰$’?ã $B$J? = »GÅ$Ó › qã $Y‹#ä Oê

الانعام: ۱۵۴ ÇÊÎÍÈ bqãZÏBsãƒ öNÍkÍh5u‘ Ïä!$s)Î=Î/ Nßg¯=yè©9 ZpuHôquur “ ‰èdur äó«

بيا مو موسی ته هغه کتاب ورکړ چي د غوره (ويناوو او احکامو) له پلوه بشپړ او د هر څه لپاره تفصيل وو، (د خلکو) لارښود او (د دوی لپاره د رحمت (وسيله)، د دې لپاره چي له خپل رب سره په مخامخېدو ايمان راوړي.

او تاسو پوهېږئ چي قرآن پر تورات او انجيل او ټولو مخکنيو الهي کتابونه مهيمن دئ او د هغوی پر محتوياتو ئې احتواء کړې.

همداراز فرمايي:

$B NãèŽ$V Bx NBéWj Ïnøm$Yg2 çÜƒ ŠÏÛ Ür Ç Ú öF{$’Î p7!Š `B $Br

الانعام: ۳۸ ÇÌÑÈ šc rç³ tä Nìf 4 Ï}Oê äó« `B É=»GÅ$’Î $ZÔ§ù

او نه په زمکي کي داسي هيڅ خوځېدونکی شته او نه (په هوا کي) په دواړو وزرونو الوتونکی مرغه، چي ستاسو په څېر دي ټولی نه وي، په دې کتاب کي مو هيڅ څه نه دي پرېښي، بيا به د خپل رب لوري ته ورټول کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د هغو خلکو په ځواب کي ویل شوي چي داسي معجزه غواړي چي انکار تري ممکن نه وي او هر لیدونکی ایمان راوړو ته اړ کړي، په ځواب کي ورته ویل شوي:

- الله تعالیٰد داسي معجز ې په ښودلو هم قادر دئ ، خو دا کار د ده د سنت مطابق نه دئ.
- الله تعالی هر مخلوق له ځانګړو خصوصیاتو سره پیدا کړی، ژوي ئې د بېلو بېلو ځانګړتیاوو سره ټولي ټولي پیدا کړي، لکه دا چي ځیني حیوانات پر زمکه خو ځېږي او لکه مرغان چي پر ځلو وزرونو الو ځي، انسان ئې هم له خاصو ځانګړتیاوو سره پیدا کړی، د ده ستره ځانګړتیا دا ده چي انتخاب کولی شي ، که دا د انتخاب ځانګړتیا ترې واخیستل شي او د کومي خبري په منلو مجبور کړی شي، بیا خو د ده امتیاز له منځه ځي او د نورو مجبورو او بې اختیارو حیواناتو په څېر ګرځي، الله تعالی نه غواړي له انسان سره داسي معامله وکړي.
- په قرآن کي ټول هغه دلایل ویل شوي چي عقلمن او د هدایت په لټه کي انسان ته کفایت کوي.

د دغو دوستانو ادعاء د قرآن له دې صریح وینا سره ټکر کوي چي وایي: هر څه ئې په تفصیل سره بیان کړي، هیڅ څه ئې نه دي پرېښي.

دا صحیح ده چي د قرآن الفاظ محدود دي، خو دا د قرآن اعجاز دئ چي په محدودو الفاظو سره ئې هومره حقایق بیان کړي چي د انسان هري پوښتني ته ځواب وایي، د شرحي لپاره ئې ستر ستر کتابونه هم کفایت نه کوي، تر ننه په تېرو څوارلسو پېړیو کي په زرګونو تفسیرونه ولیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، هیڅ مفسر ونه ویل چي ما د قرآن ټول اسرار بیان کړی شول، دا دئ گورئ چي د تفسیرونو لړی لاروانه ده، معلومه نه ده څومره نور تفسیرونه به ولیکل شي او د قرآن څومره نور اسرار به څرگند شي، ښایي بې مناسبته به نه وي چي ووایو: په ټول قرآن کي د اودس په هکله یوازي یو آیت نازل شوی، خو که تاسو د فقه کتابونو ته رجوع وکړئ وبه گورئ چي په دې موضوع هومره مشرح او مفصل بحث شوی چي د هر فقهي کتاب یوه لویه برخه جوړوي، دا به هم بې مناسبته نه وي که ووایو: که تاسو دا مفصل او مشرح فقهي بحث، د شوری، امارت، جهاد او هجرت په څیر له بحثونو سره مقایسه کړئ نو وبه گورئ چي مقایسه ئې نشي کېدی، دا پداسي حال کي چي د دغو قضایاوو په هکله د قرآن آیتونه ډېر زیات او د اودس په پرتله څو برابره دي، زموږ درنو فقهاوو ولي دا کار کړی، د دوی د وخت شرائط همداسي وو او د دې تقاضاء ئې کوله او که کوم بل مصلحت ئې په پام کي نیولی؟ په دې هکله څه ویل نه مفید دي او نه ضروري، مهمه خبره دا ده چي اوس باید دا تشه ډکه شي، د قضایاوو په هکله زموږ اهتمام او شرح او توضیح ئې باید په همغه تناسب وي چي د الله په کتاب کي ورته اهتمام شوی، د شوری په هکله بحث باید د اودس په نسبت لږ تر لږه درې برابره وي، دا ځکه چي د اودس په هکله یو آیت راغلی او د شوری په هکله درې آیتونه.

- لیکوال د خپلي خبري د تأیید لپاره یو حل بیا د قرآن او حدیث په ځای د یوه لیکوال په رأیي استناد کوي او لیکي: وتلی محقق عالم او لیکوال علامه مناظر احسن گیلاني رحمه الله لیکي: د الهي وحي او د نبوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مبارکه ژبه تر امت رسېدلي معلومات په محدودو الفاظو او کلماتو کي ځای کړل شوي او بل لور ته د بشري ژوندون حال دا دئ چي د هري ورځي لمر له راختو سره سم د ځينو داسي نويو او پېچلو حالاتو سره يوځای څرک وهي چي د هغو بېلګي وړاندي نه وې ليدل شوې همدغو راتلونکو نويو پېښو او حالاتو ته د فقهاوو په اصطلاح کي (الحوادث و النوازل) ويل کېږي، څرګنده ده چي يو لور ته د الهي وحي الفاظ محدوديت لري او بل لور ته حوادث او نوازل لامحدود يا پر بل سپيناوي لامتناهي دي!! د دې دواړو حالتونو تشه د اجتهاد او عقلي لاس وهني پر ته ډکول ناشوني دي...!! او په پای کي ليکي: دا هغه اړتيا ده چي د پوره کولو لپاره ئې موږ د دنيا په چارو کي نه يوازي په ديني معاملاتو کي هم اجتهاد، عقل او فقهي ته اړ يو." د دوی د دې وينا او استدلال په اړه څو عرايض لرو:

١. دا استدلال ډېر کمزوری او ناوارد دئ. نه پوهېږو چي په دې استدلال سره دوی څنګه دا ثابتوي چي د امير انتخاب د اهل حل و عقد دنده ده؟!

٢. که د بحث موضوع هغه حوادث او نوازل وي چي د امت په تېر تاريخ کي ئې بېلګه نه موندل کېږي؛ نو بيا خو دې استدلال څه ناڅه وزن درلود، نه پوهېږو چي دوی څنګه د امير د انتخاب په څېر ستره موضوع په نوازلو کي شمېري؟!!

٣. دا وينا په ناسمه توګه کارول شوي چي "د الهي وحي او د نبوت په مبارکه ژبه تر امت رسېدلي معلومات په محدودو الفاظو او کلماتو کي ځای کړل شوي"، له دې وينا دا راايستل چي د نويو پېښو او قضاياوو لپاره نوي احکام راايستل جائز دي بې ځايه او ناسم استدلال دئ، موږ په دې عقيده

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو چي قرآن کامل دئ، بشپړ دئ، کافي دئ، هيڅ څه ئې نه دي پرېښي، په قرآن کي هره هغه لارښوونه راغلې چي د قيامت تروروځې انسانان ورته ضرورت لري، يا په مفصله توګه او يا په مجمله توګه، دا د قرآن اعجاز دئ چي په محدودو الفاظو کي ئې هومره لارښووني راغلې چي د انسان د ټول ژوند لپاره؛ له ټولو پېچلو او پراخو ابعادو سره ئې، د قيامت تر ورځې کفايت کوي، د پيغمبر عليه السلام په زرګونو احاديث د همدې محدود قرآن شرحه ده، د فقهي ضخيم ضخيم کتابونه له همدغو منابعو سرچينه اخلي، هغه رأيه د منلو وړ ده چي له قرآن او حديث سره سمون خوري، له دې نه آخوا چي څوک کومه رأيه ورکوي د هغه شخصي رأيه ده، هيڅوک ئې پر منلو او پلي کولو مکلف نه دي. يوازي د دليل له مخي به ئې مني، دا کافي نه ده چي څوک ووايي: فلان علامه دا خبره کړې، فلان عباسي امير دا کار کړی... نو ځکه دا د شريعت جزء ده او موږ ئې پر منلو او کولو مکلف يو!!

۴. يو مهال موږ د کمونيستانو له دې پوښتني سره مخامخ وو چي ويل به ئې: مسلمانان ادعاء کوي چي په قرآن کي هر څه بيان شوي که داسي وي نو موږ ته په قرآن کي ترافيکي قوانين راوښيئ! اوس له علامه وو او د دوی له پلويانو دې ته ورته خبري اورو چي د قرآن الفاظ محدود دي او د ژوند د لامحدودو پېښو او قضاياوو په اړه لارښووني په کي نه دي بيان شوې، د دغو پېښو په اړه اجتهاد ته اړ يو!! د دواړو د دې ورته وينا په اړه څو عرايض لرو:

- ټرافيکي قوانين؛ قوانين نه بلکي اجتماعي مقرارات او قراردادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، په داسي مواردو کي اسلام موږ ته هغه بنسټيزي لارښوني کړې دي چي داسي مقرارات او قراردادونه ورته ضرورت لري، لکه دا چي: په ښي لاس درومه، د ژمنو مراعات کوه، بل ته ضرر او اذيت مه رسوه، په خپل حق او وار قناعت کوه، د عمد او خطاء قتل او جرح سزا به څه وي...

- يو وخت مي د يوه داسي خطيب وينا د تلويزيون له لاري اورېده چي هره خبره ئې په ډېر زور سره کوله، هغه هم په وړو وړو خبرو د ترکيز پر مهال، په دې ئې ټينګار کولو چي په قرآن کي ټول احکام نه دي راغلي، خو مقصد ئې دا وو چي ځيني احکام داسي دي چي يوازي ئې په احاديثو کي موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره ئې وويل: په قرآن کي يوازي هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چي د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آيت نه بلکي د پيغمبر عليه السلام حديث دئ، څو ځلي ئې دا خبره تکرار کړه چي راوښيئ د قرآن کوم آيت دا استثناء جائز ګڼي؟!! ما ويل په قرآن کي دا استثناء شته خو څه وکړو چي ته نه ئې ورته متوجه شوی! قرآن ماهي د لحماً طرياً يعني تازه غوښي په نامه ياد کړی او دا ښيي چي ماهي د تازه او پاکي غوښي حکم لري، پيغمبر عليه السلام ځکه ويلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ. همداراز دې خطيب ويل چي د لمانځه ترتيب، اوقات او د رکعتونو شمېر په قرآن کي نه مومو... ما ويل: پيغمبر عليه السلام د لمانځه هر څه له قرآنه اخيستي، د الله په نامه د لمانځه پيل، قيام، تلاوت، رکوع، سجده، په رکوع او سجده کي تسبيحات، د لمانځه پنځه وختونه او د رکعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي چي په قرآن کي ورته يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېر وضاحت سره يا تلويحاً اشاره شوې، خو زه او ته د ځينو منشأ درک کولی شو او د ځينو نه،

د لمانځه د ځينو برخو منشأ په قرآن کې دا آيتونه دي:

(و ذکر اسم ربه فصلی) د تکبير تحريمه لپاره

په قرآن کې د سجدې امر اولس ځلې راغلی، د هرې ورځې د فرض رکعتونو شمېر هم اولس ټاکل شوی.

تل تر سجدې مخکې د رکوع ذکر راغلی د همدې لپاره په لمانځه کې رکوع تر سجدې مخکې ده.

د الزمر د سورې په دغو دوو آيتونو کې د تسبيح لپاره څلور وخته سحر، ماښام، ماخستن او ماپشين ذکر شوي:

[illegible]

[illegible]

نو د الله تسبيح وينه ده کله چې (ماښام) او (ګهيځ) ته ننوځئ او ده ته په آسمانونو او زمکې کې ستاينه ده او (ماخستن) او هغه مهال چې(ماپشين) ته ننوځئ.

او د طه د سورې په ۱۳۰ آيت کې د مازديګر د وخت يادونه هم شوې:

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÌÈ

نو په هغه څه چي دوی ئې وايي صبر وکړه او له ستايني سره د خپل رب تسبيح وايه (تر لمر راختو مخکي) او (تر لوېدو ئې مخکي) او (د شپې په يوې برخي کي) تسبيح وايه او د (ورځې په اطراف) کي؛ چي راضي شې.

دلته د سحر، مازديگر او ماخستن يادونه په صراحت سره شوې او دوو نورو وختونو ته د اطراف النهار په لفظ اشاره شوې.

د همدې لپاره د لمانځه پنځه وخته تکامل شوي.

کله چي د الواقعة د سورې په ۷۴ آيت کي دا امر وشو:

ù ÑÌ Çà ÈÇÓã ÑÈß ÇáÚÙíã ÇáÍÈ الواقعة:۷۴

نو پيغمبر عليه السلام وفرمايل: دا تسبيح په رکوع کي شامله کړئ.

او کله چي د الاعلى د سورې په لومړي آيت کي دا امر وشو:

ÓÈÍ ÇÓã ÑÈß ÇáÃÚáì ÇáÈ الاعلى: ۱

نو پيغمبر عليه السلام وفرمايل چي دا تسبيح په خپلو سجدو کي شامله کړئ.

که په قرآن کي غور وکړئ وبه گورئ چي د رکوع امر د سجدې په پرتله لږ دئ، د همدې لپاره په لمانځه کي د رکوع شمېر تر سجدې لږ دئ.

د الاسراء سورې په ۷۸آيت کي د سحر لمونځ د قرآن الفجر په نامه ياد شوی او دا ښيي چي قرائت د لمانځه اساسي برخه ده.

bÌ Ìó ýÇ$ bÇäÑ ÈÇÓ$ Ê¡ î 4Ì Ä ðÇ9$ Bqä Ì0 ÇÁ9$ ÉÍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

په دې آيت کې له يوې خوا د ګهيځ لمانځه ته قرآن الفجر ويل شوي له بلې خوا پنځو لمونځونو ته اشاره کوي: د لمر له زواله تر ماخستن پورې څلور لمونځونه او د سحر لمونځ ئې پنځم.

له دغو آيتونو نه په صراحت سره معلومېږي چې پيغمبر عليه السلام د لمانځه هر څه له قرآنه اخيستي.

همداراز په قرآن کې د اسلامي نظام ټول مهم ابعاد ښودل شوي، د امير د انتخاب څرنګوالی، د شوری څرنګوالی، د قيادت مواصفات، د هغه مسئوليتونه، د هغه د انتخاب څرنګوالی، د هغه په وړاندې د خلکو وجايب او په سياسي نظام پورې اړوند مسايل په ډېر وضاحت او په پوره تفصيل سره راغلي، مشکل په ما او تا کې دئ چې په دغو آيتونو کې مو غور نه دئ کړی، د اودس او تيمم پر يوه او دوه آيتونو مو لوی لوی کتابونه ليکلي خو د حکومت په اړه راغلي ګڼ شمېر آيتونو ته مو لازمه توجه نه ده کړې، سطحي ترې تېر شوي يو او لږ څه مو پرې ليکلي، دا زما او ستا نقص دئ نه د قرآن، ولې خپل عيب قرآن ته منسوبوې او بې ځايه نامناسبه ادعاء کوې چې په قرآن کې هر څه نه دي راغلي؟!! د مثال په توګه لاندې دوه آيتونه ستاسو مخې ته ږدم:

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

’írá AqlßS9$(qã«Û&r ©$(qã«Û& (þè3#ä ûïÏ%©!$#S7 ÇÎÈ #ŽÅÁ/

Ĥä bÎ) Ä AqßS9$#r « $’<Î) çnrŠãç ä ó« ’Î Ĥã“»Z? bÎù ( óOãZÏB ÍDF{$

ÇÎÈ x/ÍrÙ ß¡ ômr Žöz 7Ï9ºsŒ Ì ÅFy$Qöqu9$#r « $/ bqãZBsè

النساء: ۵۸-۵۹

یقیناً چي الله تاسو ته د دې امر کوي چي امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله چي د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چي الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصیحت کوي، یقیناً چي الله بصیر اوریدونکی دی.

اې مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کي مو په خپلو کي شخړه وکړه، نو الله او پیغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت په ورځ ایمان لرئ، دا ډېر غوره دی او د پایلې له لحاظه ډېر ښاېسته.

په دغو دوو آیتونو کي د اسلامي نظام په هکله څو داسي اساسي لارښوونې شوې چي که په ټول قرآن کي یوازي همدا آیتونه راغلي وی نو د دې نظام د معرفي لپاره کافي وو. باور وکړئ چي که څوک د دې دوو آیتونو الفاظو ته په دقیقه توګه ځیر شي او داسي ئې وڅېړي لکه ځینو فقهاوو چي د غسل او تیمم آیتونه په تفصیل سره څېړلي نو له شرحي او تفصیل نه به ئې یو ضخیم کتاب جوړ شي، زه په ایجاز او اختصار سره په دې آیتونو کي راغلي مطالبو ته ستاسو توجه رااړوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- الله تعالی (ټول اسلامي امت) ته (امر) کوي چي (امانتونه) خپل (اهل) ته وسپاري. د امانت معنی عامه هم کېدی شي او په هر مادي او معنوي امانت ئې هم اطلاق کېدی شي، خو دلته له امانت نه مراد د واکمنۍ او اقتدار امانت دئ.
- د اسلام له نظره اقتدار یو (امانت) دئ او د اقتدار خاوند د خلکو د امانتونو یو (امین).
- دا (امانت) به د مسلمانانو لخوا هغه چا ته سپارل کېږي چي (اهلیت) ئې ولري. او دا د ټول اسلامي امت مأموریت او الهي فریضه ده چي د اقتدار امانت او په هغه پورې مربوط ټول امانتونه به داسي چا ته سپاري چي د دې وړتیا او اهلیت په کي وي.
- لکه څنګه چي د هر امانت اصلي خاوند دا حق لري چي خپل امانت په کومو شرایطو او د څرمره مودې لپاره (امین) ته وسپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي، همداراز دا د خلکو حق دئ چي د امارت امانت چا ته، تر کله سپاري او کله ئې بېرته ترې واخلي.
- چا ته چي د امارت او واکمنۍ امانت وسپارل شي؛ هغه به په دې امانت کي د یوه امین په څېر تصرف کوي، نه د یوه مطلق العنان حاکم په څېر.
- دا د امانتونو امین په دې مکلف دئ چي د خلکو ترمنځ به ئې هر قضاوت پر عدالت ولاړ وي.
- که د دې امین (امیر) او د امانت د اصلي خاوندانو (خلکو) ترمنځ په کوم څه کي اختلاف راولاړ شي، نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، وروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخي کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د قانون په وړاندي ټول برابر دي، هیڅوک دا حق نلري چي ځان له قانون نه اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړي وروستۍ مرجع وګرځوي.

له دغو مبارکو آیتونو نه لاندي خبري معلومېږي:

- اسلام د امیر انتخاب هم د مسلمانانو وجیبه ګڼي او هم ئې حق. د خلکو لخوا (ثرګند) او (پټپله خوښه) بیعت ئې د امارت لپاره شرط ګرځولی.
- له امیر سره د خلکو بیعت داسي نه دی چي لومړی به هغه له کومي بلې لارې امیر کېږي او بیا به خلک د بیعت شکلي مراسم د دې لپاره ترسره کوي چي د ده په وړاندي د خپل اطاعت ثرګندونه وکړي، خبره داسي نه بلکي برعکس ده، دا بیعت دئ چي په هغه سره څوک امیر کېدی شي، تر څو چي خلک له چا سره بیعت ونه کړي امارت ئې نه شي مسلم کېدی، امیر هغه دئ چي خلک ورسره بیعت وکړي، له بیعت نه پرته مسلط شوی واکمن یو جابر او غاصب حاکم دئ.

د قرآن آیتونو، د پیغمبر علیه السلام سنت او د اصحابو رضي الله عنهم منهج ته په پام سره ویلی شو چي:

- د یوې غیراسلامي ټولنې په سیاسي حاکم نظام کي به له برخې اخیستو ډډه کوو، حتی که د دې نظام ریاست هم مونږ ته ومنلی شي.
- پدې نامسلماني ټولني کي به د انتخاباتو له لاري د تبدیلي راوستو او قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوو، دا ځکه چي پیغمبر علیه السلام داسي نه دي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اسلام غوښتنه دا ده چي لومړی به انقلاب راولو، غیراسلامي ټولنه به د جهاد له لاري په اسلامي ټولني بدلوو او اقتدار به له ظالمانو نه صالح کسانو ته انتقالوو، خو د انقلاب له راتلو او د اسلامي ټولني له جوړېدو وروسته به قدرت ته د رسېدو هره هڅه حرامه ګڼو، هلته به وسلې ته لاس کول او یا د زور او سازشونو له لاري قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوو، اقتدار به د مسلمانانو امانت او دا به د خلکو حق ګڼو چي قدرت د خپلي خوښي صالح او اهل کس ته وسپاري، دلته به امیر د مسلمانانو په خوښه او د دوی د بیعت له لاري ټاکل کېږي.
- د امیر انتخاب د ټولني د ټولو مسلمانانو کار دئ نه د څو محدودو کسانو کار، دا ځکه چي خلفای راشدین په جومات کي غوره شوي، نه د تړلو دروازو تر شا او د څو کسانو په خوښه.
- د امارت لپاره له یوه نه زیات کسان هم نومول کېدی شي، داسي لکه چي عمر رضي الله عنه ونومول.
- که له یوه نه زیات کسان د امارت لپاره راوړاندي کړی شول، د استفتاء او د خلکو رأيي ته د مراجعي له لاري کولی شو د دوی له منځ نه هغه څوک غوره کړو چي د مسلمانانو اکثریت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي.
- د امارت لپاره خاص مواصفات ټاکل شوي، د دغو مواصفاتو له مخي به اهل کسان نومول کېږي، خو د اهل کسانو له منځ نه د یوه انتخاب به د مسلمانانو د اکثریت په رأيه ترسره کېږي.

دا ډېره عجیبه ده چي د دغو څرګندو نصوصو په موجودیت کي او په داسي حال کي چي د راشدینو خلفاوو د انتخاب څرنګوالی ئې په مخکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت دئ، ځيني د امير انتخاب د خواصو حق ګڼي، ځيني په موروثي امارت باور لري، ځيني ئې د قريشو حق بولي او ځيني تر دوی مخکي درومي او يوازي د علي او د ده د اولاد رضي الله عنهم مسلم او منصوصي حق ئې ګڼي او وايي چي دوی د الله له لوري غوره شوي!! دغي وروستۍ ډلي ته بايد ووايو: که دا خبره سمه وی نو لومړی خو به په قرآن کي حتماً په دې هکله صريح آيت راغلی وو، پيغمبر عليه السلام به خلکو ته په واضح الفاظو ويلي وو، صحابه وو به هغه د لومړي خليفه په حيث او د ده اولاد له ده نه وروسته د امراوو په حيث غوره کړي وو، علي رضي الله عنه به له مخکنيو خلفاوو سره بيعت نه کاوو او تر ټولو مهمه خبره دا چي په قرآن کي به دا آيت نه راتلو چي اې مسلمانانو! الله تاسو ته امر کوي چي د امارت امانت اهل ته وسپارئ، که امارت موروثي وی او امير د الله او پيغمبر له لوري غوره کېدی نو مسلمانانو ته به ولي دا خبره کېده؟! او که موروثي وی نو ميراث خو ورثه وو ته پرته له دې سپارل کېږي چي وګوري هغه ماشوم دئ که ستر، هغه روغ دئ که ناروغ، عقل لري که بې عقله دئ، په ميراث کي خو د اهليت شرط نه شي وضع کېدی. آيا تاسو نه ګورئ چي د نړۍ په ظالمانه موروثي نظامونو کي دې خبري ته ځوک نه ګوري چي د واکمن وارث د دې منصب اهل دئ که نه، زوی، لور او ښځې ته ئې په ميراث پاته کېږي. د قرآن په لسګونو آيتونه د اهل کتابو د دغي غلطي انګېرني د ترديد لپاره راغلي چي دوی په موروثي نظام او له پلار نه اولاد ته د مذهبي مقام او منزلت په انتقال باور درلود.

دا هم ډېره عجيبه ده چي ځينې وايي: د يو چا د امارت لپاره د پنځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو بیعت هم کافي دئ، که له ټول امت نه یوازي پنځه کسان او حتی یو کس له چا سره بیعت وکړي هغه مسلم امیر دئ او په ټولو ئې اطاعت واجب!! دا هسي بې بنسټه او خوشې خبري دي هم د څرګندو نصوصو خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف. دا خبري یا هغه څوک کولی شي چي دا ټول حقایق له پامه وغورځوي او یا هغه چي د کوم دربار مفتي وي.

په پورتنیو آیتونو کي امارت د امانت په نامه یادول، دا حقیقت په ګوته کوي چي امیر به په ټولو هغو امانتونو کي د مسلمانانو په مشوره تصرف کوي چي د خلکو له لوري ده ته ورسپارل شوي، هیڅوک د چا په امانت کي د امانت ورکوونکي له موافقې پرته د تصرف حق نلري او اسلام داسي تصرف په امانت کي خیانت ګڼي.

له دې حکم څخه چي د امیر او خلکو ترمنځ اختلافي قضایا به قرآن او سنت ته راجع کېږي، دا حقیقت په ډاګه معلومېږي چي امیر په مشوره مکلف دئ، د اختلاف په صورت کي ده ته د وروستۍ پرېکړي حق نه دئ ورکړی شوی، وروستۍ فیصله به د قرآن او سنت له مخي کېږي. او همدا پر الله او د آخرت پر ورځ د ایمان تقاضاء ګڼل شوې.

خو دلته له اولوالامر منکم نه مراد د مسلمانانو کوم چارواکي دي؟ هر آمر که یوازي خلیفه او امیرالمؤمنین؟ که څه هم د اولي الامر منکم اطلاق په هر آمر کېدی شي، خو په دوه دلیله په اطمئنان سره ویلی شو چي له دې نه مراد د مسلمانانو عمومي امیر دی:

- له الله او پیغمبر نه وروسته ئې ذکر شوی.
- له نورو امراوو او چارواکو نه اطاعت په اصل کي له عمومي امیر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطاعت دی.

او دا چي شیعه ادعاء کوي چي پیغمبر علیه السلام په غدیر خم کي د الله تعالی په امر د علي رضی الله عنه د امارت په اړه وصیت وکړ او وایي چي لاندنی آیت په همدې ارتباط نازل شوی، د دوی په ځواب کي وایو:

د آیت الفالظ دا دي:

Mø7 $Jù @èø? ö©bĵr 7Î¢ `Ë š• øĵ Aìé$B öK Aqß9$$Š»ƒ

Pö)$$ “Ÿ‰ö Ÿw ©$ bĵ Ä $Z9$$ `Ë š• ßÅè/ ª!$ ¼çG9$™ƒ

ÇÊÈ ûïÍŸ»3ø$$ المائدة: ٦٧

اې پیغمبره! هغه څه ورسوه چي د خپل رب له لوري درته نازل شوي او که دې ونکړ نو د ده پیغام دي نه دئ رسولی او الله دي له خلکو ساتي، یقیناً چي الله دا کافر قوم نه هدایت کوي.

دا مطلب په دې سورې کي د پیغمبر علیه السلام په اړه درې ځلي، ٦٧، ٩٢ او ٩٩ آیتونو کي او د مؤمنانو په اړه یو ځل په ١٠٥ آیت کي راغلی، په دې آیت سره پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي خپل رسالت له خوف، وېري، تردد او تزلزل نه پرته په بشپړه توګه پای ته ورسوه، د هغه څه په تبلیغ او ولس ته په رسولو کي هیڅ کمی او قصور مه کوه چي د خپل رب له لوري درکړی شوي، که داسي ونه کړې نو تا به خپل الهي رسالت نه وي ترسره کړی، د دښمنانو د مخالفتونو هیڅ پروا مه کوه، الله تعالی ستا ساتونکی دئ، که خلک ستا دعوت ته مثبت ځواب ونه وایي؛ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مه مأیوسه کېږه او په خپل دعوت کي کمی مه راوله، داسي نه چي د خپل دعوت له نتايجو مأیوس شې او په نيمايي کي ئې پرېږدې، د خلکو د هدايت پرېکړه الله تعالی کوي، د دوی د عدم ايمان وجه دا ده چي الله تعالی دا کافر قوم د هدايت وړ نه ګڼي.

که څه هم په دې مبارک آيت کي خطاب پيغمبر عليه السلام ته متوجه دئ، خو هر مسلمان او مخصوصاً علماء چي د پيغمبر عليه السلام ورثه ګڼل کېږي، دا خطاب ورته متوجه دئ، بايد د دې رسالت وارثان دا الهي پيغام په بشپړه توګه او له خلکو نه له وېري او خوف پرته ورسوي، بايد مطمئن وي چي الله تعالی به ئې ساتنه کوي. په داسي حال کي چي د دې او دې ته د ورته آيتونو مفهوم ډېر واضح دئ، د صفا او روغ ذهن خاوندان په آسانۍ سره واضح مطلب ترې اخلي، خو متأسفانه د کږو او بيمارو ذهنونو خاوندان او هغه چي د قرآن په تحريف کي مهارت او جسارت لري، د دې آيت معنی د خپل کوږ ذهن مطابق تحريفوي او وايي: دلته پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي ته ولي د علي رضي الله عنه امارت نه اعلانوې، که دا کار ونه کړې نو تا خپل رسالت پای ته نه دئ رسولی، ولي له خلکو وېرېږې، ما خو تا ته ډاډ درکړی چي له خلکو دي زه ساتم، پيغمبر عليه السلام د دغه تهديد له اورېدو وروسته خلک په غدير خم کي راغونډ کړل او وئې ويل: د چا چي زه مولا يم علي به ئې مولا وي، علي له حق سره دئ او حق له علي سره، د علي دوست د خدای دوست دئ او دښمن ئې د خدای دښمن!! او همدا د پيغمبر عليه السلام د ځای ناستي په توګه د علي رضي الله عنه ټاکل وو!! دا په داسي حال کي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولا په هيڅ قاموس کي د ولي الامر، امير او ځای ناستي په معنی نه دئ راغلی، هيڅ خليفه او امير ته دا لقب نه دئ کارول شوی، صحابه وو به خپل آزاد کړي غلامان په دې نامه يادول او دا د دې لپاره چي د هغوی درناوی ئې کړی وي او د مريي په ځای ئې سالار او سردار نومولی وي.

له دې الفاظو څخه نه علي رضي الله عنه دا غلطه معنی اخيستې ده او نه صحابه وو.

پيغمبر عليه السلام ته له حجة الوداع نه د راګرځېدو په مهال دا اطلاع ورسېده چي د علي رضي الله عنه ځيني هغه ملګري چي له ده سره د زکات د راغونډولو لپاره يمن ته تللي وو، دی د يمن د غنايمو په اړه په لاسوهنو او ناروا تصرف متهموي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له پوښتنو او ګروېږنو وروسته معلومه شوه چي دا کسان له علي رضي الله عنه نه په دې خفه شوي وو چي د دوی غوښتنو ته ئې مثبت ځواب نه وو ويلی او هغه څه ئې نه وو ورکړي چي ترې غوښتل ئې، نو ځکه پيغمبر عليه السلام خلک راغونډ کړل او د علي رضي الله عنه په اړه ئې دې ته ورته څو تأييدي خبري وکړې.

دغو جنابانو ته وايو: دا هم د قرآن په نسبت يو کرکجن تور دئ او هم د پيغمبر عليه السلام په اړه، نه قرآن دومره مبهم، غامض او پېچلی دئ چي هيڅوک ئې له آيتونو مخامخ مفهوم نشي اخيستی او يوازي د رواياتو په مرسته کولی شي د هغه په مراد او مقصد پوه شي، او نه پيغمبر عليه السلام د خپل رسالت په ابلاغ کي دومره غفلت کولو چي په درويشتو کلونو کي ئې د الله تعالی حکم پټ ساتلی وو، هغه هم د خلکو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېري او اوس د ژوند په پای کي، له حجة الوداع نه د راګرځېدو په مهال، د لاري په نيمايي کي، د الله تعالی د وروستي تهديد په سبب خپل د سفر ياران راغونډوي او په داسي مبهمو الفاظو دا خبره ورته اعلانوي چي له شيعه وو پرته هيڅوک نه دي پرې پوه شوي!! آيا په قرآن او پيغمبر باندي ايمان لرونکی انسان به د داسي کرکجني خبري جسارت وکړي؟!!

دوی ته وايو: د ځای ناستي نه ټاکل د اسلام او د پيغمبر عليه السلام د عظمت نښه ده، اسلام په موروثي قيادت باور نه لري، دا د جاهليت د دور پاتې شوني ئې ګڼي، په اسلام کي امارت او قيادت اهل ته سپارل کېږي، نه له پلاره زوی ته په ميراث پاته کېږي او نه د تره زوی ته، د تره زوی خو د تره په شته والي کي په ورثه وو کي هم نه راځي، د پيغمبر عليه السلام د تره عباس رضي الله عنه په شته والي کي به د تره زوی څنګه وارث ګڼل کېږي؟

که قيادت موروثي وی نو له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم نه به د دوی هغو زامنو ته پاته شوی وو چي ټول مسلمانان ئې په اهليت، تقوی او علم باور لري، د ابوبکر رضي الله عنه زوی محمد بن ابوبکر خو په علي رضي الله عنه تر خپلو زامنو هم ډېر ګران وو، هغه ئې د والي په توګه ټاکلی وو.

موږ نه پوهېږو د دې آيت له کوم لفظ نه دا معنی راباسئ، آيا ګمان کوئ چي قرآن دومره مبهم او غامض دئ چي يوازي د رواياتو په مرسته ئې په حقيقي معنی پوهېدی شو؟ دلته خو نه تر دې آيت نه مخکي او نه وروسته د امارت موضوع څېړل شوې او نه د علي يادونه راغلې!! د تبليغ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library
الفاظ په دې سورې کي درې ځلي او هر ځل د ما أنزل الله د تبليغ او په بشپړه توګه د رسالت د رسولو په اړه راغلي، آيا له يوه متعصب او کوږ زړي انسان نه پرته بل څوک له دې څرګند آيت نه داسي غلط مفهوم اخيستی شي؟

موږ په دې عقيده يو چي له عثمان رضي الله عنه نه وروسته د علي رضي الله عنه د انتخاب په اړه د صحابه وو پرېکړه تر ټولو مناسبه او عادلانه پرېکړه وه، تر بل هر چا زيات دی د دې مقام لپاره وړ وو، خو تر دې د مخه هغه په عمر خام وو، د مشرانو صحابه وو په شته والي کي ده ته په ځوانۍ کي دا منصب نشو سپارل کېدی.

خو متأسفانه شيعه ګان وايي: امامت منصوصي دئ او امام د الله له لوري نصب کېږي!! د دغي عقيدې له مخي دوی په غائب امام باور ته اړ شول او د حکومت جوړولو او د امام او امير د ټاکلو او غوره کولو له وجيبې نه ئې لاس واخيست، په دې حکم ئې عمل کول پرېښودو چي مسلمانان به حکومت جوړوي، د ظالمانو او مفسدينو واکمني به پای ته رسوي، اقتدار به صالح، عادل او متقي واکمنانو ته لېږدوي او د امارت او امامت منصب به داسي چا ته سپاري چي د دې مقام اهليت ولري، د دوی دا عقيده د هغه دښمن په ګټه وه چي غواړي دين له سياست نه ګوښه شي، مسلمانان حکومت ونلري او په يوه امير او امام راغونډ نشي، په داسي حال کي چي د قرآن له بشپړېدو وروسته د وحي لړۍ بنده شوه، په قرآن کي د پيغمبر د ځای ناستي يادونه نه ده شوې، له دې وروسته نه پيغمبر راځي او نه وحي، که خلک هم د امام د غوره کولو حق ونلري، نو دا امام به څنګه غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي؟ مگر د دې عقيدې طبيعي او محتومه نتيجه دا نه ده چې خلک به انتظار کوي؟ غائب امام ته او مجهول راتلونکې ته؟ او آيا دا هغه څه نه دي چې دښمن ئې غواړي؟!! په ايران کي انقلاب راغی، چا راووست او څنگه راغی دا بېله خبره ده، په هر صورت قدرت د مذهبي مشرانو لاس ته ورغی، خو د دې عقيدې پلويان حيران وو چې اوس دا انقلاب د خپلې عقيدې له مخي څنگه توجيه کړي؟ دوی خو په دولسو امامانو باور لري، ديارلسم امام خو د دوی په مذهب کي هيڅ مجال او توجيه نه لري؟ دوی خو په دې باور وو چې دولس امامان د وحي له لاري ټاکل شوي، خو اوس د دې باور خلاف دوی په خپله امام او رهبر او جمهور رئيس انتخابوي، دا خو ټول د دوی د عقيدې او باور خلاف کار دئ!! مجبور شول د ولايت فقيه په نامه داسي اصطلاح راوباسي چې نه ئې په خپلو مذهبي کتابونو کي نښه مونډلی شوی او نه له دې مخکي د دوی هېچا دا خبره کړې وه!! نه پوهېږو ولي د يوې غلطې رأيي لپاره په قرآن داسي ملنډې وهي؟ کوم عقلمن انسان به داسي تعبير او تفسير ومني؟ ولي د واقعيت خلاف خبره کوي؟ ولي د داسي بې بنسټې خبري لپاره په امت کي د اختلاف باعث کېږي؟ که اوس هم دوی دا خبره ومني چې د امام او امير غوره کول د مسلمانانو وجيبه او حق دئ نو په امت کي به د اختلاف يو مهم ټکی ختم شي او ټولي هغه اختلافي مسئلې به حل شي چې له دغي غلطي انگېرني راولاړې شوې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا د امیر ترخنگ د صدراعظم ټاکل صحیح دي؟

د لیکوال د دې ادعاء په اړه چي د امیر ترخنگ صدراعظم درلودل نه یوازي جائز دي بلکي د خلافت عامه په دور کي دا کار شوی او ځینو خلفاوو دا کار کړی!! څو عرایض لرم:

لیکوال د امویانو او عباسیانو دورې ته د خلافت عامه نوم ورکړی او دا په داسي حال کي چي په هغه روایت ئې هم استناد کړی چي د راشدینو خلفاوو له دوران وروسته مرحله ئې د ملوکو او پاچایانو دوران گڼلی.

راشئ هغه روایت له نظره تېر کړو:

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ قَالَ حَدَّثَنِى سَفِينَةُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الْخِلاَفَةُ فِى أُمَّتِى ثَلاَثُونَ سَنَةً ثُمَّ مُلْكٌ بَعْدَ ذَلِكَ ». ثُمَّ قَالَ لِى سَفِينَةُ أَمْسِكْ خِلاَفَةَ أَبِى بَكْرٍ وَخِلاَفَةَ عُمَرَ وَخِلاَفَةَ عُثْمَانَ. ثُمَّ قَالَ لِى أَمْسِكْ خِلاَفَةَ عَلِىٍّ. قَالَ فَوَجَدْنَاهَا ثَلاَثِينَ سَنَةً. قَالَ سَعِيدٌ فَقُلْتُ لَهُ إِنَّ بَنِى أُمَيَّةَ يَزْعُمُونَ أَنَّ الْخِلاَفَةَ فِيهِمْ. قَالَ كَذَبُوا بَنُو الزَّرْقَاءِ بَلْ هُمْ مُلُوكٌ مِنْ شَرِّ الْمُلُوكِ. رواه الترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سعيد بن جهمان نه روايت دئ چي سفينة راته وويل: رَسُولُ اللّٰهِ -صلی الله عليه وسلم وفرمايل: زما په امت کي به خلافت تر دېرشو کلونو پوري وي بيا به له دې وروسته پاچايي وي. بيا سفينة راته وويل: د ابوبکر، عمر، عثمان او علي خلافت درواخله، نو هغه مي ټول دېرش کاله وموندل. سعيد وويل: ما هغه ته وويل: امويان گمان کوي چي خلافت په دوی کي دئ! هغه وويل: دا بنو زرقاء دروغ وايي، بلکي دوی تر ټولو بد پاچايان دي.

گورئ چي د پاچايي او ملوکيت په اړه او د امويانو د واکمنۍ په اړه د صحابه وو رضی الله عنهم رأيه څه وه؟!!

څوک چي له اسلامي فرهنگ نه لږ معلومات هم لري په دې پوهېږي چي د صحابه وو په دوران کي ملوکيت ته په سپکه سترگه کتل کېدل او د پاچايانو په اړه ئې د قرآن د هغه آيت له مخي قضاوت کولو چي فرمايي: پاچايان چي هر هېواد ته داخل شي تباه کوي ئې او عزتمن خلک ئې سپکوي، د قرآن الفاظ دا دي:

\ÇË& $gÎd& o£Ä& #(þè _r $drÏ% ¡ ùøœ þ/ö% #(qèz Š #Œ Î) 8qè=ßJø9$# ¨bÎ) ôMs9$%

ÇÌÍÈ šc qè=yèøÿt 7 Ï9ºx‹ .r

وئې ويل: يقيناً دا پاچايان چي هر ملک ته داخل شي په فساد ئې اخته کوي او تر ټولو عزتمن خلک ئې تر ټولو زيات سپکوي، او همداسي کوي.

دلته قرآن په اصل کي د سبا د ملکې وينا نقل کړې خو په پای کي ئې ويلي چي هو! همداسي کوي، يعني دا د پاچايانو خصلت دئ چي تر خپل تسلط لاندي ملک کي فساد خوروي او باعزته خلک سپکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز قرآن د بني اسرائيلو د انحطاط د دور یوه داسي غلطه غوښتنه یادوي چي له خپل پیغمبر نه ئې د دوی لپاره د یوه پاچا د ټاکلو په اړه کړې وه، بایبل هم دا قصه په دې توګه رااخیستې ده: ... اسرائیلیانو له سموئیل نه وغوښتل چي دوی ته یو پاچا وټاکي... سموئیل له خدای نه وپوښتل چي څه وکړي؟ خدای ورته وویل: دوی چي څه وایي همغسي وکړه، ځکه دوی ته نه ئې رد کړی، زه ئې رد کړی یم، نه غواړي چي زه ئې پاچا وم، ... خو پوه ئې کړه چي د پاچا درلودل څومره بدې پایلې لري!! سموئیل ورته وویل: که پاچا غواړئ نو هغه به ستاسو زامن د ځان نوکران کړي، ځیني به په ګاډیو، ځیني پر آسونو د ده خدمت کوي او ځیني به د ګاډیو مخي ته ځغلي، ځیني به په فوځ کي او ځیني په پټیو کي وګماري، تر ټو زمکي یوې او حاصلات ورته راغونډ کړي.... ستاسو لوڼي به هم په کار وګماري، ځیني به ډوډۍ ورته پخوي او ځیني به ښه عطرونه ورته جوړوي، ستاسو ښې زمکي او باغونه به درنه واخلي او خپلو خلکو ته به ئې ورکړي...له تاسو به عشر اخلي او په خپلو درباریانو به ئې مصرفوي، ... ستاسو هر څه به د ځان کړي او تاسو به خپل غلامان، .. خلکو د ده نصیحت ونه منلو... دغو مطالبو ته په پام سره په دې پوهېدی شو چي صحابه وو د ملِک او پاچا په اړه څه انګېرنه او احساس درلودو او د هغه روایت معنی څه ده چي له خلافت نه وروسته دوران ته د ملوکیت نوم ورکوي. دا دور د تقلید وړ دور نه دئ، د غندلو او محکومولو دور دئ، د قرآن ، سنت او صحابه وو له منهج نه د انحراف دور دئ، څوک چي د دین له حقیقته خبر وي هیڅکله د دغه دوران د حکامو په چلند استناد سره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چي دا کار د دې لپاره جائز دئ چي دغو حکامو کړی، دوی صدراعظم ټاکلی نو ځکه صدراعظم ټاکل جائز دي!! موږ خو وايو: خلافت په ملوکيت بدلول، اقتدار موروثي کول او له پلار نه ئې زوی ته لېږدول، د يوه ټبر او قوم حق ئې ګڼل، قصرونه جوړول، د جومات پر ځای په قصرونو کي او د تړلو دروازو تر شا د واکمنانو غوره کول، د اقتدار په سر جګړي، د پيغمبر عليه السلام د کورنۍ اويا غړي په يو ځای وژل، بيت المال غنيمت ګڼل او په هغه کي په خلاص لاس ناروا تصرف، د شوری اصل ته شا کول، شوری غيرملزمه ګڼل، انتصابي شوراګاني جوړول، امراء غير مسئول او واجب الاحترام ګڼل او د دې لپاره صدراعظم ټاکل چي امراء عيش او عشرت ته فارغ وي او په کارونو کي د نيمګړتياوو په اړه د اعتراض ګوته دوی ته ونه نيول شي او ... دا د دغه دور هغه ځانګړتياوي وې چي هيڅ د ايمان خاوند او په اسلام پوه کس ئې نشي تأييدولی.

آيا دا صحيح ده چي څوک ووايي: د صحابه وو په څېر خلک تر قيامته نشي پيدا کېدی نو ځکه موږ بايد په دې زمانه کي د خاصه خلافت د زمانې نظام او د خلفاوو په څېر د عالي صفاتو او لوړو صلاحيتونو لرونکو شخصيتونو لټه ونه کړو؟! يعني موږ هغسي نظام نشو جوړولی، هغسي شخصيتونه نه شو موندلی، نو نه به د هغه مهال د نظام په څېر نظام غواړو او نه د خلفاوو په څېر شخصيتونه او نه واکمن ته هغسي صلاحيتونه، دندي او مسئوليتونه!! په دې اړه بايد ووايو: هو! د صحابه وو په څېر شخصيتونه نشو موندلی او د هغه مهال نظام ته ورته نظام نشو جوړولی، خو موږ په همداسي کولو مکلف يو، موږ د پيغمبر عليه السلام په څېر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشو کېدی خو له هغه نه په اطاعت او د هغه په څېر کېدو باندي مکلف یو، حتی پیغمبر علیه السلام فرمایي چي تخلقوا بخلق الله: په الهي اخلاقو ځان سمبال کړئ، موږ په دې مکلف یو چي همغه نظام به جوړوو چي پیغمبر علیه السلام جوړ کړ، همغه چي راشدینو خلفاوو وپالو، زموږ د امیر صلاحیتونه به دومره وي چي هغوی درلودل، وظایف او مسئولیتونه به ئې همغسي وي، حقوق او امتیازات به ئې همدومره وي، د انتخاب طریقه به ئې د هغوی د انتخاب طریقې ته ورته وي، د امیر لپاره به هغه ځانګړتیاوي او مواصفات ضروري ګڼو چي صحابه وو ضروري ګڼل، دې ته مو باید پام وي چي د دوی مقام او منزلت ته رسېدل یوه معنی لري او د دوی په څېر د کېدو هڅه کول بله معنی لري، که یو ئې محال وي په بل ئې موږ مکلف یو. دا قطعاً د منلو وړ خبره نه ده چي څوک ووايي: که راشدینو خلفاوو صدراعظم نه درلود، موږ اوس داسي نظام جوړولی شو چي صدراعظم ولري او صلاحیتونه د امیرالمؤمنین او صدراعظم تر منځ په یوه تناسب ووېشل شي، ځکه دا کار کوو چي موږ د راشدینو خلفاوو په څېر شخصیتونه نشو موندلی!! نو ځکه وایو چي کولی شو د اموي او عباسي نظامونو په څېر کوم نظام جوړ کړو، په هغوی کي ځینو صدر اعظم ته ورته چارواکي درلودل نو موږ هم کولی شو دا کار وکړو!! دا یوه شخصي نظریه کېدی شي نه له اسلامي لارښوونو راټوکېدلې او په شرعي اصولو ولاړه نظریه. لیکوال لیکي چي د هارون الرشید خلیفه په زمانه کي جعفر بن یحیی برمکي د صدر اعظم لاځه چي د سلطان په لقب سره یادېدو، د خلافت امنیتي، دفاعي، او مالي چاري د هغه تر صلاحیت پوري تړلې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدغه وجه ده چي د تاريخ پوهانو په قول د عظمی صدارت د منصب پوري اړوند ټول فرايض او اختيارات د عباسي خلافت په دوره کي مرتب او تدوين شوي!! محترم ليکوال ته څو خبري لرو:

- نه پوهېږو تاسو د کوم مذهب په استناد دا خبره کوئ، موږ خو په اسلامي مذهبونو کي داسي مذهب نه مومو چي د عباسي امراوو کړه وړه ئې هم د تقليد وړ مرجع ګڼلې وي، په مذهبونو کي خو ځيني يوازي قرآن او سنت او ځيني قرآن، سنت، اجماع او قياس مراجع بولي. د احنافو په علماوو کي خو هيڅا ستا خبره نه ده کړې، امام ابوحنيفه خو د دغو امراوو د قضاوت دنده هم قبوله نه کړه، زندان ته تګ ئې تر دې غوره وګڼلو!!
- آيا موږ د هارون الرشيد په متابعت مکلف يو که د پيغمبر عليه السلام د سنت او د صحابه وو د منهج؟ که زموږ مخي ته دوه نظامونه کېښودی شي؛ يو ئې د راشدينو خلفاوو نظام ته ورته او بل ئې د عباسي امراوو حکومت ته ورته؛ موږ به کوم يوه ته ترجيح ورکوو؟ آيا يو متعهد مسلمان چي د دين له حقيقته خبر وي او د عباسي حکامو له هغو کړنو هم واقف وي چي د مطلق العنانو سلاطينو په توګه ئې ترسره کړي؛ دا خبره کولی شي چي هارون الرشيد صدراعظم درلود نو موږ هم صدراعظم ټاکلی شو، هارون الرشيد د عباسيانو په جابرو سلاطينو کي په نسبي توګه تر نورو غوره وو، خو هغه يو خليفه نه بلکي يو ملک او سلطان وو، اقتدار په ميراث ورته پاته وو او په ميراث ئې خپلي کورنۍ ته پرېښود. آيا کولی شو په دې کار کي هم د هارون الرشيد تقليد وکړو چي اقتدار ئې په خپلي هغي کورنۍ کي په ميراث پرېښود چي يوه ئې بل ووژلو، سترګي ئې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایستلې، د اقتدار لپاره ئې د مسلمانانو د وینو له تویولو هم ډډه ونه کړه؟!!

محترم لیکوال دا خبره نه مني چې د اوس مهال پارلماني نظام، د پاچا او جمهور رئیس تر څنګ د صدر اعظم درلودل، د دوی تر منځ په یوه تناسب د صلاحیتونو وېش له انګرېز ډوله دیموکراسۍ اخیستل شوی، خو حقیقت همدا دئ. دې نظام ته اسلامي رنګ ورکول او داسې دلایل لټول چې ثابته کړي دا نظام له اسلام سره ورته والی لري یا د هېواد او ولس په ګټه دئ؛ بې فایدې او بې ځایه هڅه ده. موږ نه د انګرېزانو پارلماني نظام او نه د امریکایانو ریاستي نظام اسلامي نظام ته ورته او نږدې ګڼو، موږ اسلامي نظام غواړو، له خپلو ټولو هغو ځانګړتیاوو سره چې د راشدینو خلفاوو په دوران کې ئې درلودل. یوازې موږ نه بلکې د افغانانو غوڅ اکثریت اسلامي نظام غواړي، د اسلام لپاره ئې قرباني ورکړې، له اسلام نه پرته په بل څه نه راضي کېږي، که بل نظام د وسلې په زور او د بهرنیو لاسوهنو، سازشونو او فشارونو له لارې د دوی په هېواد وتپلی شي پایله به ئې د شوروي اتحاد د وسلو او فوځونو په زور د تپل شوي نظام پایله وي او فقط تر هغه به دوام کوي چې افغان ولس ئې د نسکورولو توان او فرصت تر لاسه کړي.

- افغانان اوس اسلامي نظام له غیر اسلامي نظام نه تر ډېره حده پېژندی شي، د جهاد په کلونو کې دوی له اسلام نه هومره څه زده کړي چې اوس ئې څوک په آسانۍ نه شي غولولی.
- اسلامي نظام هغه دی چې په هغه کې: اسلامي شریعت د ټولو قوانینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازنی مأخذ وي، ټولي شخړی او منازعات د اسلامي شريعت په رڼا کي حل وفصل شي، چارواکي په خپلو ټولو اجرءاتو کي شريعت ته التزام ولري، له ملت سره په مشوره مکلف وي او د ملت له استازو جوړه شوې شوری تر ټولو با صلاحيته مرجع وي. د چارواکو په واک کي صلاحيتونه او ملي شتمني امانت وګڼل شي، د ولس معلن او بلا اجبار بيعت او رأيه د نظام د مشروعيت مبنا وي او ولس مشر د ولس په خوښه غوره شي.

ليکوال موږ ته طعنه راکوي او ليکي: که په اسلامي نظام او حکومت کي د صدراعظم منصب بدعت او ناروا وي؛ څنګه چي ښاغلي (حکمتيار) په خپل کتاب کي ليکلي، نو بيا خو د دې ناروا بدعت عمل ارتکاب لومړی په خپله ښاغلي حکمتيار کړی... په همدې لړ کي د ۱۳۷۵کال د جوزا په مياشت د ماهيپر هغه تړون ته اشاره کوي چي په ترڅ کي ئې د صدارت مقام حزب ته وسپارل شو... د دې صحيح اعتراض او خام استدلال په اړه دا عرايض لرو:

- اعتراض په اعتراض ځوابول نه علمي ځواب دئ او نه علمي څېړنه، دا له کيني او عقدې راخوټېدلی ځواب دئ.
- که هر څوک له پارلماني نظام سره توافق وکړي او خپل اساسي قانون د شاهي نظام له هغه قانون نه اقتباس کړي چي له انګرېزانو ئې ترلاسه کړی، اشتباه ئې کړې. د بل اشتباه ستا غلطي نشي توجيه کولی.
- د رباني له ډلي سره د حزب اسلامي هغه د روغي جوړي موقت توافق د پارلماني نظام د تأييد په معنی نه دئ.
- حزب اسلامي هغي معاهدې ته طالبانو مجبور کړ، طالبانو له شا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library
پر حزب بریدونه کول، حزب ته په دوو جبهو کي جنګېدل ګران یا ناسم کار وو، د حزب اسلامي اهل رأی په جلال آباد کي راغونډ شول، له دوو بدیلونو څخه ئې یو باید غوره کړی وی: د کابل د چارواکو د روغي جوړي بلني ته مثبت ځواب یا انتظار، د رأیو په داسي اتفاق سره ئې د کابل بلني ته د مثبت ځواب ویلو پرېکړه وکړه چي یوه کس هم ورسره مخالفت ونه کړ، خو د دې پرېکړي نتایجو ته په پام سره حزب اسلامي وویل چي دا یوه ستره سیاسي اشتباه وه، ځکه معلومه شوه چي د کابل د هغه مهال چارواکي په خپلو ژمنو کي صادق نه ول، خپل تعهدات ئې ترپښو لاندي کړل، مسکو او تهران دې ته پرېنه نښودل چي پر هغي معاهدې عمل وکړي. همدرد صاحب له مسعود، جنرال دوستم او جنرال مالک سره د طالبانو پټ او ښرګند ائتلافونه، او د همدې غلطیو په سبب په زرګونو طالبان د مرګ کومي ته لېږل، د حزب اسلامي په ضد ناروا او بې موجبه جګړه نه یادوي خو د ماهیپر په هغي معاهدې استناد کوي چي حزب تر ده ډېر د مخه یوه اشتباه ګڼلې!!

## موږ څنګه نظام غواړو؟

د دغو اصولو په رڼا کي موږ د هېواد لپاره داسي نظام غواړو چي:

- ولس مشر به د ملت په خوښه او د آزاد، معلن او غیر اجباري بیعت له لاري ټاکل کېږي، نه د محدودو کسانو له خوا او په پټه، په جومات کي به ټاکل کېږي نه په قصرونو کي، ټول خلفاء راشدین په جومات کي غوره شوي نه په کوم قصر یا پټ ځای کي، له بیعت نه وروسته خلیفه شوي نه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیعت نه مخکي، بیعت د خلیفه له انتخاب نه وروسته شکلي یا رسمي مراسم نه دي بلکه خلیفه له همدې لاري غوره کېږي، خلیفه هغه دئ چي ملت ورسره بیعت وکړي، دا د کوم شخص یا کورنۍ موروثي حق نه دئ چي له پلار نه زوی ته په میراث پاته شي، دا د ملت امانت دئ چي په خپله خوښه به ئې اهل ته سپاري. هم د دې امانت د اهل تشخیص د ولس حق او وظیفه ده او هم ئې سپارل، یوازي هغه څوک د مسلمانانو جائز مشر ګڼل کېږي چي مسلمانانو په خپله خوښه انتخاب کړی وي او په خپله رضاء ئې ورسره بیعت کړی وي. په صندوق کي رأیه اچول د بیعت ښه نعم البدل دئ. ځکه مخامخ بیعت په یوې وړې ټولني کي ممکن دئ نه په سترې ټولني کي.

- منتخب مشر له یوې خوا په دې مکلف دئ چي په ټولو چارو کي به د شریعت په نسبت التزام لري، له بلي خوا له ولس سره په مشوری مکلف دئ. په اسلامي ټولني کي امور په مشوره ترسره کېږي، نه دا چي حاکم آخري مرجع وي. د قوانینو مرجع په ترتیب سره شریعت، عرف او اجماع ده، واکدار او هیچا ته دا حق نه دئ ورکړی شوی چي له خپلي خوا قوانین صادر کړي. قضایا به د شریعت مطابق حل او فصل کېږي او امور به د خلکو په مشوره تر سره کېږي. اولی الامر هم له شریعت نه د انحراف په صورت کي مستحق العزل دئ او هم د استبداد، مطلق العناني او د مشورې له اصل نه د انحراف په صورت کي.
- په دې نظام کي چارواکی د ولس مالک الرقاب او د هېواد ټولواک نه بلکي د ولس خادم او د دوی د امانتونو امین دئ. فقط په هغه صورت کي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر هغه وخته د واک امانت له ده سره پاته کېدی شي چي د امانت اصلي خاوندان یعني ولس وغواړي او په امانتونو کي ئې خیانت نه وي کړی.

- هم د ده صلاحیت د شریعت په رڼا کي او د مسلمانانو په خوښه ټاکل کېږي او هم ئې حقوق، وجائب او مسئولیتونه.
- د اسلام له نظره هغه د ولس (مستخدم) دی، نه آقا او بادار، د (خدمت) په دوران کي یوازي هومره (اجوره) ترلاسه کولی شي چي ولس ئې ورته ټاکي، واکمني ده ته په نورو مسلمانانو هیڅ مادي امتیاز نه بخښي.
- په اسلامي ټولني کي د مشر لپاره، د سلطان، پاچا، واکدار، حاکم او رئیس په ځای د خلیفه نوم او مفهوم غوره شوی، چي ځای ناستي ته وایي، دا ځکه چي په اسلامي ټولني کي مشر د خلکو له خوا غوره کېږي او د خلکو نائب او ځای ناستی وي، خلک ئې د بیعت له لاري غوره کوي، په ملي شتمنیو کي د ولس د استازي په توګه او د دوی په مشوره تصرف کوي. هغه (آمر) نه دی، (امیر) دئ، فرمانونه نه صادروي، کارونه ترسره کوي، د آمر او امیر ترمنځ فرق همدا دئ: آمر یعني امر کوونکی، حکم کوونکی او امیر یعني د امورو ترسره کوونکی او د چارو سنبالوونکی.
- نظام باید داسي وي چي په دیکتاتوري او استبداد منتج نه شي. داسي نه چي واک د یوه کس یا کورنۍ په لاس کي پرېوځي نو ټولواک شي او اقتدار د دغي کورنۍ موروثي حق.
- اسلام، سلطنتي نظام هم د فساد او تباهۍ عامل ګڼي او هم ئې د انساني عدالت او برابرۍ مغایر. هغه اختیارات چي په سلطنتي نظام کي یوه (پاچا او سلطان) ته ورکول کېږي، اسلام دا اختیارات فقط د الله تعالی لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختص کړي. د اسلام له نظره پاچا هغه څوک دئ چي ځان د خدای ځای ناستی ګڼي، که څه هم دا خبره په خوله نه کوي. قرآن د فرعون په اړه وايي چي هغه ځان د خلکو (اله) او (رب اعلی) ګڼلو، يعني ځان ته ئې هغه اختيارات ورکړي وو چي يوازي له خدای سره ښايي. قرآن د فرعوني نظام څو ځانګړتياوې بيانوي:

۱. فرعون ځان (اله) ګڼي، د حلال او حرام، جائز او ناجائز د ټاکلو وروستۍ مرجع.

۲. ځان ته ټولواک وايي او د مصر د ټولو شتمنيو مالک.

۳. هغه خلک په ډلو ډلو وېشلي: مرفه او حاکمه طبقه، محرومه او محکومه طبقه، فوځ او واکمنه طبقه.

- قدرت بايد په مرکز کي داسي متمرکز نه شي چي څو کسان د کودتا له لاري وکولی شي دا مرکز اشغال او په ټول هېواد مسلط شي او يا بهرني ځواکونه د مرکز په نيولو سره ټول هېواد اشغال کړي، هم بايد د کودتاګانو ټول امکانات د تل لپاره له منځه يووړل شي او هم بهرني ځواکونه داسي ګمان ونه کړي چي د مرکز په نيولو سره ټول هېواد نيولی شي. نه داسي نظام چي په انارشيزم منتج شي او هېواد د تجزيې په لور وخوځوی او شرير ځواکونه منطقوي، محلي او قومي استقلال او خپلواکي ته وهڅوي او يا بهرني ځواکونه د مرکز د ضعف په وجه د هېواد ځيني برخي اشغال کړی شي، نه له مرکز نه تيښته او نه په مرکز کي ذوب کېدل، بلکه د دواړو تر منځ تعادل، نه دا چي په مرکز د څو کسانو تسلط په دې منتج شي چي د هېواد او ولس هر څه د دوی د خوښي مطابق تغيير

(c) ketabton.com: The Digital Library

وومومی، فرهنګ، مذهب، اخلاق، دود دستور، خارجي او داخلي سیاست، اقتصادي او اجتماعي نظام او هر څه، پنځه کمونست افسران کمونستي انقلاب اعلان کړي او پنځه د اروپا او امریکا په نایټ کلپونو کي ستر شوي د امریکا په زور په مرکز مسلط او په ټول هېواد امریکایي دیموکراسي او کوبائي اخلاق مسلط کړي، راډیو، تلویزیون، اخبار او مجلې، مسجد او منبر د دوی په لاس کي پر یوځي.

- نظام باید داسي نه وي چي اقتدار له بر نه د لاندي په لور او له مرکز نه د اطراف په لور خور شي.
- اجتماعي عدالت تأمین کړي، د مرکز او اطراف تر منځ ژور تفاوت رامنځته نه کړي. داسي نه چي ټول تسهیلات او وسایل د مرکز په واک کي وي او واکمنان او د مرکز اوسېدونکي ترې برخمن وي او د اطراف اوسېدونکي له ټولو ابتدائي تسهیلاتو نه محروم وي. داسي نه چي اطراف د مرکز قرباني شي، باید اطراف د مرکز د استحصال او استثمار وسیله نه وي، دا نه له عدالت سره اړخ لګوي او نه په هیڅ معیار او میزان کي د منلو دئ چي سړک، برق، ګاز، پاکي اوبه، روغتونونه، پوهنتون، مکاتب او مدارس، پارکونه او ... په مرکز کي وي او د اطراف خلک له دې ټولو محروم!! په دې سره له یوې خوا عدالت تر پښو لاندي کېږي له بلي خوا خلک له اطراف نه د مرکز په لور مخه کوي، په ښارونو کي ازدحام جوړېږي، اطراف ورو ورو تخلیه کېږي، زراعت او مالداري صدمه ګوری..
- د دولت د ټولو عوایدو منبع په اصل کي خلک دي، که دا مالیه ده او که د ګمرکاتو محصول، د ګمرک اصلي تأدیه کوونکي هم خلک دي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library
تاجران، تاجر چي د گمرک په نامه څه ورکوي له عام اخيستونکو نه ئې بېرته تر لاسه کوي! د عدالت غوښتنه دا ده چي له شتمن نه واخستلی شي او نادار ته ورکړی شي. اسلام هغه نظام مردود گڼي چي له غريب نه ئې اخلي او په مرفه او بډای طبقې ئې مصرفوي. په اسلامي نظام کي دولت د محرومانو متکفل دئ، هغه مکلف دئ چي له شتمنو څخه به عشر او زکات اخلي او محرومانو ته به ئې ورکوي. قرآن د دې مخالف دئ چي سرمايه د محدودو کسانو ترمنځ لاس په لاس شي، د محروم له مجبوريت نه ناروا استفاده وشي، بډای ضروري شيان احتکار کړي او په دې سره ئې بيه لوړه او له بې وزلو نه گټه ترلاسه کړي، اسلام سود د همدې لپاره حرام کړئ چي دا د محرومانو له مجبوريت نه د شتمنو د استفادې ذريعه ده.

- د اجتماعي عدالت معنی دا ده چي د ټولني ټول وگړي برابر وگڼل شي، له خلکو سره برابره معامله وشي، دولت په خپلو اجراءاتو کي دا برابري او عدالت مراعات کړي. واکمن دا حق نه لري چي ملي شتمني غنيمت وگڼي او په خپله خوښه په هغې کي تصرف وکړي. دا حق هم نه لري چي له دولتي حيثيت نه په استفادې سره کومه تجارتي او اقتصادي معامله ترسره کړي، داسي گټه شريعت تحريم کړې.
- دې ته مو بايد پام وي چي پارلماني نظام د بريتانيايي استعمار ميراث دئ او د بريتانيا له خوا د دوی په مستعمراتو کي رائج شوی. رياستي نظام امريکايانو معرفي کړی او دې ته ترجيح ورکوي چي په خپلو مستعمراتو کي دا نظام وگوري. دا دواړه نظامونه نه يوازي له دې ناحيې د اعتراض وړ او مردود دي چي د استعماري ځواکونو زېږنده دي بلکي له دې پلوه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library
چي بې شمېره نواقص لري، ځيني اساسي ستونزي او نواقص ئې دا دي:

- انتخابات ئې د قمار په څېر دي، له څو کانديدانو نه يو هغه کس پارلمان ته ځي چي تر نورو ئې څو رأيې زياتي ترلاسه کړې وي، کېدی شي د ناکامو کانديدانو مجموعي رأيي تر کامياب کانديد نه زياتي وي.
- چا چي ناکامو کانديدانو ته رأيه ورکړې په پارلمان کي ممثل او استازی نه لري. په دې ترتيب پارلمان د يوه اقليت ممثل وي نه د اکثريت او نه د ټول ملت.
- دا د شتمنو او په ټولني د حاکمي طبقې سلطې ته قانوني جواز برابروي، يوازي شتمن کسان کولی شي په دې انتخاباتو کي برخه واخلي او مصارف ئې متحمل شي، په ټولو هغو ملکونو کي چي دا راز انتخابات ترسره کېږي، د ناداري طبقې نه هيڅوک د پارلمان غړيتوب نه شي ترلاسه کولی، اکثر غړي ئې د جګي طبقې او ډېر کم ئې د متوسطي طبقې څخه وي. په انګرېز دوله پارلماني نظام کي انتخابات په اصل کي د حاکم او مسلط سياسي او اجتماعي نظام د بقا او هغه ته د مشروعيت ورکولو وسيله وي. په سياسی، اقتصادي او اجتماعي لحاظ مسلطه طبقه له دې لاري پارلمان ته لار مومي.
- د هېواد صدراعظم د محدودو کسانو له خوا غوره کېږي، د محدودو کسانو اخيستل ډېر آسانه وي، هم ئې بهرني ځواکونه په آسانۍ اخيستی شي او هم هغه ډلي چي مالي امکانات ئې زيات وي او شتمن بهرني حاميان ولري. دا د افغانستان په شان يوه ملک ته چي له هري خوا د ځواکمنو رقيبانو په ولګه کي دئ له احتياط نه ډېر لري دئ چي د هېواد د مشر ټاکل په يوه محدود ټولګي پوري وتړل شي. که د هېواد د مشر ټاکل په ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت پوري مربوط وي دا تر دې ډېر ډېر مصئون دئ چي د پارلمان څو سوه غړو ته دا صلاحیت ورکړی شي.

• په پارلماني نظام کي باید صلاحیتونه د صدراعظم او جمهور رئیس تر منځ په یوه تناسب ووېشل شي، دا له یوې خوا د دوو څواکمنو تر منځ د تنافس او سیالۍ ډګر پرانېزي، له بلي خوا د تشکیلاتو د تراکم باعث کېږي او له بلي خوا په عام ولس کي د شخړو او منازعاتو باعث. زموږ د ګاونډیو هېوادونو تجربې زموږ مخي ته پرتې دي. په پاکستان کي انګرېزانو دا نظام په میراث پرېښود، خو تر اوسه یوه صدر اعظم هم خپله قانوني دوره تکمیل نه کړی شوه، کله جمهور رئیس عزل کړی او کله څواکمنو جنرالانو. په ایران کي هم د پارلماني نظام تجربه ناکامه شوه، ایرانیانو د انقلاب په لومړیو کلونو کي د رهبر او جمهور رئیس تر څنګ صدراعظم هم درلود، خو وروسته مجبور شول چي د صدراعظم پست او منصب حذف کړي. خو عجیبه دا ده چي په همدې ایران پوري تړلې ډلي د تهران په وینا په افغانستان کي پارلماني نظام غواړي!! پارلماني نظام د انګلستان د ملکي په څېر یوې تشریفاتي ملکې یا پاچا ته ضرورت لري، له دې پرته نه شي چلېدی. یوه ټولنه که وړه وي که ستره، که د یوې کورنۍ په اندازه وي او که د یوه ستر ملت په اندازه، په سر کي باید یو قیم او رئیس ولري نه متعدد رئیسان له خاصو صلاحتونو سره، دا حتماً په نزاع او شخړو منتج کېږي. قرآن وایي: که د کائناتو واګي د دوو خدایانو په لاس کي وی نو تباه کېدو او هر یوه به هڅه کوله چي عرش ته ورسېږي او په بل بر لاسی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په اسلامي نظام کي خليفه چي د ټول ولس له خوا غوره کېږي، د ولس په استازيتوب د ټولو دولتي چارو مسئول دئ. د خلفاء راشدينو په دوران کي موږ نه د خليفه ترڅنګ د صدر اعظم مثال موندلی شو او نه د دوو چارواکو تر منځ د قدرت د وېش مثال.. په دې اساس په ټول جرأت سره ويلی شو چي هغه نظام له اسلام سره اړخ نه لګوي چي د نظام په سر کي دوه باصلاحيته چارواکي د صدراعظم او جمهور رئيس په نامه ولري او قدرت د دوی تر منځ په يوه خاص تناسب ووېشل شي.. داسي نظام نه يوازي له اسلام سره اړخ نه لګوي بلکي په ټولو هېوادونو کي ئې بدې پايلي درلودلې او د عدم ثبات باعث او د چارواکو او ولس ترمنځ د شخړو او سيالۍ موجب ګرځېدلي. له اسلام سره هغه نظام اړخ لګوي چي ولسمشر ئې د ولس له خوا غوره شي، د چارو واګي د ده په لاس کي وي، خو په خوا کي ئې داسي ځواکمنه او باصلاحيته شوری وي چي د ټول ملت استازيتوب کوي نه د هغو کسانو چي کاميابو کانديدانو ته ئې رأيه ورکړې، په شوری مکلف وي، قدرت او صلاحيت او په ملت پوري مربوط وسايل او امکانات امانت وګڼي او د شوری له پرېکړو سره سم په هغه کي تصرف وکړي، په شخصي ژوند او له ملي شتمنيو نه په استفادې کي له هيڅ مسلمان نه هيڅ امتياز ونه لري، هيڅ څه له مشورې پرته ونه کړي.

## اسلامي نظام که غربي جمهوريت؟

محترم ليکوال وايي: زما د ناقصو معلوماتو له مخي ښاغلی حکمتيار صاحب لومړی قلم وال دئ چي په دې باب جلا او مخالف نظر لري!! د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومورړي په اند د امیر ټاکل د اهل الحل و العقد دنده نه ده!! بلکي د یوه هېواد ولس مشر یا امیر د عامو انتخاباتو له لاري ټاکل شرعي بولي!! کوم چي د غربي جمهوریت او دیموکراسۍ د ستر اصل په توګه ګڼل کېږي.

د دوی په ځواب کي څو عرایض لرم:

- تا خو په خپلي رسالې کي د څو داسي علماوو په نظریاتو استناد کړی چي له دیارلسمي پېړۍ وروسته او حتی په پنځلسمي پېړۍ کي راڅرګند شوي او داسي نوي نظریات ئې وړاندي کړي چي مخکنیو نه وو ویلي، څنګه هغوی ته د نویو نظریاتو وړاندي کولو حق ورکوې او نورو ته نه؟!
- په دې اړه ستا معلومات یقیناً چي ناقص دي، ځکه چي ټولو محققو علماوو، فقهاوو او امامانو همدا خبره کړې چي د مسلمانانو معلن او بلااکراه بیعت د امارت لپاره لازمي شرط دئ، له معلن او غیرمکره بیعت نه پرته د هیچا امارت نه مسلم کېږي. تاسو د دغو ټولو د متفقه خبري په خلاف وایئ چي بیعت شرط نه بلکي د خلکو وجیبه ده، امیر د څو کسانو په خوښه ټاکل کېږي او خلک پر دې مکلف دي چي له همدغه امیر سره به بیعت کوي!!
- که د څو کسانو بیعت کافي وي نو ستاسو له امیر نه مخکي خو داسي امیران تیار موجود وو چي په لکونو مسلمانانو ورسره بیعت کړی وو، د حزب اسلامي په انتخاباتو کي نږدې یو ملیون غړو برخه اخیستې وه او له خپل امیر سره ئې بیعت کړی وو، که په کندهار کي زر کسان راغونډ شو نو دا اوس د نصرت مېني په پنډغالي کي همدومره او هغوی ته ورته اهل الحل و العقد راغونډېدی شي، آیا د دوی پرېکړه منې؟ زه بلنه درکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ زر نه بلکي پنځه سوه اهل الرأی یا اهل الحل و العقد به په ګډه غوره کړو او هغوی ته به اختیار ورکړو چي د هېواد لپاره په اتفاق یا د رأیو په اکثریت سره امیر غوره کړي، موږ د دوی پر پرېکړه منو، آیا تاسو ئې منلو ته تیار یئ؟ موږ دغه طرحه طالبانو ته وړاندي کړې وه خو هغوی ورسره موافقه ونه کړه!! که هر چا ته د خپلي خوښي خلک راغونډول او هغوی ته د اهل الحل و العقد نوم ورکول او پر نورو د دوی پر پرېکړه واجب التعمیل ګڼل جائز وګڼو نو دا خو سترو او خونړیو فتنو، پېښو او نښتو ته لار پرانېزي!!

- د ولس له لوري د امیر انتخاب د غربي جمهوریت ابتکار نه دئ، دا د اسلام هغه ستر افتخار دئ چي تر اسلام مخکي ئې د تاریخ په اوږدو کي نظیر نه مومو، د اسلام یو ستر افتخار د غربیانو په پښو کي مه اچوئ، کله چي د انسان په اوږده تاریخ کي د لومړي ځل لپاره د مسلمانانو لخوا، د عام ولس له لوري، په جومات کي د یوه ستر ملک خلیفه غوره شو، هغه مهال په غرب کي چا د دې تصور هم نشو کولی، هغه مهال غربیان د جهل، اختناق او استبداد په تیارو کي ژوند کولو او پر غربي هېوادونو داسي دیکتاتورانو او امپراطورانو د توري او نېزې په زور حکومت کولو چي اقتدار ئې د خپلي کورنۍ مسلم او حتی الهي حق ګڼلو، له واکمن نه به اقتدار زوی، لور، ښځې او حتی د مور په رحم کي ماشوم ته په میراث پاته کېدو، همغسي لکه چي د یهودانو په لاس جوړ شوي شیعه مذهب کي اته کلن ماشوم امام شو، پنځه کلن غائب ماشوم امام زمان شو!!
- د راشدینو خلفاوو اهل الرأی خو هغه صحابه وو چي په بدر کي ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه اخيستې وه، هر اسلامي تحريک بدريان لري، د دوی بدريانو ته بايد پر نورو داسي ترجيح ورکړی شي لکه صحابه وو چي خپلو بدريانو ته پر نورو ترجيح ورکوله، د افغانستان د اسلامي تحريک بدريان هغه دي چي له کمونيستانو سره ئې لومړی نښته څلوېښت کاله د مخه په پوهنتون کي وه، يا هغه چي د داؤد په ضد ئې جهاد پيل کړ، يا هغه چي د ۱۳۵۷کال د ثور په نهمه ئې جهاد شروع کړ، يا هغه چي لومړی ډز د دوی له لوري پر روسانو وشو، لومړی شهيد د دوی وو، لومړی زخمي د دوی وو، لومړی بندي د دوی وو، لومړی مهاجر له دوی څخه وو، زموږ بدريان خو هغه دي چي د اسلام او جهاد بيرغ د دوی په لاس ورپېدو، افغانان دوی راويښ او جهاد ته چمتو کړل، دا خو ټول په حزب اسلامي کي دي، افغانانو ته خو د جهاد درس دوی ورکړی، يقيناً چي دوی به د ټولو هغو مجاهدينو په جهاد کي برابر شريک وي چي له دوی وروسته د جهاد سنگر ته راوتلي او د اسلام لپاره ئې قرباني ورکړې. چا چي پر حزب اسلامي بريد کړی، د حزب مجاهدين ئې وژلي، ځورولي او له دوی نه ئې هغه وسلې اخيستې چي له روسانو ئې غنيمت کړې وي؛ که ترقيامته نېک عملونه وکړي دا ستره گناه نشي جبرانولی!! څوک چي له حزب اسلامي سره جنگېدلی الله تعالی سزا ورکړې، يا ايمان ترې تللی او کمونيستانو او روسانو ته په لاس اوږدولو مجبور شوی، يا اقتدار ترې تللی، يا ئې په زرگونو هغه جنگيالي وژل شوي چي له حزب سره جنگېدلي وو، يا هغه بهرنۍ او کورنۍ کړې ترې جلا شوې او د دوی له دښمنانو سره يوځای شوې چي د هغوی په وينا له حزب سره وجنگېدل، يا ئې د اقتدار په وخت کي داسي قحطي راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د افغانستان په تاريخ کي ئې بېلګه نه وه ليدل شوې، نه يوازي د بارانونو او واورو ورېدل بند شول او د زمکي د سر اوبه وچي شوې بلکي څاګاني او کاريزونه هم وچ شول او د زمکي لاندي اوبه څو متره نوري هم لاندي ولاړې!! ځيني به دا طبيعي حوادث ګڼي، خو زموږ عقيده او ايمان راته وايي چي حوادث د الله تعالی په امر او د هغه د عادلانه پرېکړي له مخي راځي، ظالم ته سزا ورکوي او د مظلوم انتقام ترې اخلي، پاکستان د افغانستان په نيولو کي د امريکايانو ملګرتيا وکړه او پرويز مشرف خلکو ته ويل: د دې ملګرتيا په نتيجه کي به امريکا د کشمير په اړه زموږ مرسته وکړي؛ خو څلور کاله وروسته په همغه ورځ چي امريکايانو پر افغانستان بريد کړی وو داسي ستره زلزله په همدې کشمير او شاوخوا کي ئې راغله چي نږدې اتيا زره خلک په کي ووژل شول، د وژل شوو شمېر هومره وو چي د امريکايانو په لاس په افغانستان کي وژل شوي وو، په دې کي نږدې شل زره ئې د پاکستان د فوځ تر ټولو مهمو عسکري قطعاتو غړي ول، دغو حقايقو ته په پام سره بايد له دې ډډه وکړو چي حوادث يوازي طبيعي پېښي وګڼو، آيا دې ته يو تصادف ويلی شو چي د پاکستان ستره زلزله په هغه ورځ وه چي څلور کاله مخکي په همدې ورځ امريکائي ځواکونو د پاکستان له زمکي او هوا نه په استفادې سره پر افغانستان بريد وکړ، په همدې ورځ د امريکا کروز ميزايلونه د اسلام آباد په موافقه د پاکستان له فضاء تېريدل او پر افغانستان وريدل، په همدې ورځ په پاکستان کي د امريکايانو له نظامي اډو نه امريکايي جازونه الوتل او پر افغانانو ئې بمونه ورول، په افغانستان کي مستقر پاکستاني افسرانو کوردينات ورکاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library
پاکستاني چارواکو به ويل چي مونږ له امريکا سره دا ملګرتيا د پاکستان په ګټه ګڼو، د تروريزم په خلاف د امريکا په اعلان شوې جګړې کي برخه اخيستل د پاکستان له ملي ګټو سره موافق عمل دئ، پاکستان بايد د دې جګړې په لومړي خط بدل شي، همداسي وشول، پاکستان نه يوازي د افغانانو په خلاف په دې جګړې کي په لومړي خط کي ودرېدو، بلکي د افغانستان په اشغال او د افغانانو او نورو امريکا ضد مجاهدينو په نيولو او امريکا ته په سپارلو کي ئې هغه کار کړی چي امريکا ئې له کولو عاجزه وه، پاکستان نه يوازي د افغانانو په خلاف په جګړې کي شريک شو بلکي په پاکستان کي ئې هم د امريکايانو په وينا د مسلمانانو په ضد پراخ عمليات پيل کړل، له افغانستان سره په پوله ئې اتيا زره فوځيان ځای په ځای کړل، په جنوبي او شمالي وزيرستان کي ئې پرله پسې او پراخ عمليات ترسره کړل، په بې ګناه وزيرو ئې له تروريستانو سره د مرستي په نامه بمونه وورول، ګڼ شمير وزير او هغه افغان مهاجرين ئې ووژل چي له کلونو کلونو په هغي سيمي کي مېشت وو. نو دا يو تصادف مه ګڼئ چي د پاکستان زلزله په همغه ورځ پيل شوه چي امريکايانو د پاکستان له لاري پر افغانستان  بريد وکړ او تر هغي ورځي د دې زلزلې وروستۍ جټکې رواني وې چي تر همدې ورځي پوري ځلور کاله د مخه پر کابل او کندهار د امريکايانو پراخي بمبارۍ رواني وې. پاکستاني چارواکو به ويل چي په دې بريد کي له امريکا سره د پاکستان ملګرتيا به د دې باعث شي چي امريکا د کشمير په مسئله کي د پاکستان مرسته وکړي، خو دا دئ ګورئ چي امريکا نه يوازي د کشمير په مسئله کي د هند د دريځ ملاتړ کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشمیري مجاهدین تروریستان ګڼي، اسلام آباد ئې دې ته اړ کړ چي د دوی له مرستي لاس واخلي، مرکزونه ئې په ټول پاکستان کي وربند کړي او کشمیر ته له اوښتو ئې مخه ونیسي، بلکي د کشمیر د دغي غمیزي په دوران کي ئې د خپل دغه ملګري په هکله په دې سخته ورځ کي داسي بې اعتنایي وکړه چي پرویز مشرف مجبور شو ووایي: "که دا زلزله په کوم غربي هیواد کي شوې وای نو عکس العمل به دومره سوړ نه وو، مونږ مجبور یو د ایف ۱۶ طیارو اخیستل وځنډوو!!" کاش پاکستاني چارواکو د امریکا په ځای خدای ته مخه کړې وی، له امریکا نه د طمعي او وېري په ځای ئې له خدای نه طمع او وېره درلودی، د مظلومو مسلمانانو په ضد له کفري ظالم او متجاوز طاقت سره د ملګرتیا په ځای ئې او د خپل بې وزلي ګاونډي هیواد په خلاف په یوې ناروا او ظالمانه جګړي کي د برخي اخیستو په ځای له خدای نه ویریدلي وی او په دې پوهیدی چي خدای د مظلوم فریاد اوري او د هغه انتقام خامخا اخلي، خو داسي ئې ونکړل، له ظالم سره په ناروا ملګرتیا کي مخکي ولاړل، اوه سوه مظلوم مسلمانان ئې ونیول او لاس تړلي ئې امریکا ته وسپارل، د امریکایانو د خوشحالولو لپاره ئې د افغانانو په خلاف له هیڅ څه نه ډډه ونکړه، ډېر بې وزلي مهاجرین ئې په زور له پاکستانه وشړل، د خټو کورونه ئې په بلدوزرو ورباندي ړنګ کړل، هیچا د دغو مظلومانو چیغي وانهورېدې، ویل ئې تر افغانستانه د تلو کرایه نلرو، هلته کور نلرو، څه چي لرو هغه ټول دلته رانه پاته کېږي، خو هیچا ورته اعتناء ونکړه، خو دا دئ ګورئ چي پاکستان له داسي پېښو سره مخامخ شو چي په همدغو کمپونو کي له سوات او باجوړ نه مهاجر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي پاکستاني کورنۍ مېشت شوې!!

• محترم لیکوال ته وایم: ته او خدای دي مور. ته ووایه چې په کندهار کې د راغونډ شوو کسانو له منځه څومره ئې مجاهدین ول؟ ته دا نه منې چې اوس د دوی په سلو کې نوي د کابل له حکومت سره یو ځای شوي، خو زه تا ننګوم چې د هغوی له ډلې نه د یو نیم سل کسانو نومونه واخله چې اوس د امریکایانو تر واکمنۍ لاندې ژوند نه کوي او له ملا محمد عمر مجاهد سره په خپل تعهد ولاړ دي، او په روان جهاد کې عملاً برخه لري!! که تا له هغو په اصطلاح یونیم زر کسانو نه په سلو که د لسو نومونه واخیستل نو ستا خبره به صحیح وي او مور. به مبالغه کړې وي!! او که حقیقت همداسې وي چې مور. ویلي نو بیا خو دا خبره ومنئ چې محدودو کسانو ته د امیر د انتخاب واک سپارل بد او خطرناک عواقب لري، دا ځکه چې د محدودو کسانو پېر پلور آسانه او ارزانه وي، د افغانستان په څېر هېواد کې د دې کار عواقب تر بل هر ځای زیات خطرناک دي، مور. شتمنو او کینه کښو دښمنانو محاصره کړي یو، د افرادو اخیستل ورته ډېر آسان کار دئ، زه ډېر داسې کسان پېژنم چې هم ئې د هرات او کابل په جرګو کې برخه اخیستې وه او رباني ته ئې رأیه ورکړې وه او هم ئې د کندهار او په پای کې بیا د کابل په لویې جرګې کې، له ټولو ئې د خپلې رأیې په مقابل کې پیسې ترلاسه کړې، هم ئې خپل دین او ایمان خرڅ کړی او هم خپل هېواد! که د امیر انتخاب په محدودو کسانو پورې مربوط شي تل به دا ترخه تجربه تکرارېږي، هرڅوک چې د اقتدار پر کرسۍ ناست وي یا تر نورو ډېرې پیسې ولري، دوی به اخلي او د خپلې خوښې فتواوې به پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهر کوي!!

## ناسم تعبیر د غلطي ادعاء بنسټ

محترم لیکوال د کوم اساسي قانون ... د رسالې یو مطلب په ناسمه توګه تعبیر کړی او همدا ناسم تعبیر ئې د خپلې ادعاء لپاره بنسټ ګرځولی، په رسالې کي لیکل شوي چي: "دا خبرې یا هغه څوک کولی شي چي دا ټول حقایق له پامه وغورځوي او یا هغه چي د کوم دربار مفتي وي. دا ټګماران د عربي یوه اصطلاح د اهل حل و عقد په نامه داسي کاروي لکه چي دا د قرآن د کوم آیت او یا د پیغمبر علیه السلام د کوم حدیث برخه وي او ادعاء کوي چي د امیر ټاکنه د اهل حل و عقد دنده ده!! په داسي حال کي چي دا اصطلاح د اموي سلاطینو او امراوو د وخت زېږنده ده، نه په قرآن کي او نه په احادیثو کي د اهل حل و عقد اصطلاح او دا چي امیر به د دوی له لوري ټاکل کېږي څه نه مومو، نه په څرګندو الفاظو کي او نه تلویحاً، دا اصطلاح د اموي او عباسي حکومتونو پر مهال جوړه او رایج شوه، هغه مهال چي جابرو سلاطینو زعامت موروثي کړ، د زعیم انتخاب ئې د خپلې خوښي خواصو حق وبالو او بیعت ئې داسي شکلي مراسم چي د زعیم له ټاکلو وروسته ترسره کېږي، هغه مهال چي امراء به د جومات په ځای په قصرونو کي غوره کېدل او دا صریحاً د قرآن او سنت او د صحابه وو د منهج خلاف او یو کرکجن بدعت وو." په دې وینا کي د سرکاري مفتیانو په اړه ویل شوي چي دا ټګماران دغه عربي اصطلاح داسي کاروي لکه چي دا د قرآن د کوم آیت او یا د پیغمبر علیه السلام د کوم حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه وي او ادعاء کوي چې د امير ټاکنه د اهل حل و عقد دنده ده!! خو نه پوهېږو چې ليکوال د رسالې الفاظو ته نه دئ متوجه شوی او که ئې عمداً غوښتي چې غلط ئې تعبير کړي او داسي څه ترې جوړ کړي چې د عباسيانو او امويانو د دور د هغو لوړو لوړو شخصيتونو فقهي او علمي هڅو ته ئې هم وغزوي چې زموږ امامان ئې هم په ضمن کي دي، دوی ته په درناوي سره وايو چې علمي څېړنه داسي نه وي، علمي څېړونکي هم خپله رأيه په دقت سره وړاندي کوي او هم د بل رأيه سمه او په امانت سره تعبيروي. په رسالې کي نه دي ويل شوي چې دا اصطلاح جوړول صحيح کار نه وو، بلکي ليکل شوي چې د درباري مفتيانو له لوري د سلاطينو او امراوو په ګټه د هغه کارول د ټګمارانو کار وو.

په رساله کي دا هم نه دي ويل شوي چې راشدو خلفاوو د مشورې لپاره خاص مشاورين نه درلودل، يا د خاصو مشاورينو درلودل ناجائز دي، نه پوهېږو چې محترم ليکوال دا ناسمه انتباه له کومي برخي اخيستې ده؟!! په رساله کي خو دا ويل شوي چې د اهل حل و عقد اصطلاح او بيا د دوی له لوري د امير ټاکنه د امويانو او عباسيانو د دور زېږنده ده، دا اصطلاح ټګمارو درباري مفتيانو د امراوو په ګټه کارولې، د دې خبري د ترديد لپاره د نومياليو علماوو، تاريخپوهانو او مفسرينو په دې قول استناد کول چې راشدو خلفاوو مشاورين درلودل يعني څه؟!! د دې خبري ئې له هغي سره څه؟! ليکوال په همدې لړ کي ليکي: "د دې خبري ډېر ښه سپيناوی: چې اهل الحل و العقد د صحابه وو او عين د راشده خلافت پر مهال يو معلوم ټولی او خلک وو!! د پاکستان د جماعت اسلامي بنسټ اېښودونکي مولانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوالاعلی مودودي صاحب کړی!!" دا خبره همدلته نیمګړې پرېږدي او د تفهیم القرآن د پښتو ژباړې د هغه تقریظ یوه برخه رااخلي چې حکمتیار صاحب لیکلی او دا نتیجه ترې راباسي چې دوی له جماعت اسلامي سره نږدې مناسبات او اړیکې لري، او بیا د مولانا مودودي صاحب دا وینا رانقلوي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د شورى لپاره مجلس شتون درلود، وروسته د خلفاوو رضی الله عنهم په زمانه کې دې مجلس پراختیا پیدا کړه تر دې چې د ځینو ذهینو خلکو په ګډون سره د شورى کړنو او هڅو عامه قبولیت ترلاسه کړ او دا هغه خلک وو چې ورته اهل الحل و العقد ویل کېده! ....

د محترم لیکوال په ځواب کې وایو:

- په دې خبرې کې نه له تا او نه بل چا سره اختلاف لرو چې پیغمبر علیه السلام او راشدینو خلفاوو د شورى مجلسونه درلودل.
- دا ادعاء چې دوی د اهل الحل و العقد په نامه یادېدل د هیچا له لوري د منلو وړ نه ده، ځکه هغه مهال دا اصطلاح اصلاً نه جوړه شوې وه او نه کارول شوې او نه په روایاتو کې راغلې.
- هر څوک چې دا ادعاء وکړي چې راشدین خلفاء د محدودو خلکو له لوري غوره شوي د حقیقت خلاف خبره ئې کړې. دا ځکه چې ټول په جومات کې ټاکل شوي.
- د علامه ابن خلدون او مولانا مودودي پر ویناوو چې تا دلته کوم استناد کړی ناوارد استناد دئ، ځکه د بحث موضوع دا نه ده چې خلفاوو شورى درلوده که نه؟ د بحث موضوع دا ده چې آیا کوم خلیفه د محدودو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانو له لوري غوره شوی که نه؟ تر دې عنوان لاندي د داسي چا رأيه رانقل کړئ چي د محدودو کسانو له لوري د امير د ټاکني ادعاء ئې کړې وي او د دې ادعاء د اثبات لپاره ئې معقول دلايل وړاندي کړي وي.

- په داسي حال کي چي موږ د مولانا ابوالاعلی مودودي رحمه الله او هر هغه چا قدر کوو چي د اسلام لپاره ئې کار کړی حتی که په دې لار کي ئې يو ګام پورته کړی، يوه خبره ئې کړې، يو سنت ئې احياء کړی، يو آيت ئې تفسير، ترجمه او تبليغ کړی، يو کس ئې اسلام ته رابللی، جومات ته ئې راوستلی او يوه مستحب کار ته ئې هڅولی، خو موږ له جماعت اسلامي سره هيڅ تنظيمي اړيکي او مناسبات نه لرو. ستاسو د معلوماتو لپاره بايد ووايو چي د افغانستان ډلي په دې توګه جوړي شوې: جمعيت اسلامي په پېښور کي د جماعت اسلامي له لوري، حرکت انقلاب اسلامي په پېښور کي د جمعيت علماء اسلام له لوري، اتحاد اسلامي په پېښور کي د اخوان المسلمين له لوري، او ته په خپله ښه پوهېږې چي طالبان څنګه رامنځته شول او چا ئې مرسته کوله؟!! يوازنۍ اسلامي ډله چي د هېواد دننه، څلوېښت کاله او تر ټولو وړاندي په خپله د افغانانو په لاس جوړه شوې حزب اسلامي دئ.

- پوښتنه کوو: آيا له جماعت سره اړيکي درلودل يا پر تفهيم القرآن تقريظ ليکل او د مولانا ابوالاعلی مودودي رحمه الله د اسلامي هڅو قدرونه جرم دئ؟!! جماعت اسلامي خو د حزب دومره مرسته نه ده کړې لکه د طالبانو، کله چي شمالي ائتلاف د حزب په ضد جنګېدو نو جماعت اسلامي بې طرفه وو، خو هغه مهال چي طالبان له شمالي ائتلاف سره جنګېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

جماعت د طالبانو پلوي کوله!! دا جماعت اسلامي وو چې د امریکایانو د برید پر مهال ئې د طالبانو په تأیید کې ستري مظاهرې کولې، امید دئ تاسو له هغو کسانو څخه نه وئ چې مولانا ابوالاعلی مودودي رحمه الله تکفیروي، جماعت اسلامي ته نږدې کسان مباح الدم ګڼي او ډېر ئې په همدې نامه وژلي!! خو هغه چا ته د خپل استاد په سترګه ګوري او درناوی ئې کوي چې جنرال پرویز مشرف ته ئې د څو جریبه زمکي په مقابل کې د اعتمار رأیه ورکړه (دا هم هغه مهال چې پرویز مشرف ستاسو په خلاف جنګ کې د امریکایانو ملګرتیا ته ملا تړلې وه، اوه سوه مجاهدین ئې لاس پښې تړلي امریکایانو ته سپارلي وو!!)، له پیپلز پارټي او عوامي نیشنل پارټي سره ئې د څو کرسیو لپاره ائتلافونه کړي او د بې نظیر بهټو واکمني ئې منلې او د هغې په حکومت کې ئې برخه اخیستې!!

- موږ خو د امریکایانو د برید پر مهال له طالبانو نه هم خپل ملاتړ اعلان کړ، په ډېرو څرګندو الفاظو مو وویل چې د طالبانو د دې اقدام ډېره قدرونه کوو چې د خپل حکومت ړنګېدل ئې ومنل خو دښمن ته تسلیم نشول، اوس هم د ټولو هغو طالبانو قدر کوو او د ورونو په سترګه ورته ګورو چې د امریکایانو په ضد جنګېږي، په وار وار مو ویلي چې له دغو طالبانو سره هرراز ملګرتیا او ګډ کار ته چمتو یو، موږ دا اعلان حتی له تهرانه کړی، له هغه تهرانه چې د طالبانو په ضد له امریکایانو سره یو ځای شو!! دا په داسي حال کي چې طالبان له حزب سره جنګېدلي وو او ډېر مجاهد حزبیان د دوی په لاس په شهادت رسېدلي وو، او دا په داسي حال کي چې امریکایانو موږ ته ویل: موږ خو ستاسو په ضد نه بلکي ستاسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنانو په ضد جنګېږو، خو موږ ورته ویل: که مجبور شو نو د یوه افغاني رقیب سل کاله حکومت منلی شو خو د یوه بهرني اشغالګر یوه ورځ حکومت هم نه منو!! د شمالي ټلوالي او طالبانو تر منځ د جګړو په مهال ایراني چارواکو موږ ته مکرر بلنه راکوله چي په دې جګړي کي برخه واخلو خو موږ ورته ویل: که د رباني او ملاعمر له منځه د یوه منلو ته اړ شو نو ملاعمر ته سل ځله ترجیح ورکوو!! زموږ قضاوت د هر چا په اړه د ایمان او عقیدې په رڼا کي دئ؛ که دوست وي که دښمن، که خپل وي که پردی، که ملا وي که مکتبي، که جماعتي وي او که جمعیتي.

## د اسلامي خلیفه او امیر اطاعت

لیکوال تر دې عنوان لاندي د بیعت او اطاعت دوه بېلي بېلي موضوع ګاني سره خلط کړې، په پیل کي ئې لیکلي: "دا چي د اسلامي شریعت له مخي بیعت خورا دروند اهمیت لري او هیڅکله یوازي رسمي دود او تشریفاتي دستور ندئ. د سپېڅلي شریعت لوی حکم دئ.... د شرعي بیعت وروسته په رعیت او اولس باندي نه یوازي د هغه اطاعت کولو تأکید کوي، بلکي د خدای جل شأنه او د هغه د رسول علیه السلام د اطاعت وروسته ئې د امیر او خلیفه اطاعت فرض ګرځولی." په همدې لړ کي ئې د ابن خلدون اقوال او د بخاري روایات د دلیل په توګه راوړي. دوی ته په دې اړه څو عرایض لرو:

- بیعت بېله موضوع ده او د امیر اطاعت بېله موضوع، یوه د امیر له ټاکلو مخکي ده او بله ئې تري وروسته، یوه د خلکو حق دئ او بله ئې ذمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واري او مسئوليت، په بيعت سره امير ټاکل کېږي او بيا په همدې بيعت سره د ټاکل شوي امير اطاعت پر مسلمانانو لازم گرځي؛ د بيعت په اړه دوه انگېرني مومو: ١- يوه ئې دا چي امير د بيعت له لاري ټاکل کېږي، هغه څوک شرعي امير دئ او اطاعت ئې پر مسلمانانو لازم چي په خپله مسلمانانو غوره کړی وي او په خپله خوښه ئې بيعت ورسره کړی وي. ٢- او بله ئې دا چي امير له نورو لارو ټاکل کېږي او بيا پر خلکو لازمه ده چي له دغه امير سره بيعت وکړي!! يعني بيعت تشريفاتي مراسم دي چي د امير له ټاکلو وروسته ترسره کېږي!! موږ له هغو محققينو، مجتهدينو او فقهاوو سره موافق يو او د دوی رأيه د قرآن او سنت مطابق گڼو چي بيعت د امارت لپاره ضروري شرط بولي نه تشريفاتي مراسم، او د هغو خلکو دا رأيه کمزورې او بې بنسټه گڼو چي بيعت د امير له ټاکلو وروسته د خلکو د ذمه واری او مسئوليت په توگه وړاندي کوي، دا يوه مغالطه ده چي (بيعت) او (اطاعت) سره خلطوي.

- ليکوال د دې پر ځای چي د امير په ټاکني کي د (بيعت) اهميت او ونډي ته اشاره وکړي او ووايي چي د امارت لپاره اساسي شرط دئ؛ بل لوري ته ځي او دا موضوع څېړي چي د امير اطاعت پر مسلمانانو فرض دئ!!
- که بيعت د مسلمانانو حق نه وی او د دوی خوښي ته نه وی پرېښودل شوی نو نه به هغو صحابه وو له علي رضی الله عنه سره خپل بيعت ځنډولی وو چي د ده د امارت په اړه ئې څه ملاحظات درلودل او نه به علي رضی الله عنه له ابوبکر رضی الله عنه سره خپل بيعت تر يوې مودې ځنډولی وو (که

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا روایت صحیح وګڼو).

- له امیر سره بیعت د بلي هري شرعي مبایعې او معاملې په څېر دئ، د طرفینو تر منځ له توافق نه وروسته اعتبار لري، لکه دا چي نارینه د ښځینه وو لپاره قیم غوره شوی خو هغه مهال ئې د ښځې قیم ګڼلی شو چي دواړه لوري د نکاح تړون ترسره کړي، له دغه تړونه وروسته مېړه د ښځې قیم شي او اطاعت ئې پرې لازم، په همدې توګه پر مسلمانانو د امیر اطاعت لازم دئ خو د هغه امیر اطاعت چي دوی په خپله خوښه ټاکلی او بیعت ئې ورسره کړی. که تاسو د النساء د سورې په (۵۸-۵۹) آیتونو کي لږ غور وکړئ نو متوجه به شئ چي لومړی ټولو مسلمانانو ته امر شوی چي د امانت (امارت) اهل تشخیص کړی، امانت وروسپارئ او بیا ورته ویل شوي چي د خپل اولي الامر اطاعت وکړئ، لومړی د امانت (امارت) سپارلو موضوع راغلې او بیا د اولي الامر د اطاعت موضوع، خو دا هم ویل شوي چي د هغه اولي الامر اطاعت وکړئ چي ستاسو له منځه وي، تاسو غوره کړی وي او تاسو ئې د ځان په څېر ګڼئ.

## په یوه وخت کي له دوو خلفاوو سره بیعت

لیکوال تر دې سرلیک لاندي لیکي: "د اسلامي شریعت پرېکړه دا ده چي هر کله د یوه خلیفه او امیر سره مسلمانان بیعت وکړي او د هغه په مقابل کي د خلافت او امارت لپاره بل مدعي پورته شي نو د هغه حکم دا دئ چي هغه باغي دئ ... بیا پر دغو دوو روایاتو استناد کوي:

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِذَا بُويِعَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الآخَرَ مِنْهُمَا ».

له ابو سعيد خدري نه روايت دئ چي رَسُولُ اللّه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كله چي له دوو خلفاوو سره بيعت وكړای شي نو په هغوی دواړو كي وروستى ووژنئ»

عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ »

له عرفجه نه روايت دئ چي له رَسُولُ اللّه صلى الله عليه وسلم څخه مي واورېدل چي وئې فرمايل: څوک چي د دې لپاره ستاسو خوا ته راشي چي يووالى مو ټوټې ټوټې کړي او ډله مو خوره او متفرقه كړي حال دا چي تاسو د يوه كس (امير) په خوا كي متحد وئ، نو وئې وژنئ.

بيا ليكي چي اوس دي ښاغلى حكمتيار د دغو احاديثو د لوستلو وروسته پرېكړه وكړي چي څوک اميرالمؤمنين دئ؛ لومړنى كه وروستنى؟ (كرزى كه ملامحمد عمر مجاهد؟) د ملامحمد عمر مجاهد سره د هېواد د اهل الحل و العقد څښتننانو د ۱۳۷۵لمريز كال د حمل د مياشتي په څوارلسمه نېټه د شرعي امير په توگه بيعت شوی او كرزى په ۱۳۸۰كال كي د يرغلگرو امريكايانو په زور راوستل شو او په كابل كي ورته ارگ وسپارل شو، نو اوس تا ته !! د خپل ضمير او وجدان په رڼا كي كومه فتوى سمه ليدلى شي؟ اسلامي شريعت وايي چي دويم امير واجب القتل دئ او هيڅكله ئې واكمني شرعي واكمني نه ده!! ته څه وايې؟!!

دوى ته په ډېر درناوي سره څو مشورې لرو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تاسو د نیوکي الفاظو ته متوجه شوي نه یئ، هلته داسي ویل شوي: "طالبان خپل امیرالمؤمنین په دې دلیل شرعي امیر بولي چي د دوی د اقتدار پر مهال په کندهار کي د اهل حل و عقد یوې غونډي هغه ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړ!! خو دوی به اوس دې خبري ته څه ځواب ورکوي چي د دوی هغه اهل حل و عقد چي په کندهار کي راغونډ کړی شول او ملامحمد عمر مجاهد ته ئې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ اوس د دوی مطلق اکثریت، نږدې ۹۰% نوي په سلو کي د کرزي خوا ته ولاړ دي او هغه امیرالمؤمنین ګڼي؟!! د دغو (اهل حل وعقد!!) کومه فتوی سمه او شرعي ګڼي، مخکنۍ که اوسنۍ؟!! که د امیر انتخاب په محدودو کسانو پورې مربوط شي تل به دا ترخه تجربه تکرارېږي، هرڅوک چي د اقتدار پر کرسۍ ناست وي یا تر نورو ډېرې پیسې ولري، دوی به اخلي او د خپلي خوښي فتواوي به پرې مهر کوي!!"
- زموږ له نظره دا خلک اهل حل و عقد نه وو او نه دي، نه ئې مخکنۍ پرېکړه صحیح وه او نه اوسنۍ، د کرزي له امریکایي حکومت سره د دوی ملګرتیا ښیي چي دا ډېر نااهله او دین خرڅوونکي مفتیان وو نه اهل حل و عقد!! نه دوی د امیر د ټاکلو حق لري او نه د دوی په څېر نور، د امیر د ټاکلو حق د ولس دئ نه د داسي خلکو!! ملامحمد عمر مجاهد د طالبانو امیر وو؛ نه د ټول افغان ولس امیر او نه د ټولو مؤمنانو امیر، نه ټولو اهل الرأی افغانانو ده ته رأیه ورکړې وه او نه ټول افغان ولس ورسره بیعت کړی او نه ئې پر ټول افغانستان واکمني مسلطه شوې وه، نه ټول مسلمانان د ده پر سر متحد شوي وو، کوم روایات چي تا نقل کړي یو ئې هم دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصداق او مجال نه لري او د هغه په استناد دا امارت داسي نه ثابتېږي چي څوک ئې ونه مني نو هغه مباح الدم او واجب القتل دئ!!

- داسي اميران ډېر د مخه موجود وو، په لکونو افغانانو ورسره بيعت کړی وو، تر امارت لاندي ئې په لکونو خلکو جهاد کړی وو، آيا تاسو وروستني اميران، له لومړنيو نه ډېر وروسته راپاڅېدلي اميران؛ باغيان او واجب القتل گڼئ؟ آيا له دوی سره جنگ د کافرانو تر جنگ هم افضل گڼئ؟!! طالبان خو له نورو تنظيمونو جوړ شوي، مشرانو ئې هم د نورو تنظيمونو له مشرانو او اميرانو سره بيعتونه کړي وو، د ځينو امير مرحوم مولوي محمد نبي محمدي وو، د ځينو مرحوم مولوي محمد يونس خالص، د ځينو سياف، د ځينو رباني، د ځينو مجددي، د ځينو گيلاني، د ځينو مرحوم مولوي منصور، د ځينو مولوي عبدالستار صديقي، د ځينو محمد امين مجددي، د ځينو ظاهر شاه او ځيني ئې هم د حزب اسلامي غړي، چي د دغو مطلق اکثريت اوس په کابل کي د کرزي خوا ته ولاړ دي او د کابل په امريکايي حکومت کي فعاله ونډه لري، نه پوهېږو چي څنگه ئې مخکني بيعتونه بې اعتبار گڼې او اوسنی ئې دومره شرعي او د قرآن او حديث مطابق چي مخالف ته ئې د باغي په سترگه گورې؟!! آيا په شريعت کي له يوه سره بې موجبه د بيعت ماتولو او له بل سره د بيعت کولو لپاره هم کوم مجوز مومې؟!

- ستا دا استدلال ډېر کمزوری دئ چي کرزی او رباني متغلب واکمنان نه بولې!! د چا پر قول چي ته استناد کوې هغوی متغلب واکمنان په دوو ډولونو ويشلي: ښه متغلب او بد متغلب، ښه ئې هغه دئ چي د زور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوځي ځواک له لاري قدرت ترلاسه کړي، پر اوضاع مسلط شي او شریعت نافذ کړي، یوازي د دغه متغلب په اړه وایي: غوره دا ده چي د دې متغلب اطاعت وشي، خو دا هم د مسلمانانو تشخیص ته پرېږدي چي وګوري دا متغلب د اطاعت وړ دئ که نه، که نه وي نو د ده په ضد قیام او پاڅون غوره دئ که تر مناسب فرصت پوري انتظار؟

- موږ کرزي او رباني ته نه د امیرالمؤمنین خطاب کړی او نه ئې متغلب امیران ګڼو، ستاسو هغه ملګري ئې امیرالمؤمنین ګڼي چي تاسو د کندهار په غونډې کي د اهل حل و عقد په نامه راغونډ کړي وو!!
- که ته ووایې چي طالبان ښه متغلبین وو او کرزی او رباني خراب متغلبین نو موږ درسره زیات اختلاف نه لرو، یوازي دومره وایو چي پر یوه ئې هم ټول افغان ولس نه دئ راغونډ شوی او پر اوضاع نه دي مسلط شوي، او د داسي متغلب نوم نشو ورکولی چي اطاعت ئې واجب او مخالفت ئې حرام وي.
- زموږ مشوره دا ده چي تاسو هغه کسان هم مباح الدم مه ګڼئ چي مخکي ئې له تاسو سره بیعت کړی وو او اوس ئې له کرزي سره بیعت کړی، خپله ټوله توجه د اصلي او لوی دښمن لوري ته واړوئ، له دغو ذلیلو کسانو سره ښایي دا کافي وي چي بیا پرې اعتماد ونه کړئ او بیا ورته اهل حل و عقد ونه وایئ.
- که په استیلاء او غلبې سره څوک امیر کېږي نو بیا خو د استیلاء په ختمېدو سره د هغه امارت هم پای ته رسېږي، اوس خو طالبان نه پر مرکز استیلاء لري او په کوم لوی او ووړ ښار، خو سره له دې خپل امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library
شرعي امير ګڼي، د دې معنی خو دا شوه چي تاسو استيلاء د امارت لپاره شرط نه ګڼئ، نو نه پوهيږو چي څنګه د هغه چا پر قول استناد کوئ چي د غلبې او استيلاء امارت په مشروط توګه جائز او واجب الاطاعت ګڼي؟!!

## د خليفه او امير عزلول

محترم ليکوال تر دې عنوان لاندي ليکي:

ښاغلي حکمتيار صاحب ليکلي: "د امير نصب او عزل د ولس حق دئ!!! څنګه چي د جومات امامت د لمونځ کوونکو په اطاعت پوري مشروط شوی او يا د سفر په دوران کي د سفر د امير انتخاب او عزل واک ګډو سفر کوونکو ته ورکړی شوی" ورپسې ليکي: د اسلامي خليفه د نصب او ټاکلو په اړه موږ وړاندي مفصل بحث کړی ... پاتې شوه د خليفه د عزل موضوع، په دې باب هم اسلامي شريعت د مسلمانانو رهنمايي کړې، هغه شرايط او مهال ويشونه ئې په ګوته او تعين کړي چي پکي مسلمانان کولی شي د خليفه او امير د ناروا‌وو په وړاندي پاځون وکړي. البته شريعت په ډېره آسانه او لنډه توګه د دې کار د کولو اجازه نه ده ورکړې او نه د ديموکراسي او جمهوريت په هر پنځه يا څلور کاله وروسته د نوي مشر او خليفه تعينولو د دريځ سره اسلام ملګرتيا او توافق شته.

دلته څو خبري ضروري بريښي:

- که تاسو هغه روايات او دلايل چي تر دې عنوان لاندي محترم ليکوال راوړي مطالعه کړئ نو وبه ګوري چي په اصلي موضوع د بحث په ځای ئې له امير نه د بغاوت او له جماعت نه د وتلو موضوع څېړلې، موږ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو دغو روایاتو سره په بشپړه توګه موافق یو، د شرعي امیر په خلاف بغاوت او پاڅون حرام ګڼو، له جماعت نه وتل او له جماعت نه بهر پاته کېدل ناجائز بولو، دا د هر مسلمان شرعي او دیني وجیبه ګڼو چې په یوه جماعت کې به ژوند کوي، له امیر سره به بیعت کوي او د هغه اطاعت به کوي، دا هم ورسره منو چې په معمولي ناخوالو دي صبر وکړي او یوازي هغه مهال دي د واکمن په خلاف وسلې ته لاس کړي چې شریعت اجازه ورکړي او له امیر نه څرګند کفر وګوري، په دغو قضایاوو کې نه ورسره اختلاف لرو او نه دا مسایل دلته مطرح او د څېړلو وړ دي، د بحث وړ موضوع ګاني دا دي:

۱. آیا ولس کولی شي د امیر لپاره موده وټاکي؟

۲. څنګه کولی شو د امیر د عزلولو پر سر له جګړو او وینو توئېدو مخنیوی وکړو او پرې نږدو چې د عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه د شهادت غمجني پېښې بیا تکرار شي؟

۳. که د امیر د عزل موجبات برابر شول څوک به ئې عزلوي؟ څوک به دا پرېکړه کوي چې اوس د عزل موجبات رامنځته شوي او دا امیر د عزلولو وړ دئ؟ که دا امیر په چوکۍ پوري نښتی وو، استعفاء ته چمتو نه وو، ځینو سرکاري مفتیانو هم دی واجب الاطاعت امیر ګڼلو، د منبر پر سر هم د ده لپاره په خطبو کې دا دعاء کېده چې خلدالله ملکه و سلطانه: خدای دې پاچایي او اقتدار تلپاتې کړي، خو په هغه کې د عزل ټول موجبات ترسترګو کېدل، له کفارو سره ئې دوستي کوله، کمونیستان ئې په حکومت کې شامل کړي وو، هغو ډلو ته ئې اقتدار سپارلی وو چې مشرکین

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او صحابه وو ته ښکنځلي کوي، په بيت المال کي ئې خيانت کولو، په عياشي کي غرق وو، هم چرسي وو او هم شرابي، د ښځو حجاب ئې له منځه يووړ او نجوني ئې په دې مکلفي کړې چي مکتب ته به په غربي جامه (ميني ژوپ) کي ځي، په راډيو او ټلويزيون کي ئې د نيمه بربنډو ښځو سندري او رقص رايج کړ، له ولس سره ئې مشوره نه کوله، سود او قمار ئې جائز ګڼلو... نو د دغه واجب العزل واکمن د عزلولو پرېکړه به څوک کوي؟ دا خو ډېر آسان او مفت ځواب دئ چي څوک ووايي: اهل حل و عقد دي دا پرېکړه وکړي!! خو دا له سم او عملي ځواب نه تېښته ده او هغه څوک به دا ځواب ورکوي چي له حقايقو او واقعيتونو بې خبره وي، ځکه موږ دغسي واکمنان ډېر وليدل، له ظاهرشاه رانيولې تر نن پوري، همدغو ته ډېرو هغو خلکو د واجب الاطاعت امير په سترګه کتل چي تاسو ئې اهل حل و عقد ګڼئ، د هغوی د تاج و تخت او اقتدار د دوام دعاګاني ئې کولې، د هغوی په خلاف پاڅون ئې حرام ګڼلو!!

۴. څوک چي وايي اهل حل و عقد علماء دي؛ هغوی ته وايو د علم او عالم لپاره معيار څه دئ؟ اوس خو د داسي خلکو شمېر لکونو ته رسېدلی چي د عالم خطاب ورته کېږي خو نه له قرآنه خبر دي او نه له حديث نه، يوازي دومره څه ئې زده کړي چي په يوه جومات کي امامت وکړی شي، څوک چي وايي قومي مشران د اهل حل و عقد غړي دي هغوی ته وايو: اوس خو هغه مخکنی قومي جوړښت تر ډېره حده له منځه تللی، په ښارونو کي ئې اصلاً آثار هم نه تر سترګو کېږي، او که هر مَلَک، قريه دار، ارباب او خان قومي مشر وګڼو نو د دوی شمېر د دوی تر پلويانو که

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات نه وي کم هم نه دئ، د قومي مشر لپاره معیار څه دئ؟ که فوځي مشران د اهل حل و عقد غړي وګڼو نو اوس خو هغه مخکني فوځي مشران نشته، فوځي مشران خو په حکومتي فوځ کي او د واکمن تابع او خدمتګار وي او د هغه تر قومندې لاندي حتی له خپل ولس سره هم جنګېږي!! که دا جائز وګڼو بیا خو باید فوځي کودتاګاني هم جائز وګڼو!! که احیاناً سترګي پټې کړو او له تاسو سره دا غیر واقعي او غیر عملي رأیه ومنو؛ موږ ته ووایئ چي څوک به دا خلک راغونډوي؟ طبیعي ده چي مسلط امیر خو دا کار نه کوي، او که دا امیر څوک راغونډوي نو د خپلي خوښي داسي خلک به راغنډوي چي د ده اقتدار په څلورو کتابونو شرعي ګڼي او د ده په ضد څه ویل او څه کول حرام بولي!! د مستحق العزل امیر د تشخیص او عزلولو پرېکړه په اهل حل و عقد پوري تړل نه عملي ده او نه د حل لار، داسي فتوی هغه څوک ورکولی شي چي د خیر پر غونډۍ ناست او له حقایقو او واقعیتونو بې خبره وي.

۵. ښاغلي رباني او ښاغلي سیاف هم ویل چي د امیر د ټاکلو حق د اهل حل و عقد دئ نه د عام ولس، انتخابات ئې ناروا ګڼل، په کابل او هرات کي ئې د خپلي خوښي خلک راغونډ کړل، رشوتونه ئې ورکړل او د رباني حکومت ته ئې د شرعي بنې ورکولو هڅه وکړه، خو دا دئ ګورئ چي اوس ئې په امریکایي انتخاباتو کي؛ د امریکایانو تر نظامي تسلط لاندي برخه واخیسته!! او اوس د امریکایي پارلمان غړي دي!! نه یوازي دا چي امریکایانو ته ئې پر افغانستان د برید بلنه ورکړه؛ بلکي ترې غوښتل ئې چي بمباري مو لازیاته تونده او تېزه کړئ او لازیات لوی لوی بمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکاروئ، او اوس هم په زاريو زاريو له امريکايانو غواړي چي دوی د دولت د مخالفينو په ضد جنګ کي استخدام کړي، ځکه چي د جنګ تجربه لري او د افغانستان له وضعيته خبر دي او تر بهرنيو عسکرو ښه جنګېدی شي!!

که دوی هغه مهال لدې سره موافقه کړې وی چي د امير په اړه دي افغان ولس تصميم ونيسي، د مجاهدينو له مشرانو څخه دي يو د مسلمانانو د اکثريت په خوښه غوره شي؛ د جګړو، توطئو، له کمونيستانو سره د ائتلافونو، په بهرنيو ځواکونو د اتکاء لار ئې نه وی غوره کړې نو نه به هېواد ورانېدو او نه به د بې ګناه افغانانوويني توئېدې او نه به پر افغانستان باندي د بهرنيو ځواکونو بريد ته لار آوارېده!!

موږ وايو:

- مسلمانان دا حق لري چي د امير لپاره معينه موده وټاکي، له يوه امير سره بيعت په اصل کي د مسلمانانو او امير ترمنځ يو قرارداد دئ، دا د دوی خوښي ته پرېښودل شوې چي څوک د امير په توګه ټاکي، د څومره مودې لپاره او کوم کوم صلاحيتونه ورکوي، امارت په اصل کي د خلکو امانت دئ، داسي چا ته به ئې سپاري چي د دې امانت اهل وي، په دې شرط ئې ورته سپاري چي شريعت به پلي کوي او عدالت به تأمينوي، کله چي وګوري دی د خپلي دندي د ترسره کولو توان نه لري يا ئې په خپلو ژمنو وفا نه ده کړې؛ د هغه د عزلولو حق لري.
- د دې په ځای چي ولس د امير د عزلولو لپاره پاڅون ته اړ شي، ويني توی شي، جګړې پيل شي، دا غوره ده چي هر څو کاله وروسته د امير په اړه له مسلمانانو پوښتنه وشي چي آيا دا امير د دې وړ دئ چي خپل کار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوام ورکړي او که د ده بدلول مفيد او د اسلام او مسلمانانو په ګټه دئ او بل داسي امير راوړاندي کول غوره دي چي تر مخکني له هره پلوه وړتيا او اهليت لري.

• څوک چي له دې کار سره مخالفت کوي يوازي يو دليل لري او هغه دا چي صحابه وو دا کار نه دئ کړی!! هغوی ته وايو: ۱- که موږ د ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضی الله عنهم په څېر اهل، متقي او امين اميران پيدا کړل نو د دائم العمر اميرانو په توګه به ئې ټاکو، اوس چي داسي شخصيتونه نشو موندلی؛ نو غوره دا ده چي د امير لپاره موده وټاکو. ۲- نه يوازي دا چي په قرآن او د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي داسي آيت او حديث نه مومو چي صراحتاً او يا تلويحاً دې د امير لپاره د مودې ټاکل ناجائز ګڼلی وي بلکي د النساء د سورې له (۵۸-۵۹) آيتونو نه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي مسلمانان دا حق لري چي د امارت (امانت) تر کومه وخته چي د دوی خوښه وي اهل شخص ته وسپاري، امارت د امانت په نامه يادول همدغه معنی ورکوي. دا ځکه چي هيڅوک خپل امانت هيچا ته د دائم لپاره نه سپاري، امانت تل موقتي وي او موده ئې د هغه چا له لوري ټاکل کېږي چي د امانت خاوند دئ. ۳- يوازي هغه کار ته حرام کار ويلی شو چي د صريح نص په حکم حرام شوی وي، هغه کار ته حرام نشو ويلی چي صحابه وو نه وي کړی. څوک چي د امير په خلاف بغاوت ناجائز ګڼي او د کفر بواح له ليدو پرته د هغه په ضد پاڅون کول او وسله کارول حرام بولي نو ولي ئې د خپلو هغو اميرانو په خلاف بغاوت وکړ چي بيعت ئې ورسره کړی وو؟ ولي له حزب اسلامي سره وجنګېدل؟ آيا د شمالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټلوالي جنګ له حزب اسلامي سره تنظيمي جنګ وو او د همدې ټلوالي په ضد د طالبانو جنګ سپېڅلی او مقدس جهاد وو؟!! ۴- ستا دا بحث په هغه صورت کي مفيد وو چي قدرت د مسلمانانو په لاس کي وی، افغانستان آزاد او اسلامي شريعت په کي نافذ وی، يوازي امير ئې منحرف او په فسق او فساد کي پرېوتی وی، او مسلمانانو دا فتوی غوښتې چي آيا د دې امير په ضد پاڅون روا دئ که نه، بيا تا دغه روايات د هغوی مخي ته ايښي وی او ورته ويلي دي وی چي تر څو کفر بواح ونه ګورئ د امير په ضد بغاوت مه کوئ او وسله مه کاروئ!! حال دا چي دلته د بحث موضوع دا ده چي آيا مسلمانان د خپل امير لپاره د ټاکلو پر مهال او د بيعت په ورځ دا شرط وضعه کولی شي چي ته به تر دې وخته امير وې، که دي سم امتحان ورکړ نو بيا دي غوره کوو او که نه ستا پر ځای بل څوک راوړاندي کوو. که څوک له دې سره موافق نه وي هغه دي شرعي حجت او لږ تر لږه کوم عقلي دليل وړاندي کړي.

## متغلب څوک دئ؟

دا د محترم ليکوال د رسالې بل عنوان دئ چي ترې لاندي ئې ليکلي: ... د ښاغلي حکمتيار صاحب د لاندي نيوکي ارزوني ته اړتيا ده چي ليکلي ئې دي: "ځيني داسي هم شته چي وايي: که څوک د زور او غلبې له لاري قدرت ته ورسېږي خو مسلمان وي نو د هغه اطاعت ضروري دئ او د هغه مخالفت ناروا!!! دا خوارکيان په دې نه پوهېږي چي متغلب حکومت جائز ګڼل داسي دي لکه د اضطرار په وخت کي د خوګ غوښه جائز ګڼل، دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

استثنائي حالت ته عموميت ورکول یوه کرکجنه مغالطه ده. دوی ته وایو: که دا د یوه اصل په توګه منئ نو بیا خو نن د متغلب مصداق کرزی دئ نه ملامحمد عمر مجاهد او پرون ئې مصداق رباني وو!! ولي مو د دغو متغلبینو حکومت ونه منلو؟!" موږ نه وایو چي ستاسو دا کار غلط دئ، برعکس وایو چي د متغلب حکومت جائز ګڼل غلطي ده. که دا د یوه اصل په توګه ومنل شي نو بیا خو به افغانستان د سوریې په برخلیک اخته کېږي، د سوریې مطلق اکثریت مسلمانان او سنیان دي، خو یوه نامسلمانه او مشرکه اقلیت ډله پرې حکومت کوي، دا ډله له شیعه وو سره نږدې اړیکي لري، پر افغانستان به هم دې ته ورته یو داسي اقلیت د حکومت کولو مجال تر لاسه کوي چي ایران ئې مرسته کوي، ځینو شیعه ډلو په ایران کي حتی په خپلو نشراتو کي لیکل چي ایران باید زموږ مرسته وکړي چي په افغانستان کي د شیعه وو حکومت جوړ کړو، دا کار ئې ممکن ګڼلو او ویل ئې چي که په سوریه کي دا کار ممکن دئ نو په افغانستان کي ئې هم امکان شته!! ایران دا اوس لګیا دئ په کابل، هرات او مزار کي د شیعه وو لپاره زمکي اخلي او منصوبه ئې دا ده چي د دغو مهمو ښارونو اکثریت استوګن شیعه کړي، دا خبره د ایران مسئولین په ډېر وقاحت او بې شرمۍ سره کوي او د عواقبو پروا ئې هم نلري، ګمان کوي چي دوی کولی شي اقلیتونه د پښتنو په ضد متحد کړي او په کابل کي د خپلي خوښي مزدور حکومت قدرت ته ورسوي.

همدرد صاحب ورپسې لیکي: هوکې! دا موږ هم منو او د ښاغلي سره اتفاق لرو چي ملامحمد عمر مجاهد (حفظه الله) متغلب نه دئ... هغه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرعي امير دئ او د هېواد نږدې يو نيم زر جيدو علماوو له هغه سره بيعت کړې... خو... کرزی هيڅکله د متغلب مصداق نه دئ.... تر دې چې هغه له سره د واک څښتن ندی، ټول واک د يرغلګرو امريکايانو په لاسو کې دی....

محترم ليکوال ته وايو: تاسو بيا هم اشتباه کړې، هم د بل د وينا د تعبير په اړه او هم د متغلب د معنی په اړه. د کوم اساسي قانون په رسالې کې دا خبره د هغه چا په ځواب کې ويل شوې چې استيلاء او غلبه د امارت لپاره شرط ګڼي، هغوی ته ويل شوي چې نن خو د مستولي او متغلب مصداق ملامحمد عمر مجاهد نه بلکې کرزی دئ او پرون ئې مصداق رباني وو، عجيبه ده چې تاسو په نظر کې د متغلب حکومت منل ضروري ګڼئ خو په عمل کې ورسره جنګېږئ!! که استيلاء د امارت لپاره شرط وي نو بيا خو نن د هغو ډلو مشرانو ته د امير خطاب نشو کولی چې تر بشپړ تسلط لاندې سيمه نلري او د امريکايانو په ضد په چريکي جګړو بوخت دي!! بيا خو تاسو د طالبانو پرونی حکومت هم تر پوښتنې لاندې راولئ او امارت ئې مسلم نه ګڼئ!! ځکه پرون هم طالبان په دې نه وو توانېدلي چې پر ټول افغانستان خپل تسلط ټينګ کړي، د کابل په څو کيلومترۍ کې او په پروان کې خونړۍ جګړې رواني وې، په تخار کې هم داسې ستره او خونړۍ جګړه روانه وه چې هره اونۍ به له مسکو نه د مشهد له لارې څو طيارې وسلې او مهمات شمالي ټلوالي ته وررسېدل او دا ټول به په دغو جګړو کې کارېدل.

تاسو د متغلب په اړه هم دا اشتباه کړې چې يوازې ئې د هغه واکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل نوم ګڼئ چي په زور مسلط شوی وي خو شريعت نافذوي!! د متغلب لغوي معنی دا ده چي څوک د زور او ځواک له لاري پر اوضاع مسلط شي، کېدی شي مسلمان وي او شريعت نافذ کړي او کېدی شي په ظاهر کي د اسلام دعوی کوي خو په عمل کي نه شريعت نافذ کړي او نه اسلام او مسلمانانو ته صادق او وفادار وي. کرزی يقيناً متغلب دئ خو د پرديو د مټو په زور د افغانستان د يوې برخي داسي متغلب چي واکمني ئې کاواکه او لړزانه ده!!

موږ له تاسو سره په بشپړه توګه موافق يو چي افغانستان اشغال شوی، واک د اشغالګرانو په لاس کي دئ، زموږ هېواد دارالحرب دئ، جهاد پر ټولو مسلمانانو فرض دئ، دا خبرې موږ تر تاسو ډېر د مخه او هغه مهال اعلان کړې چي تاسو لا د امريکايانو په ضد جهاد ته چمتووالی نه درلود، تاسو او ټولو باخبره افغانانو ته معلومه ده چي د کابل او کندهار له سقوط نه وروسته د طالبانو مشران له داسي سخت حالت سره مخامخ شول چي هر يو ئې د خپل ځان او کورنۍ د ايستلو او خوندي ځای ته د انتقال په کار مشغول وو، دوی نږدې يو نيم کال وروسته په دې موفق شول چي خپل صفوف له سره منظم کړي او ورو ورو د جهاد ميدان ته راووځي، د امريکا په ضد د جهاد اعلان زموږ له لوري شوی، د طالبانو د حکومت له نسکورېدو وروسته د امريکايانو له بې پيلوټه طيارې لومړی راکټ زموږ په ضد توغول شوی، زه د هغه عملياتو شاهد وم چي د لومړي ځل لپاره د کنر د اسمار او دانګام ولسواليو ترمنځ؛ د امريکايانو پر ګزمې د حزب اسلامي د مجاهدينو له لوري ترسره شول، هم مي په آسمان کي ايف شپاړس

(c) ketabton.com: The Digital Library

طياري او د هغوی بمبارۍ په خپلو سترګو ليدله او هم د بمونو او راکټو لوخړي او هم مي له دواړو لوريو د ډزو غږونه اورېدل، دا له انصافه لري خبره ده چي زموږ په اړه شک کوې او د خپلي رسالې لوستونکو ته دا تأثر ورکوې چي ښايي موږ به د کرزي له حکومت سره تر پردې شا ته کومه معامله، راکړه ورکړه او تفاهم لرو!! که موږ دا کار کولی نو مخامخ مو له امريکايانو سره هم کولی شو، بيا خو دې ته څه ضرورت وو چي پر افغانستان باندي د امريکايانو يرغل مو محکوم کړ، د دوی په ضد مو د طالبانو د مقاومت ستاينه وکړه، له دوی سره مو د هرراز ملګرتيا لپاره چمتو والی اعلان کړ، کله چي د امريکايانو له بريد نه څو ورځې مخکي په شمال کي د طالبانو ټولو قومندانانو په اتفاق سره فيصله وکړه چي په شمال کي د مقاومت مسئوليت دي حزب اسلامي په غاړه واخلي، د شهيد قاري احمدالله له لاري ئې موږ ته خپله پرېکړه او غوښتنه اعلان کړه؛ موږ ورسره موافقه وکړه، د کابل شوری ئې د آراوو په اتفاق سره دې ته ورته پرېکړه وکړه او د متقي له لاري ئې موږ ته په مقاومت کي د برخي اخيستو او په شمال کي د مقاومت د سوق او اداري مسئوليت په غاړ اخيستلو بلنه راکړه، موږ ورسره موافقه وکړه، خو د طالبانو د کندهار مشرانو د خپلو دواړو شوراګانو پرېکړي ونه منلې، دا خو په ماتي کښتۍ کي له طالبانو سره د ګډ سفر خبره وه، څوک چي د اسلام لپاره دا کار کولی شي څنګه داسي بې ځايه شک پرې کوئ!! چا چي د امريکا له جمهور رئيس ريګن سره هغه مهال له ملاقات نه ډډه وکړه او د هغه بلني ته ئې منفي ځواب ورکړ چي امريکا د شوروي اتحاد په ضد د افغان ولس د مقاومت ننګه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاتړ کاوو، اوس چې امریکایانو زموږ هېواد نیولی څنګه به امریکایانو ته د روغي جوړي یا ملګرتیا لاس ورکوي؟!

## د مسلمانانو وژل په کومو حالتونو کي روا دي؟

محترم لیکوال تر دې عنوان لاندي لیکي: "په دوو حالتونو کي د مسلمانانو وژل روا دي: یو دا چي مسلمانان د کافرو په فوځ او اردو کي شامل شي او دا ګڼي چي دنده ئې جنګ دئ، که مسلمان ئې مخي ته راشي که بل څوک... د مسلمان د قتلولو بل صورت دا دئ چي څوک مسلمان د کافرو سره شي د هغوی د برياوو او سوبو لپاره د مسلمانانو سره جنګېږي او یا ورسره اعانت کوي... که څه هم محترم لیکوال دا دواړه بېل صورتونه ګڼلي خو که الفاظو ته ځير شئ نو دواړه ئې یو صورت دئ، دوی ته باید ووایو چي د مسلمان وژل په لاندي صورتونو کي جائز دئ:

- داسي څوک ووژني چي الله تعالی ئې وژل حرام کړي او د هغه سر، مال او عرض ئې له تېري خوندي شمېرلی، که دا مسلمان وي یا ذمي او مستأمن.
- محارب دښمن ته جاسوسي وکړي.
- د مسلمان په ضد وسله راوباسي.
- د محارب دښمن په فوځ کي یو ځای له مسلمانانو سره وجنګېږي، که څه هم دې جنګ ته اړ شوی وي.
- د داسي شرعي امير په ضد وسله وال بغاوت وکړي چي د مسلمانانو له لوري غوره شوی او واجب العزل نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- امنیت ته وسله وال گواښ راولاړ کړي، لاري ښکوي او شوکي کوي.

محترم لیکوال په همدې مبحث کي یو ځل بیا وایي چي کرزی متغلب نه دئ، لیکي: د ښاغلي حکمتیار صاحب په حضور کي په ډېر ادب او درنښت سره عرض کوو چي کرزی هیڅکله د متغلب مصداق نه دئ!! بلکي هغه د امریکایانو په شمول د نړۍ د ټولو کفري ځواکونو معاون دئ... محترم ورور ته وایو: موږ په دې کي په بشپړه توګه درسره موافق یو چي کرزی د متجاوزینو معاون دئ، دا لا څه چي دی او ملګري ئې هغو صلیبي ځواکونو زموږ د هېواد له اشغاله وروسته د اقتدار پر کرسۍ کښېنولي چي د نړۍ او تاریخ د ستر فرعون جورج بوش تر مشرۍ لاندي ئې زموږ پر هېواد برید وکړ، د دغو صلیبي ځواکونو او د دوی د ملګرو په ضد جهاد یو سپېڅلی او مقدس جهاد دئ، إن شاء الله د شهید او غازي اجر به ئې د احد او بدر د شهیدانو او غازیانو تر اجر کم نه وي، امید دئ چي الله تعالی په خپل فضل او کرم سره دغه ستر مقام ورپه برخه کړي، دا ځکه چي په ځینو روایاتو کي راغلي چي د وروستۍ زمانې او د فساد په دوران کي د مخلص او صالح مسلمان او مجاهد اجر به د پنځوسو صحابه وو په اندازه وي.

خو محترم ورور ته یو ځل بیا یادونه کوو چي له متغلب نه زموږ مراد هغه متغلب نه دئ چي د زور او ځواک په کارولو سره قدرت تر لاسه کړي او شریعت نافذ کړي، کوم علماء چي تا ئې اقوال رانقل کړي هغوی هم متغلب په دوو ډلو وېشي، له یوه سره په احتیاط او حوصلې سره چلند غوره ګڼې او د بل په ضد د پاڅون او قیام سپارښتنه کوي. داسي معلومېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي تا د متغلب په اړه د دغو علماوو يوه قول ته توجه کړې او بل ته نه، ته يوازي هغه څوک متغلب ګڼې چي د زور له لاري قدرت ترلاسه کړي خو شريعت نافذ کړي!! خو هغه بل متغلب دي له پامه غورځولی چي هم قدرت ته د رسېدو لپاره د زور او ځواک کارولو ناروا لار غوره کوي او هم قدرت ته له رسېدو وروسته شريعت ته شا کوي او په ماانزل الله حکم نه کوي او له خلکو غواړي چي د ده هوی او هوس ته تسليم شي او د ده اقتدار او واکمني ومني.

## دا پوښتنه چي پرون رباني متغلب وو؟

ښاغلی ليکوال تر دې سرليک لاندي ليکي:آيا رباني د کابل ښار دننه متغلب وو؟ او که د کابل څخه د باندي هم وو؟ که وو نو بيا ئې ولي په چهارآسياب، ميدان ښار او سروبي کي د خپل دولت مخالف ځواکونه ونشوای ځپلای؟ ...

دوی ته وايو:

- هو! رباني د کابل پر يوې برخي، هرات، د کندهار په ځينو برخو، ... ضعيفه او لړزانه واکمني درلوده، د کمونيستو مليشو، پرچميانو، ايران او مسکو په مرسته او ملګرتيا ئې پر دغو سيمو حکومت کولو، دغه سيمي د هغه ائتلاف په نتيجه کي د دوی لاس ته ورغلې چي د مسکو په وينا، د ايران په وساطت د کمونيستو مليشو، پرچميانو، شورای نظار، جمعيت او ايران پلوه شيعه ډلو څخه په جبل السراج کي جوړ شو او غرب ئې هم مرسته کوله، د افغانستان مربوط سفارتونه د مسکو او واشنګټن ترمنځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

موافقې په نتیجه کې دغه ائتلاف ته وسپارل شول، رباني یو کمزوری او د پردیو پر مټو او مرستو متکي متغلب وو، خو د متغلبینو له دوهمې ډلې څخه، نه هغه متغلب چې تا په پام کې نیولی.

- که تاسو نه د طالبانو حکومت د تغلب او استیلاء حکومت ګڼئ، نه د رباني او نه د کرزي، نو بیا خو ښایي د استیلاء او تغلب لپاره داسې کوم تعریف او تعبیر لرئ چې نه ئې بېلګه تر دې مخکې لیدل شوې او نه به وروسته ولیدل شي!! که ده ته متغلب ونه وایو بیا خو نو نه په تېر تاریخ کې کوم متغلب تېر شوی او نه به وروسته راشي!! بیا خو د متغلب اصطلاح هسې یوه بې مصداقه اصطلاح ده.

- ته مور ته ووایه: د متغلب لپاره د سلطې او تر سلطې لاندې سیمې لپاره معیار څه دئ؟ واکمنې ئې څومره مضبوطه او تر تسلط لاندې سیمه ئې څومره پراخه وي چې د متغلب نوم پرې کېښودی شو؟!! ټول افغانستان معیار ګڼې که ټوله اسلامي نړۍ؟ که ټول افغانستان او ټول افغانان معیار ګڼې نو بیا خو د طالبانو واکمنې هم نه ټولو افغانانو منلې او نه پر ټول افغانستان قائمه شوې!! څنګه دلته پر یوې برخې استیلاء د دلیل او مجوز په توګه وړاندې کوې او هلته ئې د تردید لپاره؟!

- د متغلب په اړه ستا ستونزه دا ده چې ګمان کوې د استیلاء او غلبې له لارې یو څوک شرعي امیر جوړېدی شي!! خو حقیقت داسې نه دئ، استیلاء او غلبه د چا واکمنۍ ته شرعي مجوز نشي ورکولی، حتی که شریعت هم نافذ کړي، فقهاوو چې د داسې متغلب په اړه څه ویلي هغه د اضطرار او مجبوریت په حالت کې د ناروا او حرام څیز موقتي جواز ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته دئ، هغوی وايي چي که څه هم د داسي کس امارت شرعي نه دئ خو د هغه اطاعت غوره دئ، دا هم تر هغه وخته چي د ده د عزل مناسب شرايط برابر شي، هغوی هيڅکله دا نه دي ويلي چي هر متغلب شرعي امير دئ او اطاعت ئې فرض او لازم!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په قرآن کي د مشر او قائد مواصفات

په قرآن کي په ډېر تفصيل او دقت سره د مسلمانانو د لارښود او زعيم مواصفات ښودل شوي او لارښوونه ورته شوې چي څوک؛ له کومو ځانگړتياو سره د زعيم په توگه غوره کړي.

تاسو پوهېږئ چي اسلام مسلمانان له منزوی ژوند نه منعه کوي، په دې ئې گماري چي د خلکو په منځ کي او په يوه منظم صف کي به اوسي، صالح لارښود او مشر به ځان ته غوره کوي او له هغه سره به بيعت کوي. د دې لپاره چي وتوانېږي د زعامت وړ شخص او د مشرتابه اهل لارښود وپېژني او د زعيم په توگه ئې غوره کړي؛ قرآن د يوه صالح او اهل مشر او قائد مواصفات او مشخصات به تفصيل سره بيان کړي او عملي بېلگې ئې د پيغمبرانو عليهم السلام په فکري، اخلاقي او عملي شخصيت کي زموږ مخي ته ايښي دي؛ راشئ دلته ئې څو مهمي برخې په اختصار سره له نظره تېري کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱ـ امانت

قرآن د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د معرفي په لړ کي موږ ته د دوی دغه د (امانت) صفت په مکرره توګه معرفي کوي او په دې توګه موږ ته وايي چي هغه څوک د زعیم او قائد په توګه غوره کړئ چي امین وي، زعامت او مشري د خلکو امانت او الهي مسئولیت وګڼي، له هغه قدرت او صلاحیت نه په پوره امانت، دقت او احتیاط سره استفاده وکړي چي ستاسو له لوري ورسپارل کېږي، د ده له پرېکړو او اجراءاتو د خلکو مال، نفس او عزت ته صدمه ونه رسېږي، خلک د خپلو هوسونو قرباني نه کړي، له هغه اقتدار چي ولس ئې ورسپاري، د اسلام د پلي کولو، د ولس د هوساینې او د ګډو سپېڅلو آرمانونو او شعارونو په لار کي وکاروي، د اسلام له نظره (ایمان) او (خیانت) هیڅکله یو له بل سره اړخ نه لګوي او په یوه زړه کي نه راغونډېږي، پیغمبر علیه السلام فرمايي: لا ایمان لمن لا امانة له: څوک چي امین نه وي ایمان نه لري.

[illegible]

[illegible]

الشعراء: ۱۰۵ ـ ۱۰۸

د نوح قوم پیغمبران تکذیب کړل، کله چي د دوی ورور نوح ورته وویل: آیا تقوی نه کوئ؟ یقیناً چي زه ستاسو لپاره امین استازی یم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇËÍÈ bqà)G? Ẅ& Îqè Ñèqä & Ñ¡ A$% 6) ÇËÎÈ ûüÎ™ ö3%$Š æ Ö/¤ .

ÇËÏÈ Èqã‹Ûr ©$(qà)?$ù ÇËÎÈ ûüÏB& ÂAqß‘ ö/ä3 9 ’Î)

الشعراء: ۱۲۳ ـ ۱۲۶

عاديانو پيغمبران تکذيب کړل، کله چي د دوی ورور هود ورته وويل: آيا تقوی نه کوئ؟ يقيناً چي زه ستاسو لپاره امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

د موسى عليه السلام قول رااخلي او فرمايي:

ÿŠ& b& ÇÏÈ îqÌY2 ÂAqß‘ Ñèä! `r šc qãöÏù Pöq% öNßg6 $ZFù ô‰ s)9r

الدخان: ۱۷ ـ ۱۸ ÇÑÈ ûüÏB& ÂAqß‘ ö/ä3 9 ’Î) « !$Š$6ã ¥’<Î)

يقيناً تر دوی مخکي مو د فرعون قوم وآزمويو او يو عزتمن پيغمبر ورغی؛ (له دې وينا سره) چي د الله بندگان راوسپاره، يقيناً چي زه تاسو ته يو امين استازی يم.

قرآن په عامه صيغه فرمايي چي د هر کار لپاره بايد (امين) او (باکفايته) کس وگمارئ:

القصص: ۲۶ ÇËÏÈ ßûüÏB{$ ‘“È)ø9$ NöfÉø'tGó™$ Ç`tB uŽöz žc Î) ...

... بې شکه چي تر ټولو غوره کس چي (د کوم کار لپاره ئې) استخداموې؛ هغه دئ چي (پياوړی) او (امين) وي.

په رواياتو کي راځي چي عمر رضي الله عنه يوه ورځ بيت المال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ چي هلته شته اموال وشمېري، عثمان رضی الله عنه او علي رضی الله عنه هم ورسره ول، د ده زيار، احتياط او دقت ته په پام سره چي په سختي تودوخي کي ئې دا کار په خپله کولو؛ علي رضی الله عنه عثمان رضی الله عنه ته مخ کړ او وئې ويل: په خدای قسم چي دی همغه (قوي امين) دئ.

## ۲. کفائت

لارښود بايد د دې دروند پېټي د وړلو او د دې ستر مسئوليت د ادا کولو توان او کفائت ولري، هم له علمي پلوه او هم له جسمي پلوه، قرآن د طالوت د انتخاب په قصې کي موږ ته همدا لارښوونه کوي، د دې قصې تفصيلات په دې توگه زموږ مخي ته ږدي:

ãl¸ öéZì (q$% öj é › qã Y‰è/ . `Ë Ÿ@ƒäÂŽó Ì Ûí/ . `Ë Z- J$% ’<Ì •? N9&

=Ïä2 bÎ öqþ¡ ã @d A$% « $È@‹ô™ ’Î @ï») b$Z6 îB $Z9 q è/$

« $È@‹ô™ ’Î @Ÿ» ) ç žw& $Z9 $Br (q$% (q1») ê žw& A$FÉ )$Nà6 øæ

žw) (ö@q? A$FÉ )$Nà6 øæ =Ïä $B=ù $ZÍ$Y/ r $R»ƒŠ `Ë $Y ô Ì-z é6%r

©$b Ì öqŠÎR öq9 A$%r ÇËÎÈ šú ü Î»à9$$/ Ø ŠÎæ ª! $r öqZË Wš%

$Zøã Û• ü$%$ã ãq$ƒ 4T& (q$% ZîB šV q$Û Nà6 9 ] è/ ‰%

©$b A$% É$J$šÆ Ë zè™ N sã 9r ç-B Å ü$%$ ‘,m& ßu r

(c) ketabton.com: The Digital Library

’Îsã ª! $r Éó É $r Éü $ ’Î pÜó ¼ş#–r Nà6 øæ ç8ÿÜô $

البقرة: ۲۴۶-۲۴۷ ÇËÍÈ ÒÓÎæ ïÅ°r ª! $r â±„ Æ B¼ç 6 ù

آیا د بني اسرائیلو هغه ډله دي ونه لیده چي له موسی نه وروسته وه، کله چي ئې خپل پیغمبر ته وویل: مونږ ته یو پاچا وټاکه، تر څو د الله په لار کي وجنګېږو، ورته وئې ویل: آیا داسي خو به نه وي چي جنګېدل دربانديفرض شي نو ونه جنګېږئ؟ وئې ویل: نو په مونږ به څه شوي وي چي د الله په لار کي به نه جنګېږو، په داسي حال کي چي له خپل کور کلي او ټبر نه ایستل شوي یو؟ خو چي کله جنګېدل پرې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غیر له لږ شمېر نه ئې او الله خو د دې ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

او پیغمبر ئې ورته وویل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلی، وئې ویل: څنګه به پر مونږ باندي ده لره پاچایي وي، حال دا چي مونږ په پاچایي کي تر ده ډېر وړ او مستحق یو او ده ته د مال پراخوالی هم نه دئ ورکړی شوی؟ وئې ویل: بې شکه چي هغه الله پرتاسو غوره کړی او په علم او جسم کي ئې پراخوالی او زیاتوالی ورکړی او الله چي چا ته وغواړي پاچایي ورکوي او الله ښه پوه واسع دی.

له موسی علیه السلام نه وروسته او هغه وخت چي بني اسرائیل په شرک او فساد اخته او له سمي لاري منحرف شول، نو د جالوت په نامه یو ظالم او بې رحمه پاچا وربانديمسلط شو، ډېر ئې ووژل، د دوی کورونه ئې لوټ او تاراج کړل او دوی ئې له خپل کور کلي وشړل، په دې وخت کي اشموئیل علیه السلام د دوی لارښوونه کوله، هغه ته راغلل، له خپلو مخکنیو کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو نه ئې ندامت وښودو او له هغه نه ئې د الله په لار کې د جهاد اجازه وغوښته، هغه مبارک د دوی مخکني حالت ته په پام سره ورته وویل: داسې نه چې جهاد درباندې فرض شي او بیا تاسو له هغه نه ډډه وکړئ، دوی ورته وویل: په داسې حال کې چې پر مونږ ظلمونه شوي، له خپل کلي کور شړل شوي یو، هیڅ داسې دلیل نه ګورو چې د الله په لار کې ونه جنګېږو، خو چې ورته وویل شو چې اوس نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنګېږئ، یوازې محدودو کسانو تیاری وښود، نور ټول له خپلې ژمنې او د الله په لار کې له جنګېدو په ډډه شول. د الله پېغمبر ورته وویل: تاسو د یوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه، دا دئ الله تعالی طالوت درته غوره کړی، د الله له دین نه اوښتي قوم ورته وویل: دی خو پر مونږ د مشرۍ وړ نه دئ، نه د نسب له مخې او نه د مال او شتمنۍ له مخې، د ټول ولس قیادت او زعامت خو باید داسې چا ته وسپارل شي چې قیادت او زعامت له پلار نیکه نه ورته په میراث پاته شوی وي، د کومې درنې او معتبرې کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پېغمبر د دوی په ځواب کې وایي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قیادت وړتیا هغه ورکړې، ښه (پوه) دئ او (د ښه صحت او قوي بدن خاوند) دئ، د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي، خو دوی دې ته تیار نه وو چې د طالوت قیادت ومني، د دوی معیارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسې انګېرله چې بې دینه او لارورکي قومونه ئې انګېري، د پېغمبر دا وینا ئې نه منله چې الله تعالی د دوی په خپر نه دئ چې نسب او مال د قیادت لپاره ضروري وګڼي او د طالوت په څېر یو نادار

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بې نوم نښانه څوک دي د دوی د مشرۍ لپاره مناسب ونه ګڼي.

ګورئ چي د پیغمبرانو علیهم السلام په مشرب او مسلک کي نه (نسب معیار دئ او نه (ثروت)، استعدادونه، علمي او جسمي وړتیاوي معتبري دي. په دې لارښوونو کي د زعامت په اړه اسلامي او غیراسلامي معیارونه په ډېره دقیقه توګه انځور شوي او موږ ته ښیي چي د جاهلانه معیارونو له مخي زعامت او قیادت یو موروثي توکی، د خاصي کورنۍ او ټبر حق او یوازي (شتمن) د دې منصب وړ او اهل ګڼل کېږي، خو د پیغمبرانو علیهم السلام په لارښوونو کي له فکري، اخلاقي، عملي او جسمي وړتیاوو پرته هیڅ څه اعتبار نه لري، ټول موهومي او تصنعي معیارونه او ارزښتونه مردود ګڼل کېږي.

## ۳. علم

مسلمانان په دې ګمارل شوي چي د ټولني تر ټولو (پوه) او (عالم) کس به د مشر او زعیم په توګه غوره کوي، قرآن موږ ته د آدم علیه السلام د خلافت په قصې کي همدا لارښوونه کوي او فرمایي چي الله تعالی د ملائکو په ځای آدم علیه السلام د دې لپاره د زمکي د خلافت لپاره غوره کړ چي تر فرشتو ئې علم جامع او پراخ وو، ملائکو د آدم علیه السلام علم او پوهي ته په پام سره اعتراف وکړ چي د دوی علم محدود دئ:

قالوا لاعلم لنا إلا ما علمتنا: وئې ویل: له هغه پرته چي تا راښودلي هیڅ علم نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسي حال کي چي د آدم علیه السلام په اړه فرمايي:

و علم آدم الاسماء کلها

او آدم ته ئې ټول نومونه وروښودل.

الله جل شأنه آدم علیه السلام او د ده نسل ته د ملائکو په پرتله دا فضیلت ورکړی چي علم ئې تر فرشتو جامع دئ، د هرڅه د پېژندلو او هغه ته د خاص نوم ورکولو استعداد په کي ایښودل شوی، خو ملائکي داسي دي چي هر صنف ئې د خپل خاص کار په اړه علم لري او د نورو شیانو په هکله نه پوهېږي، هر څه پېژندل او بیا هغه ته خاص نوم ورکول د انسان ځانګړتیا ده، دا خصوصیت په بل هیڅ مخلوق کي نه شته، د زمکي د خلافت لپاره همداسي یوه مخلوق ته ضرورت وو، ملائکو دا کار نه شو کولی.

دا آیتونه که له یوې خوا موږ ته لارښوونه کوي چي د اسلام له نظره د (خلافت) لپاره (اعلم: تر نورو ښه پوه) تر ټولو وړ دئ، له بلي خوا د هغه علم څرنګوالی هم موږ ته ښیي چي د خلافت لپاره ضروري دئ، د پیغمبر په شته والي که د طالوت امارت او د اشیاوو د نومونو د پېژندلو په وجه آدم علیه السلام د خلافت لپاره پر فرشتو ترجیح ښیي چي د دې منصب لپاره په ځانګړو برخو کي تخصصي علم کفایت نه کوي، باید د مشرتابه لپاره وړ شخصیتونه د ځانګړو تخصصي علومو له پلوه ونه څېړو او ونه لټوو؛ بلکي د مشرتابه لپاره چي کومي جامع پوهي او بصیرت ته ضرورت دئ دا باید معیار وګڼو او د دې له مخي اهل کس تشخیص او انتخاب کړو.

قرآن د مشر او امیر په توګه د طالوت د انتصاب لپاره دا دلایل وړاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي:

... A$% Î$b©$ ôÜÿç æø 6àÏ r–Š¼ç óÜp Î’$ùÜÉ r¾É ÉqÉ

Ç Ò îæ ì Å r ª! $ ã± „Æ B ¼ç 6 ù ’Îšã ª! $ البقره: ۲۴۷

وئې ویل: بې شکه چې الله هغه پرتاسو غوره کړی او په (علم) او (جسم) کې ئې پراخوالی او زیاتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي پاچایي ورکوي او الله ښه پوه واسع دئ.

یعني د هغو کسانو په ډله کې چې د امارت لپاره نومول شوي؛ طالوت تر ټولو غوره دئ او دوه داسي وړتیاوي لري چې ده ته پر نورو غوره والی ورکوي چې هغه (علم) او (پیاوړی جسم) دي، هم د خپل ولس د لارښوونې او قیادت لپاره ضروري پوهه او علم لري او هم د دې دروند پېټي د وړلو لپاره (پیاوړې متې).

## ۴ ـ قائد باید د ولس لپاره قدوه او بېلګه وي

هغه څوک باید د مشر په توګه غوره شي چې د اسلامي ټولني د ټولو فکري او اخلاقي ارزښتونو له پلوه، آرمانونو او شعارونو ته د وفادارۍ له پلوه، ضوابطو ته د التزام له پلوه او د تګلاري او اسلوب د مراعات له پلوه د ټولني فرد فرد ته د بېلګي او اسوه په څېر وي، لکه چې قرآن په دې اړه فرمایي:

©$ (qã ö b%. `J) ¡m ôqÜé «! $ É qß‘ ’Î 3 b%. ‰) ©

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible] الاحزاب:

۲۱

يقيناً چې د رسول الله (په شخصيت) کې ستاسو د هغه چا لپاره غوره بېلګه ده چې الله او د آخرت ورځې ته هيله لري او الله ډېر يادوي.

يعني پر الله تعالی د ايمان څرنګوالی، د هغه فضل او کرم ته هيله درلودل، په آخرت باور او اخروي سعادت لټول او هيله ورته درلودل او د الله تعالی زيات ذکر او يادول بايد له پيغمبر عليه السلام نه زده کړو او هغه د ځان لپاره په دغو برخو کې د بېلګې او اسوه په توګه غوره کړو.

همداراز دا د يوه مؤمن لاربسود ځانګړتيا ګڼل شوې چې له دښمن سره به ئې چلند پرېکنده او قاطع وي، خپل برائت، نه پخلا کېدونکې دښمني او عداوت به له دښمن او د هغه تګلارو، سياستونو او افکارو سره اعلانوي، قرآن په دې اړه فرمايي:

[illegible]

[illegible]

... [illegible]

الممتحنه: ۴

يقيناً چې تاسو ته د ابراهيم او هغو کسانو (په شخصيت او دريځونو) کې ښکلې اسوه او بېلګه ده چې له ده سره ملګري ول، هغه مهال چې خپل قوم ته ئې وويل: له تاسو او له هغه څه چې له الله پرته ئې عبادت کوئ برئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې زاره يو، له تاسو (او ستاسو له دين نه) انکار کوو، او زموږ او ستاسو ترمنځ تلپاتې دښمني او کرکه راپيدا شوې، تر هغه چي تاسو پر يوازني الله ايمان راوړئ...

يعني له دښمنانو نه په بې زارۍ او برائت کي او د هغوی د تګلارو او افکارو په خلاف د مستمر او تلپاته عداوت او کينې په اعمال او اعلان کي بايد ستاسو ستر لارښود ابراهيم عليه السلام او مؤمن او موحد ياران ستاسو لپاره بېلګه او اسوه وي.

په صداقت، په خپلو ژمنو وفا، تقوی او پرهېزګارۍ، له الله تعالی وېره، د الله پر بندګانو زړه سوی او ترحم، پر خپل جائز حق قناعت، د حدودو او ضوابطو مراعات، د خپلو مسئوليتونو او وجايبو په اړه التزام، د دښمن په وړاندي عدم مداهنت، صبر او استقامت، جرأت او شهامت، د ګواښونو او فشارونو په وړاندي له خضوع او تسليمېدو ډډه... په دې ټولو کي بايد امير او لارښود د نورو لپاره قدوه او اسوه وي.

## ۵ ـ يوازي له الله تعالی د اجر او بدلې طمعه

قرآن د صالح مشرتابه له مهمو مواصفاتو څخه دا صفت ګڼي چي هغه له خپلو پلويانو او مخاطبينو نه د هيڅ بدلې او معاوضې طمعه نه لري، دا وينا د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام ګډه وينا بولي چي خپلو مخاطبينو ته ئې ويلي: له تاسو هيڅ بدله او معاوضه نه غواړو، د اجر طمعه مو يوازي له رب العالمين څخه ده، لکه چي فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

bqà‹? ŵ& ìxî» ¹ Ñèqä & Ñç A$% ¬é ÇÎÈ ûüÎ™ë3$Šq3 Ï M/¤ .

$Br ÇÎÈ Ëqã‹Û&r ©$ (qà)?$u ÇÎÈ ûüB& Aqß‘ Ñ3 ’Î ÇÎÈ

ÇÎÈ ûüÜ=»è$É ‘ 4ã ŵÎ “ Ìô & ÷bÎ @ & ôÏ Ìøã Ñ3èÕ&

الشعراء: ۱۴۱ـ ۱۴۵

ثموديانو پيغمبران تکذيب کړل، کله چي د دوی ورور صالح ورته وويل: آيا تقوی نه کوئ؟ يقيناً چي زه ستاسو لپاره امين استازی يم، نو له الله ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. او له تاسو نه پرې اجر نه غواړو، زموږ اجر خو يوازي پر رب العالمين دئ.

د يوه زړه ور او مجاهد مؤمن قصه زموږ مخي ته ږدي چي د خپل قوم په وړاندي ئې هغه مهال له پيغمبرانو نه په مېړانه او جرأت سره دفاع وکړه چي قوم تکذيب او په مرگ ئې وگواښل، فرمايي:

šú ü Î™ë3$(qãÎ$Éö) »ƒ A$% 4éó„ @ã ‘ þZ/‰ J$Á% ôÏ ä!`r

ÇÎÈ brß‰tGôB Nèdr #Ìô & öNä3é=t«ó¡o w `B (qãÎ$Î

يس: ۲۰ـ۲۱

او د ښار له لري پلوه يو سړی په تلوار سره راغی؛ وئې ويل: اې زما قومه! د دغو پيغمبرانو متابعت وکړئ، د هغه چا متابعت وکړي چي هيڅ بدله او معاوضه درنه نه غواړي او هدايت شوي دي.

په مکرره او پرله پسې توگه او د اکثرو پيغمبرانو عليهم السلام په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه د دغه صفت يادونه ښيي چي دا د مشرتابه له اهمو مواصفاتو څخه دئ چي بايد د لارښود او مشر په انتخاب كي ئې په جدي توګه په پام كي ولرو، او هغه څوک د مشر او امير په توګه غوره كړو چي له خلكو نه د هيڅ مادي او معنوي بدلې او اجر طمعه ونه لري، نه د ستايني طمعه او نه ځان او خپلي كورنۍ ته د كوم امتياز ترلاسه كولو طمعه، مشري بايد يو مسئوليت وګڼي نه يو امتياز، له دې احساس سره دا دنده په غاړه واخلي او دا مسئوليت قبول كړي چي د الله تعالى مظلومو او بې وزلو بندګانو ته خدمت وكړي، د مظلوم مرسته وكړي او ظالم پر خپل ځاى كښېنوي، د حق بيرغ اوچت كړي او د باطل ټغر ټول كړي، نه دا چي دې مقام ته په رسېدو سره ځان تر نورو لوړ او غوره وګڼي، په جامه، خوراک، مسكن او د ژوند په نورو برخو كي امتيازات ترلاسه كړي او په بيت المال كي د ځان او خپلي كورنۍ په ګټه تصرف ځان ته روا او جائز وګڼي.

قرآن د فرعون د قصې په يوې برخي كي دا صفت په دوو څېرو كي د دوه ډوله زعامتونو په اړه داسي انځوروي:

ÍÉ»dr ŽÇË ã7ü ’Í § ŽÛ& Éö)»ƒ A$% ¾hBö% ’Î ãöãd 3“ Š$Rr

#‹»d ôË Žöz $R& Q& ÇÎÈ brŽÇ7è Ÿx ù& ÓÉs? `Ë “ÌøB ãgR{$

A dŒ `Ë ×Ëö& høã ’Åéwö ù ÇÊÈ ßüÎãŠ3ƒ Ÿr ßüĝB qè “Ÿ%$

çqã$Û'ù ¼çBö% £# , GŸ$ ÇÌÈ šú üÎÏ)ãè 6 Í»=J$çèB ä!` ¨&

(c) ketabton.com: The Digital Library



او فرعون په خپل قوم کي په جګ غږ وويل: اې زما قومه! آيا د مصر پاچايي زما نه ده؟ او دا ويالې چي زما (تر واکمنۍ لاندي هېواد کي) بهېږي، آيا نه ئې ګورئ؟ آيا زه غوره يم او که دغه چي سپک دئ او په وضاحت سره خبره نشي کولی؟ ولي د سرو زرو لاس وندي نه دي پرې اچول شوي او ولي ئې خوا ته فرشتې (د ده د ساتونکو په توګه) نه دي ورسره راغلې؟ نو خپل قوم ئې وغولولو او د ده اطاعت ئې وکړ، يقيناً چي دوی فاسق وګړي وو.

ګورئ چي فرعون ځان د مصر بلامنازع ټولواک ګڼي، د مصر ټولي شتمنۍ، زمکي او نهرونه خپل شخصي مايملک ګڼي، د هر ډول تصرف حق ځان ته ورکوي، تر موسی عليه السلام په دې دليل ځان غوره او د مشرتابه لپاره وړ بولي چي هغه خوار او نادار دئ، نه خلک د ده په خبرو پوهېږي او نه دئ خپله خبره په وضاحت سره کولی شي، فاخره جامې نه لري، د سرو زرو لاس وندي چي د پاچايۍ نښه ګڼل کېږي نه لري او خوا ته ئې مسلح ساتونکي نشته!!

پيغمبر عليه السلام له زکات او صدقاتو نه چي د اسلامي دولت د عايداتو اساسي منبع ده؛ د ځان او خپل ټبر لپاره استفاده تحريم کړې، خلکو ته به ئې ويل: ستاسو په مالونو کي د فقيرانو او مسکينانو لپاره داسي ټاکلی (حق) دئ چي ستاسو له شتمنو به ئې اخلم او ستاسو په فقراوو به ئې وېشم او هيڅ څه به د ځان لپاره نه ترې ګرځوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قربانۍ او له خطرونو او ګواښونو سره د مقابلې لپاره به ئې خپل نږدې اقارب راوړاندې کول، هغوی ته به ئې ويل چې مخکې راشې او په لومړي خط کې ودرېږې، خو د امتيازاتو د وېش په مهال به ئې هغوی ته ويل: پر خپل جائز او محدود حق اکتفاء وکړئ، زکات او صدقاتو ته طمعه مه کوئ، د بيت المال اړوند اموال به ئې امانت ګڼلو او د الله تعالی په لار کې به ئې لګولو، په اړو مستحقينو به ئې وېشل او د ځان لپاره به ئې هيڅ څه نه ترې اخيستل، د ځان لپاره ئې د فقيرانو په څېر ژوند غوره ګڼلو او فرمايل ئې:

الفقر فخری.

د فقيرانو په څېر ژوند زما لپاره د فخر خبره ده.

مياشتې مياشتې به تېرې شوې او د ده په کور کې به د ډوډۍ د پخلي لپاره اور نه وو بل شوی، د کورنۍ غړو او خپلوانو ته به ئې ويل: له صدقاتو نه څه مه اخلئ، تاسو ته روا نه ده چې له هغه څه استفاده وکړئ چې نورو خپل مالونه پرې پاک او تزکيه کړي.

په رواياتو کې راځي چې يو مهال ډېر اسيران مدينې ته راوستل شول، د پيغمبر عليه السلام ګراني لور فاطمې رضي الله عنها چې لاسونه ئې په مېچنې تناکې شوي وو له پيغمبر عليه السلام نه د يوې خادمې غوښتنه وکړه، پيغمبر عليه السلام په ځواب کې ورته وويل: آيا تر دې غوره شئ درونه ښيم؟ او هغه دا چې په تسبيح، تحميد او تکبير لګيا اوسه او له الله تعالی مرسته غواړه، ښځګه تا ته خادمه درکړم په داسې حال کې چې اهل صفه له لوږې ډبرې په خپل نس تينګې ترې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بدر په معرکه کي هغه مهال چي د قريشو درې نوميالي جنګيالي له صفه ميدان ته راووتل او له مسلمانانو نه ئې د مبارزې لپاره د حريف غوښتنه وکړه، پيغمبر عليه السلام خپل درې نږدې خپلوان؛ حمزه رضی الله عنه د ده تره، علی رضی الله عنه او عبيده بن حارث رضی الله عنه د ده د تره زامن د دښمن مقابلې ته وړاندي کړل.

قرآن رسول الله صلی الله عليه وسلم ته لارښوونه کوي چي خپل نږدې اقارب انذار کړه په داسي حال کي چي د خپلو مؤمنو پلويانو په اړه بايد تواضع ولرې، د دې لارښووني او امر په اهميت هغه مهال ښه پوهېدی شو چي د غيراسلامي نظامونو د واکدارانو له کړنو سره ئې مقايسه کړو او وګورو چي په دغو ټولنو کي ستري ستري ستونزي د چارواکو د حوارينو او خپلوانو له تصرفاتو راولاړېږي، هغه چي په ټولني کي امتياز لرونکې مفت خوره ډله ترې جوړه شي. لکه چي د مفسد ظاهرشاه د اقتدار په وخت کي هر محمد زايی ته (سردار) ويل کېدل، د هېواد هر ګوټ ته چي به ولاړې او مجلل قصر، ښېرازه زمکه، ښکلی بڼ به دي ترسترګو شو او وبه دي پوښتل چي دا د چا دئ؟ دا ځواب به درکړی شو چي د شاهي کورنۍ د فلان غړي او يا د فلان درباري پير!!

قرآن فرمايي:

7 è7?$ÇJï 7 n$Z_ ôÙ ÿ-z$r ÇËÍÈ šú üÎ•%F$ 7 ?Ž•Ë±ã ôÉR&r

bqèJè? $JÏ ûüÏ ì/ ’Îþ) @ä) 8qÁã bÎ*ù ÇËÎÈ šú üÏZÏB÷sßJø9$ `Ï

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نږدې خپلوان دي وویروه او خپل وزر دي هغو مؤمنانو ته ټیټ لره چې ستا متابعت ئې کړی، خو کې ئې له تا نه سرغړاوی وکړ ورته ووایه: زه له هغه څه بې زاره یم چې تاسو ئې کوئ.

پیغمبر علیه السلام په خپلې خوا کې هغو خلکو ته ځای ورکاوو او تر نورو ئې وړاندې کول چې تر ټولو ئې زیاته مالي او ځاني قرباني ورکړې وه او له الله تعالی پرته له هیچا ئې د کوم امتیاز طمعه نه درلوده، بلکي هرې بلې قربانۍ او ایثار ته چمتو ول.

مورږ په غیر اسلامي نظامونو او منحرفو سیاسي احزابو او ډلو ټپلو کې ګورو چې د چارواکو بطانه او د مشرانو حواریین له زیاتو امتیازاتو برخمن وي، د دولت او حزب امکانات د همدغو په لاس کې لوېږي، هر یو ئې د دې لپاره غواړي لوړ ولاړ شي، زعیم ته ځان نږدې کړي او دربار ته لار ومومي چې تر نورو زیات او فوق العاده امتیازات ترلاسه کړي، د دوی له نظره د حزب امکانات په لومړي ګام کې او تر نورو مخکې باید د شوری پر غړو او مشر ته پر نږدې ملګرو ووېشل شي، که داسې ونه شي او د کوم مشر په خوا کې د دوی غوښتنې تأمین نشوې؛ ترې بېلېږي او د بل داسې چا په خوا کې ودرېږي چې جیب ئې ورډک او خوله ئې ورخوږه کړي!! په افغانستان کې چې کومې ډلې د امکاناتو د پرخوالي او زیاتوالي او هغه مهال جوړې شوې چې د جهاد په نامه له ټولې نړۍ نه امکاناتو او امتیازاتو د افغانستان په لوري مخه کړه، ټولې ئې له دغسې خلکو جوړې شوې، ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library
دروازو ته ودرېدلي، له ډېرو سره ئې بیعتونه کړي او مات کړي، له هیچا سره ئې په خپلو ژمنو وفا نه ده کړې!!

## ۶ـ توکل

د مبارزې په لوړو او ژورو او د ژوند په پېچومو او کږلېچونو کي کله کله حتماً داسي مراحل رامنځته کېږي چي مؤمن دعوتگران او د آزادۍ او عدالت د لاري مبارزان دې ته اړ کېږي چي مادی محاسبات له پامه وغورځوي، په بشپړه توگه او یوازي پر الله تعالی توکل وکړي، له ضعف او ناتوانۍ سره سره او په خپلو محدودو وسایلو سره د ځواکمن دښمن مقابلې ته چمتو شي، په ډېر بدو شرایطو کي د صبر او استقامت لمن ټینگه ونیسي، پر الهی تائید او حتمي بریا باور ولري، د لاري او سنگر ملگرو ته ډاډ او اطمئنان ورکړي، حوصلې ئې لوړي او هیلي ئې ژوندۍ وساتي، له یأس او ناامیدۍ ئې وژغوري، په داسي سختو شرایطو کي یوازي یو متوکل، ډاډمن او د الله تعالی تأیید او نصرت ته هیله من مشر او لارښود کولی شي د اسلامي نهضت طوفاني کښتۍ د سختو ورځو په څپانده سیند کي ساحل ته ورسوي. قرآن له مصر نه د موسی علیه السلام او بني اسرائیلو د هجرت او د فرعون د فوځونو له لوري د دوی د تعقیب په قصې کي موږ ته د اسلامي صف د لارښود دغه ځانگړتیا انځوروي او وایي: کله چي موسی علیه السلام او د سفر ملگري ئې له بحر سره مخامخ شول، شا ته ئې وکتل چي د فرعون مجهزي لښکري ورنږدې شوې، د نجات لار او امکان په نظر نه ورتلو، د محاصرې له وېري سخت مضطرب او پرېشانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ول، موسی علیه السلام ته راغلل او وئې ویل: موږ محاصره شوو، د فرعون د سپایانو په منګولو کې پرېوتو، د نجات لار نلرو، ... موسی علیه السلام هغوی ته اطمئنان ورکوي او قرآن دا جریان داسې بیانوي:

ϭ › qã Ü » s ô & A$% È$èô f $#äÂ•? $#=ù ÇÏÈ šú üÏÎô³B Nèdqãèt6ø?

4ǐ $Ÿ2m#'ù ÇÏÈ ÈŒŸ‰ǒ™ 'î ÓéB bǐ ×. A$% ÇÏÈ bqä‘6õ3 9 $Rǐ

ŠqöÖ9$ 5ö @ä b%3ù ,=ÿR$$ •ó 7$$ 8$Á èî >ÎôÑ $ È & ϭ › qã

ÿçèB `Br 4 › qã $Z$gU&r ÇÏÈ ûïÌ z F$$ 0 $Ÿ9ø&r ÇÏÈ ÈŠ$àè$

b%. $Br zÿy 7Ï9Œ 'î bǐ ÇÏÈ ûïÌ z F$ $Ÿ%ô & Oë ÇÏÈ ûüèHø&

ÇÏÈ ûüZBs B Nèdçø الشعراء: ۶۰-۶۷

نو د لمر خاته پر مهال ورپسې شول او کله چې دواړو ډلو یو بل سره ولیدل د موسی ملګرو وویل: شک نه شته چې مونږ وموندل شوو (دا دی مونږ ته راورسېدل)، وئې ویل: داسې نه ده؛ یقیناً چې زما رب راسره دئ، هغه به حتماً (د نجات) لار رانښیي، نو موسی ته مو وحي وکړه چې دا سیند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، هغه ځای ته مو وروستني هم رانږدې کړل او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، بیا مو وروستني غرق کړل، یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

گورئ چي موسی علیه السلام په هغه سخت حالت کي چي له هري خوا لار پرې بنده، د دښمن مجهز فوځ ئې تر شا، مخي ته بحر حایل او ملګري ئې هم وېري اخیستي، خو دی په همدې حالت کي ډاډه او مطمئن دئ او د الله تعالی مرستي ته سترګي په لار او د همدغه ډاډ او اطمئنان په وجه الله تعالی ورته وفرمایل: اوس نو دا بحر په خپلي عصا ووهه، یعني دا الهي مرسته د هغه ډاډ او اطمئنان نتیجه وه چي موسی علیه السلام وښوده او خپلو ملګرو ته ئې وویل: ګمان مه کوئ چي موږ ونیول شوو او د دښمن په لاس کي پرېوتو!! الله تعالی راسره دئ؛ هغه زموږ د ژغورني ذمه وار دئ!!

د پیغمبر علیه السلام په اړه فرمایي: کله چي له مکې نه هجرت ته اړ شو، دښمنان له ایستلو تورو سره ورپسې شول، ابوجهل د ده د وژلو لپاره د سلو اوښانو د انعام ذمه وهلې وه، د مکې خوا ته د ثور غره یوې سمڅي ته ئې پناه یووړه، دښمنان ایستلې توري په لاس د سمڅي خولې ته رانږدې شول، د سفر یوازنی ملګری ئې؛ ابوبکر صدیق رضی الله عنه پرېشان وو او پیغمبر علیه السلام ته ئې وویل: که دښمن خپلو پښو ته وګوري موږ ویني! خو پیغمبر علیه السلام په ټول ډاډ او اطمئنان سره هغه ته وایي:

¼ç‰ƒ&r Ïhøã ¼çG^‹Å6 ™ ª!$ A“R'ù $YèB ©!$ žc Î) ÷b“tB Ÿw ...

4?ÿ¡ 9$ (rãÿŸ2 šú ïÏ%©!$ pJÎŸ2 Ÿ@è_r $dr•? Nó© Šqãf Î

التوبه: ۴۰ ÇÍÉ ÒŠÅm î ƒ/Ì ã ª!$ r $‹uŠÎ=ãè ø9$ šï Ïf « !$ pJÎŸ2 r

... غم مه کوه، یقیناً چي الله له موږ سره دئ، نو (د همدې په وجه) الله خپله ډاډېنه پرې نازله کړه او په داسي لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو نه لیدل او د کافرانو شعار ئې ټیټ کړ او د الله شعار خو (تل) لوړ دئ، او الله باحکمته غالب دئ.

یعني په دې پېښې کې د دښمن ماتې، خپلو موخو ته نه رسېدو کې او د پیغمبر علیه السلام په هغه روڼ مستقبل کې چې د همدې هجرت په وجه د ده او د اسلام په برخه شو؛ هغه ډاډ او اطمئنان لویه او اساسي ونډه درلوده چې پیغمبر علیه السلام د الهي معیت او تائید په اړه درلود او د دغې پېښې په دوران کې ئې عملاً وښود.

## ۷ـ شجاعت

د مشرتابه لپاره بل ضروري صفت دا دئ چې هغه به له حق نه په دفاع کې لازم شجاعت لري، د شر او فساد د ځواکونو غولوونکی او هیبتناک ظاهر به د ده په زړه کې وېره او خوف نشي راولاړولی، د دښمن ګواښونه او ګوت څنډني به ئې نشي وېرولی، د پرېکړو پر مهال به له خوف او وېري سره مشوره نه کوي، دا صفت پر الله تعالی او الهي مقدراتو له پاخه ایمانه راولاړېږي او له سختو ورځو، هیبتناکو پېښو او وېروونکو لوړو ژورو نه د تېرېدو په ترڅ کې په یوه مؤمن او خدای پال بنده کې وده مومي، څوک چې له داسي مرحلو څخه نه وي تېر شوی او له سختو آزموینو سره نه وي مخامخ شوی او د زړه ورتیا او شحاعت جوهر په کې نه وي پوخ شوی د یوې اسلامي ټولني او مجاهد ټولي د زعامت او مشرۍ وړتیا او اهلیت نه لري. قرآن په همدې ارتباط د ابراهیم علیه السلام په اړه فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ä $Y=ï 7 äe% ` 'ĵ A$% £ġß?'ù ,M»Kî3Î ¼ç" O¿ü°•ĉ #?F$Èĵr

ÇËÍÈ ûüÜî»à9$ " Ÿ‰ĝã ã$Zƒ Ẅ A$% ÓÉfé `Ër A$% $B$Bĵ

البقره: ۱۲۴

او كله چې خپل رب ئې ابراهيم (عليه السلام) په څو خبرو وآزمويلو، كومې چې هغه ترسره كړې، وئې فرمايل: زه خو دې د خلكو لپاره د يوه امام او پيشوا جوړونكى يم، وئې ويل: او زما له اولاد نه هم، وئې فرمايل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

ابراهيم عليه السلام له ګڼ شمېر الهي آزموينو سره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، زندان ته تګ، په اور كې لوېدل، هجرت او وطن پرېښودل، د مكې په وېرووونكې وچې بيديا كې هاجر او اسمعيل يوازې پرېښودل، د اسمعيل په ذبح كولو ګمارل كېدل، ... هغه په ټولو دغو الهي آزموينو كې برياليى شو، د دې بريا بدله او جزاء دا وه چې د خلكو د امامت او مشرۍ مقام ئې په برخه شي، الله تعالى ورته وفرمايل چې اوس نو ته د خلكو د امامت وړ يې، دا مقام تا ته سپارم. تمنا ئې وكړه چې كاش د خلكو د لارښوونې دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالى وفرمايل: زما په دې فرمان كې ظالمان نه دي شامل، ظالمان كه څه هم ستا زامن وي د دې جليل مقام وړ نه دي.

ډېره عجيبه او د حيرانتيا وړ خبره ده چې دلته هم ځينو كسانو د دې په ځاى چې دا ابتلاءات همغه وګڼي چې په قرآن كې راغلي، برعكس د نوكانو د قطع كولو او د اضافي وېښتانو د خرييلو په څېر څو كارونه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼي!!

قرآن د ابراهيم عليه السلام د عدم خوف څرنګوالی د ده په هغه ځواب کي زموږ مخي ته ايښی چي خپل مشرک قوم ته ئې ورکړ، فرمايي:

$B S‰{& Wr Ç1‰d ô‰r «!$ ’Î ’ÎTþq’f¯tBr& A$% 4çmãBqs% çmr_!$ymur

$¸Jù=Ïã >äóÓx« ¨@à2 ’În1u‘ ìÅur 3 $\«ø‹x© ’În1u‘ uä!$t±o„ br& HwÎ) ÿ¾ÏmÎ/ šcqà2ÎŽô³è@

šcqèù$y‚s? Ÿwur ôMà2÷Žx°r& !$tB ß$%s{r& y#ø‹x.ur ÇÑÉÈ brã©.x‹tFs? Ÿxsùr&

È÷ƒs)ƒÌxÿø9$# ‘“r'sù 4 $YZ»sÜù=ß öNà6ø‹n=tæ ¾ÏmÎ/ öAÍi”t\ãƒ óOs9 «!$$Î/ OçFò2uŽõ°r& öNä3¯Rr&

ÇÑÊÈ šcqßJn=÷ès? óOçFZä. bÎ) ( Ç`øBF{$$Î/ ‘,ymr& الانعام: ۸۰ ـ ۸۱

او قوم ئې ورسره شخړه وکړه، (ورته) وئې ويل: آيا د الله په اړه راسره لانجه کوئ؟ حال دا چي په يقيني توګه ئې زه هدايت کړی يم او زه له هغه څه څخه نه وېرېږم چي تاسو ئې (له الله سره) شريکوئ، مګر (له دې وېرېږم چي) زما رب کوم څه (ضرر راته) وغواړي، زما رب په ټولو شيانو علماً احاطه کړې ده (په هر څه پوهېږي)، نو آيا پند نه اخلئ؟!

د دې مبارک آيت په اړه لاندي خبري په پام کي ولرئ:

- دا آيت ښيي چي د ابراهيم عليه السلام مخکنۍ ويناوي له قوم سره د محاجې او استدلال په دوران کي شوې، د استفهام په توګه ئې کړې، هغوی ته ئې ويلي چي آيا زما رب دا ستوری دئ، که دا سپوږمۍ او لمر؟
- قوم ته وايي: آيا د الله په اړه راسره لانجه کوئ؟ حال دا چي په يقيني

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه ئې زه هدايت کړی يم، ما خپل دلايل درته وويل، زما د لاري په حقانيت کي د شک او ترديد هيڅ مجال نه دئ پاته.

- ما له خپلو معبودانو مه وېروئ، ستاسو له معبودانو هيڅ وېره نه لرم، وېره مي يوازي له دې ده چي الله تعالی کوم ضرر راته وغواړي، که ئې زما په هکله د کوم ضرر او تاوان اراده وکړه، نو هغه ئې په وجه او سبب او دا چي څه مصلحت به پرې مرتب کوي، ډېر ښه پوهېږي.
- آيا پند نه اخلئ، آيا دغه دلايل درته کافي نه دي؟!

## ۸ـ د الله تعالی په لار کي د اذيتونو ګالل

دې ته په پام سره چي قرآن د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه فرمايي چي د الله تعالی په لار کي ئې ستونزي او کړاوونه ګاللي، له مخالفتونو سره مخامخ شوي، د مخالفينو له لوري اذيت شوي، هجرت ته اړ شوي، ملګري ئې ځورول شوي... دا ښيي چي د الله تعالی په لار کي د اذيتونو ګالل هم د مشرتابه له مواصفاتو څخه دئ، پيغمبر عليه السلام فرمايي: هيڅوک د پيغمبرانو په اندازه د الله تعالی په لار کي نه دئ اذيت شوی او هيڅ پيغمبر زما په څېر نه دئ ځورول شوی، څومره چي انسان الله تعالی ته ډېر نږدې وي ابتلاء او آزمويني به ئې همدومره ستري وي.

لکه څنګه چي لوړ شخصيتونه د دوی له ذاتي مواصفاتو نه پېژندی شو؛ همداراز ئې د دوستانو او دښمنانو له مخي او له دوی سره د دښمنانو د چلند د څرنګوالي له مخي پېژندی شو، څوک چي د شر او فساد ځواکونو له شديد مخالفت سره مخامخ وي، دښمن د هغه په ضد تر نورو زيات عناد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خصومت څرگندوي، تر نورو ئې زيات خطرناک گڼي، په خپلو تبليغاتو کي تر نورو زيات د ده په اړه ترخه ژبه کاروي، او په هري تبصرې کي ئې د غضب او کينې نښي له ورايه برېښي، څوک چي د دښمن له لوري تر نورو زيات اذيت کېږي؛ په حقيقت کي د دښمن حساسو سترگو په ده کي هغه څه ليدلي چي بايد وېره ترې ولري او خطرناک ئې وگڼي، هغه ځانگړتياوي ئې په کي ليدلې دي چي له لري او د دښمن په سترگو ليدی شي نه له نږدې او د دوستانو په سترگو، دښمن ئې په ښه توگه احساسولی شي نه دوست. ښه او صالح دوستان هم د يوه صالح او ښه شخصيت د ښو ځانگړتياوو نښه گڼل کېږي، غوره او نېک شخصيتونه تل ښه او صميمي دوستان او شديد نه پخلا کېدونکي دښمنان لري، د ټولني نېکان ئې ملگرتيا کوي او مفسدين ئې نه پخلا کېدونکې دښمنی ته ملا تړي، او تل د دښمنانو له شديد مخالفت او اذيت سره مخامخ وي. په همدغو کړاوونو او اذيتونو کي وروزل شي، پاخه شي، کمال ته ورسېږي او ستر ستر شخصيتونه ترې جوړ شي. کړاوونه او ستونزي په انسان کي هغو صفاتو ته وده او ځلا ورکوي چي له بلي لاري او په بل څه نه ښېرازه کېږي او غوټۍ ئې نه غوړېږي.که گورو چي ټول پيغمبران عليهم السلام د الله لوري ته په دعوت کي له سختو اذيتونو، مخالفتونو، آزموينو، ستونزو، کړاوونو، ځورونو او هجرتونو سره مخامخ شوي، زندانونو ته تللي، دوی او ملگري ئې په شهادت رسېدلي، د اور په کَندُو کي اچول شوي، ... دليل ئې همدا دئ چي مخکي مو ورته اشاره وکړه، پيغمبر عليه السلام فرمايي: کله چي الله تعالی وغواړي يوه ډله د دوستانو او محبانو په توگه غوره کړي نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتلاءاتو سره ئې مخامخ کېږي چې د هغوی په وړاندې صبر وکړي (او د همدې صبر په نتیجه کې) د الله تعالی د دوستۍ وړ شي.

ځوک چې د ناز او نعمت له بستره اقتدار ته ورسېږي یزید ترې جوړېږي او ځوک چې د ابراهیم علیه السلام په څېر د الله تعالی په لار کې د ابتلاءاتو او آزموینو په وړاندې صابر او صامد پاته شي؛ زړه سواند لارښود او د آزادي غاړو امام ترې جوړ شي.

## ۹- د خلکو د هدایت تلوسه او د ملګرو په اړه زړه سوی:

د خلکو د هدایت په اړه شدید حرص، له ذلت او ضلالت نه د دوی د ژغورني ژوره تلوسه، د لارې د ملګرو، همسنګرو او همسفرو په اړه رحمت او زړه سوی درلود ل د یوه صالح او مؤمن مشر له ځانګړتیاوو څخه دي، د یوه اسلامي صف تر ټولو مهم او اساسي هدف د الله تعالی لورې ته د خلکو بلنه او د حق او حقیقت لورې ته د خلکو لار ښوونه ده، په ټولو هڅو او هلو ځلو کې که دا سیاسي او اجتماعي وي، یا فکري او فرهنګي او یا اخلاقي او نظامي ؛ دا باید په پام کې وي او د هر تحرک موخه چې خلک له کفر، شرک او جهل څخه ژغورل شي، له تیارو وو ځي، د نور او رڼا لورې ته هدایت شي، د ظلم او فساد ټغر ټول شي، عدالت او برابري تأمین شي، حق غالب شي او باطل له منځه ولاړ شي. پیغمبر علیه السلام ؛ علي رضي الله عنه ته فرمایي: که یو انسان ستا په لاس هدایت شي؛ دا تا ته تر دې ډېر غوره دئ چې دا زمکه د سرو زرو وي، ستا په واک کې وي او ته ئې د الله په لار کې وقف کړې!! دا اسلامي صف او د هغه د مشرتابه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت کي بایـد دا ځانګړتیـا او خصوصیت بـارز او ځلانـده وي او پـه دې اړه د دوی تلوسه بايد د حرص تر پوړي لوړه او پیاوړې شي، زعيم ئې بايد داسي څوک وي چـي د ځلو مؤمنـو همسـفرو او همسنـګرو پـه اړه ئې زړه سوی، مينه او پېرزوينه دومره وي لکه د يوه مهربان پـلار مينه له خپل صالح اولاد سره، د دوی تربيـې او روزنـي تـه بايـد جـدي توجـه او اهتمـام ولري، د و ړو وړو اشتباهاتو پـه وجه ئې له ځلي خـوا ونـه ر ټـي، او د سخت زړو پـه څېر ورسـره چلنـد ونـه کـړي، قـرآن د پيغمـبر عليـه السـلام پـه اړه فرمايي:

ëÈ ƒÌm Ó§Ïã $B ìøã î†ƒÍã Nà6 Å§÷R& ôÏB Ñ^ qß‘ Nà2 ä!` ô‰s)s9

التوبه: ۱۲۸ ÇÊÊÑÈ Ò§Ïm§‘ Ô$râäu‘ šúüÏZÏB÷sßJø9$$Î/ Nà6 øn

يقيناً چي تاسو ته ستاسو له منځه داسي پيغمبر درغی چي پر ده هر هغه څه ګران تمامېږي چي تاسو ځوروي، ستاسو پر (هدايت او لارښووني) حريص دئ او د مؤمنانو په اړه ډېر زړه سواند او مهربان.

د درد او مسئوليت دغه احساس، د خلکو د هدايت او لارښووني ژوره تلوسه، د مؤمنانو په اړه زړه سوی او مهرباني همغه دروند پېټی جوړ کړی وو چي د پيغمبرعليه السلام پر اوږو ئې داسي دروندوالی کاوو چي نږدې وه د دې اولوالعزم پيغمبر ملا ماته کړي.

همدا راز فرمايي:

É÷ŠÏ‰ysø9$# á‹Îî $Îù ¨M÷Yä. ö@yd ùŠ¯9 ¨MZÏ.«ŠI$ `ÏB 7JÎûù‘ $JÎù

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÍÐF $’Î Ñèdó $©r Ñç ÿóGö $ Ñèã B ã $ 7 ïqm ôB {qÒÿR w

ÇÎÈ û,Ïj qG3 $ = ïã ©$bÎ « $’?ã @qGù M Ð•ã #Œfù

آل عمران: ۱۵۹

نو د خپل رب د رحمت په وجه ورته نرم شوې او که ته بدخولی او سخت زړی وی، نو ستا له شا و خوا به خواره شوي وو، نو دوی ته عفو وکړه، بخښنه ورته وغواړه او په کارونو کي مشوره ورسره کوه، او چي عزم دي وکړ بیا خو په الله توکل وکړه، یقیناً چي الله توکل کوونکي خوښوي.

## ۱۰. حساس ضمیر

داسي حساس ضمیر چي د ظلم، فساد او گناه په لیدو سره وپارېږي، د انحرافاتو په وړاندي ساکت او بې تفاوته پاته کېدا او بې اعتنائي ونشي زغملی، د مظلوم او محروم انسان په لیدو سره ئې زړه سوی او ترحم تحریک شي او د هر محتاج انسان لیدنه په هغه کي د مسؤلیت احساس راوپاروي، د مظلوم مرستي ته ئې چمتو کړي او د اړ او محتاج انسان لاس نیوي ته ئې وهڅوي، دا د یوه صالح او مؤمن لاربښود بله ځانگړتیا ده چي قرآن ئې زموږ په وړاندي د پیغمبر علیه السلام په شخصیت کي داسي انځوروي:

... ÷Ð Ïã $B ïøã î/Îã ... التوبه: ۱۲۸

څه چي تاسو ځوروي پر ده گران تمامېږي،

یعني د هر هغه حالت په لیدو سره متأثر او غمجن کېږي چي خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوروي او له کړاو سره ئې مخامخ کوي، دا د ځان مسئولیت ګڼي چي خلک له دې حالته وژغوري. قرآن دغه صفت د موسی علیه السلام په شخصیت کي په دوو مواردو کي داسي انځوروي:

È‚#ã ‘ $kŽÏi ‰_qù $gÎ=÷d& ôÏB 7's#øÿxî Èû÷ün=ã_u‘ Èb$t=ÏGtFø)tƒ

`Ï‰»yd `ÏB ¾ÏmÏGyèŠÏ© #x‹»yd ur ô`ÏB ¾Ínir߉tã ( çmrä$tótGó™$$sù "Ï%©!$# `ÏB

¾ÏmÏGyèŠÏ© 'n?tã "Ï%©!$# ô`ÏB ¾Ínir߉tã ¼çnx.uqs3sù 4Óy›qãB 4Ó|Ós)sù Ïmø‹n=tã (

القصص: ١٥ tA$s% #x‹»yd ô`ÏB È@yJtã Ç`»sÜø‹¤±9$# ( ¼çm¯RÎ) Arßtã @ÅÒB ×ûüÎ7B ÇÊÎÈ

او په داسي حال کي ښار ته ننوت چي استوګن ئې غافل (د شپې یا غرمې په خوب ویده) ول، ناڅاپه ئې دوه سړي ولیدل چي په خپلو کي په جګړه بوخت دي، دا یو ئې د ده د ډلي او دا بل ئې د ده له دښمنانو څخه، نو هغه چي د ده له ډلي څخه وو د هغه چا په خلاف ئې د مرستي نعره وروکړه چي دښمن ئې وو، نو موسی څپېړه ورکړه او په همدې سره ئې د هغه کار پای ته ورساوو (مړ ئې کړ)، وئې ویل: دا د شیطان کړنه وه، یقیناً چي هغه څرګند بې لاري کوونکی دښمن دئ.

په داسي حال کي چي دغه مهال موسی علیه السلام د شاهي کورنۍ غړی ګڼل کېدو، له ځانګړي احترام او عزت نه برخمن وو، خو چي ښار ته ننوځي او دا صحنه ګوري چي یو ظالم قبطي پر یوه مظلوم بني اسرائیلي تېری کوي، وهي ئې او هغه له ده نه د مرستي غوښتنه کوي، خو موسی علیه السلام خپل اجتماعي مقام ته په پام سره له دې صحنې په بې اعتنائي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشي تېرېدی، حساس ضمیر او قوي عاطفه ئې دې ته نه پرېږدي چي مخ بلي خوا ته واړوي او په بې اعتنائي سره له هغه ځایه تېر شي، عدم مداخله او له مظلوم سره مرسته نه کول د خپل ایمان او غیرت منافي ګڼي، وروړاندي کېږي، له مظلومه دفاع کوي، داسي دفاع چي د ظالم قبطي په مرګ پای ته رسي.

قرآن ورپسې هغه صحنه زموږ مخي ته ږدي چي موسی علیه السلام له دې پېښي وروسته له مصره تښتي، د مدین په لور خوځي، له څو شپو ورځو مزل وروسته په مدین کي د یوه څا په غاړه شپانه ګوري چي راغونډ دي او خپلي رمې خړوبه کوي، ستړی ستومانه دئ، د یوې وني سیوري ته کښېني، د یوه ډاډمن پناځي په لټه کي دئ چي د فرعون له تعقیبه خوندي شي، ناڅاپه ئې سترګي پر دوو نجلیو لګېږي چي له شپنو لري، یوې ګوښې ته حیراني ولاړي دي او خپله رمه ساتي، د هغوی پرېشاني ئې دې ته اړ کوي چي ورشي او ترې وپوښتي چي د پرېشانۍ سبب ئې څه دئ او ولي د رمې راوستو ته اړي شوې؟ هغوی ورته وایي: تر څو نور شپانه خپلي رمې خړوبه نه کړي او له دې ځایه ولاړ نشي؛ موږ نشو کولی خپلي رمې ته اوبه ورکړو، پلار مو بوډا دئ، بل څوک د رمې د پاللو او پیایلو لپاره نه لرو، موسی علیه السلام د څا خوا ته ځي، له خپلي ټولي ستړیا او ستوماني سره سره په یوازي سر له څا دومره اوبه راباسي چي د هغو دوو پرېشانو نجونو رمه پرې خړوبه شي، بېرته د وني سیوري ته درومي او خپل رب ته دا دعاء کوي: اې زما ربه! ستا هغو پېرزوینو ته اړ او محتاج یم چي پر ما دي کړې وې؛ او د دعاګانو منونکی رب د هغه دعاء قبلوي او ډاډمن پناځی ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

برابروي، همدا نجوني خپل پلار ته قصه کوي، هغه ئې ورغواړي او د ده د قصې له اورېدو وروسته ورته وايي: بې غمه اوسه؛ نور نو د ظالمانو له منګولو ژغورل شوی يې.

## ۱۱. فصاحت

فصاحت او د ژبي طلاقت هم د مشرتابه لپاره يو ضروري صفت دئ، فصاحت يوازي يو کمال او هنر نه دئ؛ بلکي د انشراح صدر، فهم او بصيرت، روښانه ذهن او ژور فکر نښه او د انسان د عقيدې او قول تر منځ د تنسيق او يووالي مظهر دئ، ځوک چي رغنده او سالم افکار نه لري حتماً به ئې وينا مبهمه او غامضه ومومئ، مخاطب ته به تصنعي برېښي، تر اغېز لاندي به ئې نه ځي، د زړه او دماغ دړه به ئې نه ورته پرانيستل کېږي.

قرآن د دې ضروري صفت د يوې بېلګي په توګه د موسی عليه السلام دا وينا رااخلي چي پر رسالت د مبعوثېدو په مهال ئې وکړه او وئې ويل: زه د دې منصب او مأموريت لپاره وړ نه يم؛ ځکه فصاحت نه لرم، تر ما هارون (عليه السلام) غوره دئ، ځکه هغه تر ما افصح دئ، قرآن فرمايي:

Ÿw& bqãd Pq% ÇÈ ûüÜÎ@$Pq)ßSMøŠÈ ó› qã 7/‘ 3“ Š$R ßr

Ÿwr “ Íô¹ ß‹Ô ƒr ÇÈ ÈqèÉ3ãb& $%{ bÎ) É ‘ A$% ÇÈ bqã)Gƒ

b& $%{'ù ÒŒ ¥?ã Nçr ÇÈ brãd 4Î @Åö'ù ’Î$¡ ÏßÚZƒ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه مهال چې ستا رب موسی ته غږ کړ چې د دې ظالم قوم لوري ته راشه، د فرعون قوم ته، آیا (د خپل ظلم له بدو پایلو) نه وېرېږي؟، وئې ویل: اې زما ربه! زه وېرېږم چې دروغجن به مې وګڼي، سینه مې تنګېږي، ژبه مې (سمه) نه خوځېږي، نو د هارون لوري ته (دا رسالت) ولېږه، او د دوی پر ما د یوې ګناه (الزام) دئ، وېرېږم چې وبه مې وژني.

په دې مبارکو آیتونو کې د مشرتابه څو ضروري صفات په ګوته شوي:

الف: د لارښود او مشر د شخصیت او د ده د دعوت او مبارزې په اړه د خلکو اعتماد او باور، موسی علیه السلام په دې دلیل ځان د دې مقام لپاره وړ نه بولي چې ګمان کوي بني اسرائیل به ئې په دې دلیل ونه مني او د ده په اړه به شک وکړي چې دی د فرعون په قصر کې ستر شوی، د زعامت او قیادت شوق او تلوسه ئې له هغه ځایه ترلاسه کړې، د فرعون په قصر کې پاته کېدا دې ته هڅولی چې د قوم مشر او لارښود شي، داسې نه چې دغه انګېرنه د دې باعث شي چې بني اسرائیل د ده بلنې او دعوت ته د شک په سترګه وګوري او له ایمان راوړو ډډه وکړي.

ب: هغه سعهٔ صدر او پراخه حوصله چې موسی علیه السلام ئې د زعیم لپاره ضروري ګڼي، په خپل زړه او سینه کې نه مومي او له همدې امله ځان د مشرۍ لپاره مناسب نه بولي.

ج: فصاحت او په صراحت او وضاحت سره د خپل زړه خبره کول، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library
د مشرتابه لپاره هغه ضروري صفت دئ چي موسی علیه السلام هغه ته په پام سره هارون علیه السلام تر ځان د دې دندي لپاره غوره او ور بولي.

د: اقتدار ته د رسېدو تلوسه نه درلودل او د لاس ته راوړو هڅه ئې نه کول، د اسلام له نظره قدرت ته د رسېدو هڅه حرامه او ناروا ده، ځوک چي امارت ته د رسېدو هڅه وکړي د الله تعالی له تأیید او رعایت نه محرومېږي او الله تعالی ئې خپل نفس ته حواله کوي، د پیغمبر علیه السلام قول او فعل ښیي چي مسلمانان باید هغه ځوک د امیر په توګه غوره نه کړي چي اقتدار ته د رسېدو هڅه کوي، د موسی علیه السلام په پورتنۍ قصې کي هم موږ ته همدا لارښوونه شوې، موسی علیه السلام داسي معرفي شوی چي غوښتل ئې د امارت پېټی د ده پر اوږو بار نشي او د ده پر ځای هارون علیه السلام ته وسپارل شي.

هـ: د مشر او کشر، د امیر او رعیت او د داعي او مخاطب تر منځ د اعتماد او افهام او تفهیم فضاء د قیادت لپاره یو بل ضروري شرط دئ، قرآن د موسی علیه السلام د قصې په ترځ کي موږ ته همدا وایي او د موسی علیه السلام د دې وینا په ضمن کي ئې موږ ته بیانوي چي هغه وویل: د قبطي د قتل په وجه زما او د قبطیانو تر منځ د اعتماد او باور فضاء له منځه تللې، د دوی له لوري د قتل تور به د دې باعث شي چي زما بلني ته مثبت ځواب ونه وایي.

کله چي موسی علیه السلام؛ د عجز او ناتوانۍ له اظار سره سره؛ په دې ستري دندي ګمارل کېږي او علیم او حکیم رب هغه د دې منصب وړ ګڼي، نو الله تعالی ته داسي دعا کوي چي په ضمن کي ئې ټول هغه ضروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړتیالوي ترې غواړي چې د قیادت لپاره زیات ضروري دي او موسی علیه السلام ځان ورته اړ او محتاجه ګڼلو، فرمایي:

`Ï Z‰ ÿã Ôèm$r ÇÌÈ “ Ìx þÍ Žô‰r ÇÊÈ “ ÍÍ ¹ ’Í ‹y ŽõÅ$Ê ‘ A$%

brãd ÇÌÈ ’Íd& ôÏ #‰ƒ-r ’k@èô $r ÇÎÈ ’Íq% (qß)ø/ ÇÍÈ ’Î$ ¡ )

7 sÎm èÕ1 ÇÌÈ “ Ìx þÎ qãõ &r ÇÌÈ “ Íø ÿÎ Šß ô$ÇÌÈ ÓÅ&

۳۵ - ۲۵ :طه ÇÌÈ #ŽÅ / $ZÎ M Zä 7 RÎ ÇÌÈ #Ž•Ï . 8•äõRr ÇÌÈ #ŽÏ.

وئې ویل: اې زما ربه! سینه مي راته پراخه کړې، کار مي راته آسانه کړې، د ژبې غوټې مي پرانېزې، چې په وینا مي پوه شي، له خپل ټبر نه مي وزیر او مرستندوی راته وټاکه، ورور مي هارون، په هغه سره مې مړوند پیاوړی کړه او په کار کې ئې راسره شریک کړه، تر څو زیاته تسبیح دې ووایو او ډېر دې یاد کړو، یقیناً چې ته مو حال ته ښه لیدونکی (په حال مو ښه خبر) یې.

له دغو آیتونو نه اندازه لګولی شئ چې قرآن د اسلامي ټولني د زعیم او مشر د مواصفاتو په اړه څومره تفصیلي او دقیق بحث کړی، که دې ته ورته آیتونه او هغه چې په ترڅ کې ئې د غیر اسلامي ټولني د زعماوو ځانګړتیاوې په کې څېړل شوې راغونډ کړو؛ نو یقیناً چې پربړ او ضخیم کتاب ترې جوړېږي، زموږ دوست همدرد صاحب ته یوازې هغه نه صفات په نظر ورغلي چې شاه ولي الله رحمه الله راغونډ کړي، لومړی ئې (بلوغ) او وروستنی ئې (قریشیت)!!.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تتمه**

زه له زړه نه د ښاغلي محمد ایوب همدرد قدر کوم چې د دې رسالې د لیکلو زحمت ئې ایستلی، مطالعه ئې ورته کړې، کتابونه ئې ورته لیدلي او د علماوو نظریات ئې راغونډ کړي، مخصوصاً له دې پلوه چي دا رساله ئې په پښتو لیکلي، نه پوهېږم چي ده به خپلي زده کړي په کوم ځای او ښنګه تعلیمي مرکز کي کړې وي خو د طالبانو په لیکو کي په پښتو کي څه لیکل د لیکوال د ذاتي استعداد، کمال او زیار ښبه ګڼل کېږي، دا ځکه چي زموږ د هېواد په کلیوالو مخکنیو مدرسو کي چي چا زده کړي کړې دي نه په پښتو سم لیک لوست کولی شي او نه په فارسي، د عربي په صرفي او نحوي قواعدو به ښه پوهېږي، خو په عربي نه څه لیکلی شي او نه خبري کولی شي، د دغو مدرسو نصاب داسي دئ چي پښتو، فارسي، تاریخ او جغرافیه نه په کي لوستل کېږي، د حدیث له کتابونو نه یوازي مشکوٰة لولي او هغه هم د تبرک لپاره، په تفسیرونو کي د جلالین مختصر تفسیر لولي خو د صرف او نحوي د تمرین لپاره او هغه هم د درسونو په پای او لویه دوره کي، بخاري نه لوستل کېږي دا ځکه چي امام بخاري رحمه الله له امام ابوحنیفه رحمه الله سره اختلاف درلود، قاعدهٔ بغدادي، صرف، نحو، شرح مأته عامل، خلاصهٔ کیداني، قدوري، کنز، عقاید نسفي، منطق ... د دغو مدرسو عمده او اساسي کتابونه دي، په دې نصاب کي د صرف او نحوې څو ابتدائي کتابونه او د فقهې څو مختصر کتابونه، د یونان د زړې او تاریخ وهلې فلسفې او منطق په څنګ کي لوستل کېږي، هغه فلسفه او منطق چي نه د چا د دنیا په درد خوري او نه د آخرت، خو پدغو مدرسو کي همدا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږه لوېدلې فلسفه او منطق تر ټولو نورو مضامینو مهم ګڼل کېږي.
پیغمبر علیه السلام خو ابو ذر غفاری، بلال حبشي، صهیب رومي او سلمان فارسی ته هم د قرآن درس ورکولو؛ پداسي حال کي چي نه په لیک لوست پوهېدل، نه ئې صرف او نحوه او د یونان فلسفه او منطق لوستلی وو!! خو متأسفانه یو وخت زمونږ په محلي او کلیوالو دیني مدرسو کي د قرآن له تدریس سره سخت مخالفت کېدو او هغه عالم ته به ئې د شک په سترګه کتل چي د قرآن تفسیر او د احادیثو تدریس به ئې کولو، که به چا په لویه دوره کي د قرآن تدریس جائز ګڼلو نو هلته به هم په قرآن کي نحوه لوستل کېده او تر هر څه زیات به په نحوي تحقیق ترکیز کېدو!!

کاش طالبانو د خپل اقتدار په دوران کي یو جامع تعلیمي نصاب جوړ کړی وی، مدرسه او مکتب ئې سره مدغم او یو واحد تعلیمي نظام ئې رامنځته کړی وی، دا کار دومره ستر او مهم دئ چي د طالبانو د دنیا او آخرت لپاره کافي وو، متأسفانه ځیني کسان په دې نه پوهېږي چي دا دوه بېل بېل تعلیمي نظامونه د استعمار د وخت پاتې شوني دي او د دښمن له لوري پر مسلمانانو تحمیل شوي، د ملا او مکتبي د جنګولو لپاره، د ملا د تحقیر او سپکاوي لپاره، د دې لپاره چي له مدرسې نه باید د جومات داسي امام فارغ شي چي په هر څه کي خلکو ته محتاج وي، د خلکو دراوزو ته په ودرېدو مجبور وي، ډوډۍ، جامه او معیشت ئې د وظیفو، صدقاتو او خیراتونو له لاري تأمین شي، خو له مکتب نه به والي او وزیر وځي، معاش، کور او موټر به دولت ورکوي، د شرعیاتو له پوهنځي نه به قاضي وځي او د حقوقو له پوهنځي نه ولسوال او څارنوال، موږ غواړو دا حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پای ته ورسوو، تر دولسم پوري باید په ټولو زده کوونکو یو عام او مشترک نصاب ولوستی شي، په دې ګډ نصاب کي هم باید د دیني علومو کافي برخه وي او هم د ساینسي علومو او د تاریخ، جغرافیې او ضروري ژبو مناسبه او اړینه برخه، له دولسم نه وروسته باید د تخصص دوره پیل شي، چي په دې دورې کي به ځیني د دیني علومو پوهنځیو ته ځې، ځیني طب، انجنیري، زراعت او نورو پوهنځیو ته، د حقوقو په نامه هغه پوهنځی چي غربي حقوق په کي لوستل کېږي، دا باید د شرعیاتو په پوهنځي کي مدغم شي، هلته به غربي حقوق یوازي له اسلامي حقوقو سره د مقارنې لپاره لوستل کېږي.

په دې سره به د ملا او مکتبي تر منځ اختلاف د تل لپاره پای ته ورسېږي، موږ غواړو مکتب او مدرسه سره توحید کړو او د هېواد لپاره واحد تعلیمي نظام او واحد تعلیمي نصاب ولرو، داسي چي ډاکټر، انجنیر، والي او څارنوال مو په دین پوه وي او د جومات امام مو په ساینس او ورځنې علومو، مکتبي د ملا په اړه ونه وایي چي بې علمه او له دنیا بې خبره دئ او ملا د مکتبي په اړه ونه وایي چي بې دینه او ملحد دئ. له مکتب او پوهنتون سره حساسیت، له تعلیم او تربیې نه د نجونو محروموول، د مکتب او مدرسې د توحید او د یوه جامع تعلیمي نصاب د جوړولو په ځای پداسي مدرسو او نصاب ټینګار چي نه د طالب آخرت ښېرازه کولی شي او نه دنیا، نه د قرآن، حدیث، اسلامي تاریخ، د هېواد تاریخ، لیک او لوست ښودنه په کي کېږي او نه د ورځني ژوند د ضروري علومو زده کړه، ... دا ستر ستر اشتباهات دي چي ځیني پرې اخته دي او عواقبو ته ئې متوجه نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په پای کې ټول مخلص مسلمانان، هغه چې د اسلام او مسلمانانو په روان دردناک حالت ځوریږي، د اسلام عزت او غلبه او د مسلمانانو سرلوړي غواړي، په آزاد او مستقل افغانستان کې واقعي اسلامي نظام قائمول ئې د ژوند او مبارزې اصلي هدف دئ؛ دې ته رابلم چې یو بل ته د ورورۍ لاس ورکړي، په ګډه د دښمنانو مقابله وکړي، د راتلونکې اسلامي نظام د څرنګوالي په اړه په خپلو کې توافق وکړي، دا ژمنه وکړي چې هغه مسلمان امیر به مني او په اخلاص سره به بیعت ورسره کوي چې د افغان ولس اکثریت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي، اقتدار ته د رسېدو لپاره به د مسلمان په ضد وسله نه کاروي، د امارت لپاره به یوازې یوه لار شرعي او جائز ګڼي چې هغه د مسلمانانو له لورې څرګند او بلااکراه بیعت دئ، له نورو لارو به قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوي، داسې حالت به راولي او داسې افغانستان به راتلونکې نسل ته په میراث پرېږدي چې په هغه کې به اقتدار د ولس امانت ګڼل کېږي، واکمنان به د شریعت تابع او د خلکو په خدمت کې وي، اقتدار به نه د چا منصوصي حق ګڼل کېږي او نه موروثي حق، هیڅ واکمن به نشي کولی چې مطلق العنان دیکتاتور ترې جوړ شي، له ولس سره داسې معامله وکړي لکه له خپلو غلامانو او اسیرانو سره او په بیت المال کې هر راز تصرف د ځان مسلم حق وګڼي، داسې نظام چې په هغه کې د اقتدار لاس ته راوړو لپاره نه یوه مرمۍ وویشتل شي او نه یوه قطره وینه توی شي.

موږ ټولو مجاهدینو ته وایو چې سخته او اوږده جګړه په مخکې لرو، د نړۍ ټول کفري ځواکونه زموږ په ضد متحد شوي، منافقین او روافض ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په خوا کي ودرېدلي، د اسلامي نړۍ منافق او مفسد حکام ئې هم ملګرتیا کوي، سفر اوږد وګنئ او له لوړو ژورو ډک، یوازي د الله تعالی په فضل او پېرزوینه او په خپلو کي د یووالي په صورت کي دا اوږد سفر پلي کولی او سرمنزل ته رسېدلی شو، مه پرېږدئ چي مخکنۍ ترخې تجربې تکرار شي، د غلطو سیاستونو او ناسمو دریځونو په وجه مسلمانان په خپلو کي ښکېل شي او یو د بل په ضد له کافر نه مرستي غوښتو ته ځان اړ وګڼي او همغه څه وشي چي نن ئې په خپل هېواد او د نړۍ په ډېرو نورو اسلامي هېوادو کي په خپلو سترګو ګورو!! الهي له دې حالته تا ته پناه درولوړو!

سُبْحَانَكَ اللّهُمّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إلاّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**